RUSI

Funded by the European Union

www.rusi.org

د Whitehall رپوټ

# د طالبانو او IS-K په استخدام کې د جنسیت رول

## تحول موندونکي تمایلات

Lucy van der Kroft، Sonya Merkova او Horia Mosadiq



د Whitehall 3-23 رپوټ (Whitehall Report 3-23)

**په دفاع او امنیت کې 192 کاله خپلواک تفکر**

د شاهي متحده خدماتو انستیتوت (Royal United Services Institute, RUSI) د نړۍ یوه تر ټولو زړه او د بریتانیا یوه مخکښه دفاعي او امنیتي فکر خونه ده. د دې ماموریت د یوې خوندي او لا زیاتې ټیکاو لرونکې نړۍ په اړه اګاهي ورکول، تر اغېز لاندې راوستل او د عامه مناظرو پیاوړتیا ده. RUSI یوه څېړنیزه موسسه ده چې د نن ورځې د پېچلو ننګوونو د هوارولو لپاره خپلواک، عملي او نوښتګرانه تجزیه او تحلیل وړاندې کوي.

په 1831 کال کې د هغه له رامنځته کېدو وروسته، RUSI د خپلو فعالیتونو د ملاتړ لپاره پر خپلو غړو باندې تکیه کړې ده. RUSI د خپلو څېړنو، خپرونو او کنفرانسونو د عاید له لارې خپله سیاسي خپلواکي د 192 کلونو لپاره ساتلې ده.

دا خپرونه د اروپايي ټولنې (European Union) په مالي ملاتړ سره تولید شوې ده. د دې مطالبو مسوولیت یوازې د لیکونکي پر غاړه دی او د اروپايي ټولنې (European Union) لیدلوری نه منعکسوي.

© 2023 اروپايي کمېسیون (European Commission 2023 ©). ټول حقونه خوندي دي.

په 2023 کال کې د دفاعي او امنیتي څېړنو لپاره د سلطنتي متحده خدماتو انستیتوت (Royal United Services Institute for Defence and Security Studies) له خوا خپور شوی

د RUSI Whitehall 3-23 رپوټ، اکتوبر 2023. ISSN 1750-9432

د ټوک انځور: Associated Press / عکس Alamy Stock

**د دفاعي او امنیتي څېړنو لپاره**
د سلطنتي متحده خدماتو انستیتوت (Royal United Services
Institute for Defence and Security Studies)
Whitehall
London SW1A 2ET
United Kingdom
+44 (0)20 7747 2600
www.rusi.org
RUSI یوه ثبت شوې خیریه (شمېره: 210639) اداره ده

Funded by
the European Union

# منځپانګه


| | |
|---|---|
| **اجرائیوي لنډیز** | **1** |
| **سریزه** | **4** |
| د پروژې میتودولوژي | 6 |
| تعریفونه او اصطلاحګاني | 8 |
| د معلوماتو راټولولو لپاره محدودیتونه او ننګوني | 10 |
| **I. په افغانستان کې د جنسیت اصول او تمې** | **11** |
| عزت او اطاعت | 13 |
| **II. د VEO ګډون** | **16** |
| د 2021 له اګست راهیسې د طالبانو په بالفعل واکمنۍ کې د ښځو ونډې. | 18 |
| په IS-K کې د ښځو ونډه | 20 |
| **III. د VEO جلب او جذب** | **24** |
| د دیني زده کړې ونډه | 24 |
| د 'غیر متشددو' ډلو ونډه | 27 |
| د طالبانو جلب او جذب او تبلیغات | 29 |
| د IS-K جلب او جذب | 32 |
| په توندلارۍ او جلب او جذب کې زیاتېدونکي تمایلات | 34 |
| د جنسیت پر بنسټ د تبلیغاتو روایتونه | 36 |
| **پایله** | **45** |
| سپارښتنې | 46 |
| **د لیکوالانو په اړه** | **48** |

# اجرائیوي لنډیز

د 2021 کال د اګسټ په میاشت کې واک ته د طالبانو په رسېدلو سره یو وار بیا دا اندېښنې را وټوکېدلې چې افغانستان به بیا د افراطي زورګرو موسساتو (VEOs) په پټنځای بدل شي. یو له دې ځانګړو اندېښنو څخه، د خراسان ولایت اسلامي دولت (Islamic State Khorasan Province, IS-K)، د اسلامي دولت (Islamic State, IS) سیمه ییزه څانګه ده، چې د طالبانو هم پوځي او هم ایډیالوژیک دښمن ګڼل کېږي. د افغانستان بالفعل چارواکي د IS-K د له منځه وړلو په لټه کې دي، خو دا ډله لا شتون لري او په تبلیغاتي برخه کې ډېر زیات فعال دي.

IS-K په افغانستان کې په مخامخ توګه د ښځو او نجونو د استخدام په برخه کې ډېر د پام وړ دی. د 2022 کال د ډیسمبر په میاشت کې د IS-K یوې خپروني له بهرنۍ ښځو وغوښتل تر څو له هغوی سره د یو ځای کېدو په خاطر افغانستان ته سفر وکړي او څرګنده کړې یې وه چې هڅه کوي هغه بریا بیا تکرار کړي کوم چې IS له 2013 تر 2019 کال پورې سوریې ته د ښځو او نجونو د سفر کولو په برخه کې تر لاسه کړې وه. له دې سره چې د افغانستان پراخ توپیر لرونکي شرایط په دغه کچه استخدام ناشونی کوي، خو د IS-K ډلې ته د ښځو او نجونو د استخدام لپاره د جنسیتي تبلیغاتي کمپاینونو پوتانشیل د اندېښنې وړ دی.

د ښځو بالقوه ملاتړکوونکو ته د IS-K لاسرسی په افغانستان کې د جنسیت او له زورزیاتي ډک افراطیت (VE) اړوند دود شوو برداشتونو سره په تضاد کې دي؛ په دې هېواد کې زیاتره خلک پر دې اند دي چې ښځې پرته له هغه دودیزو دندو چې له کورنۍ څخه ملاتړ دی د VE په برخه کې هېڅ رول نه لري. د VE په اړه څېړنې ډېر کم د ښځو نوم اخلي خو هغه هم د قرباني په توګه او په افغانستان کې د فعالو VEOs د جنسیتي مشرح تجزیه او تحلیل ډېر کم ده. دا په داسې حال کې ده چې ښځو په افغانستان کې په VEOs کې بېلابېل رولونه لوبولي دي او جنسیت په هېواد کې د VEO د ایډیالوژي او تبلیغاتو یوه اصلي ځانګړنه ده؛ د بېلګې په توګه، د استخدام په موادو کې د افغان ښځو د ناموس او پت د ساتنې یا غچ اخیستنې لپاره احساساتي بلنې لیدل کېږي، په داسې حال کې چې له دې ډلې سره د یو ځای کېدو لپاره زیاتره هغو خلکو ته د ښځو د ورکړې ژمنې ورکول کېږي. له VE سره د مبارزې لپاره د اغېزناکو تګلارو تدوین د هغو لارو چارو لا غوره درک ته اړتیا لري په کوم کې چې VEOs د نارینه او ښځو تر منځ د هغوی د ملاتړو د استخدام او تحریک لپاره د جنسیت نورمونه او د واک اړیکې تصریح کوي.

د Whitehall ریپوټ (Whitehall Report) په افراطي روایتونو او په افغانستان کې د VE د ګډون او د جنسیت د رول په اړه د یوې څېړنیزې پروژې موندنې خلاصه کوي. دغې پروژې په VE کې د ښکېلتیا په اړه د ټولنیزو نورمونو اغېز، د افغانستان په VEOs کې د نارینه او ښځو بېلابېلو رولونو او د هغوی د استخدام په برخه کې د کاریدونکو بېلابېلو میتودونو ته کتنه کړې ده. د دغې موضوع اړوند شته اطلاعاتو ته په کتو سره، دا پراخې موضوعګانې د یوې بنسټیزې څېړنې د رامنځته کولو په موخه چې د لا زیاتې څېړنې لپاره پراخې برخې په ګوته کوي، تر څېړنې لاندې ونیول شوې. اصلي موندنې عبارت دې له:

- که څه هم زیات شمېر ځواب ورکوونکو په لومړي سر کې دا څرګنده کړه چې ښځې په عمل کې په VEO کې هېڅ رول نه لري پرته له کورني دودیزو ملاتړیزو رولونو څخه، خو ژوره څېړنه ښیي چې هغوی یو بل ډول مسوولیتونه پر غاړه اخیستي دي. که څه هم په زورزیاتي کې د ښځو مخامخ ونډه یوه نادره خبره معلومېږي، خو هم ځواب ورکوونکو او هم شته څېړنو دا بربنډه کړې ده چې ښځې د مالي مرستو په را ټولولو، د بریدونو د موقعیت په پېژندنې، د سپکو وسلو د کارولو په زده کړې، استخدام او تبلیغ کې ښکېلې دي.
- د کورنۍ د مالي ملاتړ او ساتنې اړوند توقعات له VEOs سره د نارینه وو د یو ځای کېدو او د دې کار د تر سره کولو لپاره د خپلوانو پر ښځو باندې د دې کار اغېز تر ټولو مهم دلیل ګڼل کېږي. د ځواب ورکوونکو له انده دا موضوع د زیاترو نارینه لپاره تر مذهبي ملاحظاتو غوره ده. برعکس، داسې تصور کېده چې ښځې له VEO څخه د ملاتړ یا ورسره یو ځای کېدو په خاطر زیاتره د مذهبي ایډیالوژۍ تر اغېز لاندې وي.
- د رپوټ څېړونکو رپوټ ورکړی چې د ښځو لپاره په مدرسه کې زده کړه د 2010 کال له نیمایي لسیزې نه را وروسته د پام وړ وده موندلې او د 2021 کال د اګسټ په میاشت کې واک ته د طالبانو په رسېدو سره یې د پام وړ چټکوالی موندلی دی. که څه هم ټولې مدرسې له تاوتریخوالي نه ډکې ایډیالوژۍ نه تبلیغوي، خو ځواب ورکوونکي په دې هوکړه وه چې هغه کسان کوم چې پخوا یې افراطي ایډیالوژي درلوده، هغوی د IS-K د استخدام لپاره تر ټولو اسانه هدف وي او د مذهبي تلقین همدې څپې په پام وړ سره د معاصر راډیکالیزم پر رامنځته کولو باندې اغېز ښندلی دی. سربېره پر دې، د 2021 کال د اګسټ په میاشت کې واک ته د طالبانو له رسېدو وروسته د مدني ټولنې د غږ خاموشه کېدل په دې معنی ده چې اوس مهال د VE ایډیالوژیو لپاره هېڅ موازنه نشته.
- د مخ پر زیاتېدونکې لیک لوست، تکنالوژۍ ته لاسرسی او په کور کې د زنداني کېدو او د طالبانو له خپلو زیاترو اساسي حقونو څخه محرمیت، ښایي ځینې ځواني ښځې د IS-K پر خوا ور ټېله کړي. د څېړنې ګډون والو ځانګړې اندېښنې مطرح کړې چې په تاوتریخوالو نه لرونکو خو راډیکال (چې په پخواني دولت کې یې د سازمان دهي او د خپل سازمان د تبلیغ لپاره یې د پام وړ امکانات لرل) ډلو کې فعالې ښځې ښایي د VEO له نورو سازمانونو سره د یو ځای کېدو له امله د طالبانو محدودیتونو ته غبرګون وښیي. د IS نورو ډلو سره وروستیو تجربو ته په کتو چې د ملګرتیا او انلاین شبکو له لارې یې د نویو غړو د تر لاسه کولو لپاره د راډیکال ښځو پوتانشیل ثابت کړی دی، د VEO د فعالیتونو په ستره ټولګه کې د ځینو افغان ښځو د ګډون لیدلوری ممکن ښکاري.
- په انلاین فضا کې هم طالبان او هم IS-K ډېر فعال دي او له هغو پیغامونو څخه چې په ځانګړې توګه ښځې هدف نیسي، کار اخلي. IS-K خپل ځان سره د ښځو د پیوستون او له دې ډلې څخه د هغوی د ملاتړ د جلبولو لپاره له انلاین تبلیغاتو څخه کار اخلي. په ورته وخت کې، داسې ښکاري چې طالبان له هغو ښځو او نارینه وو څخه چې ځانونه ښځې معرفي کوي، په انلاین فضا کې د ښځو د حقونو د مدافعانو پر وړاندې کاروي. دا هڅې د اسلام ضد او افغانیت ضد ټاپو وهلو له لارې د مخالفو ښځو د مشروعیت ځپلو لپاره کارول کېږي.

دا څېړنیزې موندنې تاییدوي چې د VEO لارې چارې د خپلو موخو د پر مخ وړلو لپاره له جنسیتي تبعیضي محرکونو او محرومیتونو څخه کار اخلي. نړیوال پالیسي جوړونکي د همدې چارې له پېژندلو څخه ځان تېروي. واک ته د طالبانو له رسېدو را وروسته د ښځو د فعالیت

بندیدل چې ورسره جوخت د ښځو د حقونو او ازادیو په څېلو سره یې زیاتوالي موندلی دی، په افغانستان کې ترې IS-K ګټه خیستې ده. VEOs له هغو ادعاګانو څخه چې ګواکې افغان ښځې تر ګواښ لاندې دي او مرستې ته اړمنې دي، ګټه اخلي تر څو بالقوه ځواکونه استخدام کړای شي او سیمه ییز ملاتړ تر لاسه کړي؛ په داسې حال کې چې VEOs وروسته بیا له همغو ښځو څخه د خپلو ګټو لپاره کار اخلي.

دغه رپوټ د پالیسۍ جوړونکو او ډونرانو لپاره سپارښتنه کوي تر څو هغه عملي تدابیر چې د تبلیغاتو د تکثیر له مخنیوي او د VEO له استخدام سره مرسته کوي، وړاندې کړي. د بېلګې په توګه، په سیمه ییزو ژبو باندې پر انلاین تبلیغاتو څارنه باید یوه واضح جنسیتي برخه ولري، تر څو یې له امله هغه پیغامونه چې ښځې او نجونې هدف نیسي په ځانګړې توګه سره تعقیب، ارزونه او تر غور لاندې ونیول شي.

# سریزه

د 2021 کال د اګست په میاشت کې له افغانستان څخه د US په منډه وتل، دا خبرداری رامنځته کړ چې افغانستان به یو ځل بیا د یو شمېر افراطي تاوتریخجنو سازمانونو (VEOs) په مرکز واړو. په دغو ډلو کې نه یوازې طالبان، بلکې د هغو ډلو پېچلې شبکه ده چې له هغوی سره اوږه په اوږه جنګیدلي دي او هغه ډلې چې د هېواد له اوسنیو حاکمانو سره مخالف دي. د دویمې ډلې په اړوند، د US د وتلو په وروستیو ساعتونو کې د ورانوونکې بمې چاودنې له امله چې په کې 170 افغانان او 13 د US سرتیري ووژل شول، په هېواد کې د طالبانو د سیال د خراسان ولایت اسلامي دولت (IS-K) د اسلامی دولت (IS) سیمه ییزې څانګې شتون برجسته کړ.[1]

د 2022 کال په ډیسمبر کې، د IS-K یوې خپرونې له ښځو وغوښتل تر څو له دغې ډلې سره د یو ځای کېدو په خاطر افغانستان ته سفر وکړي. که څه هم د افغانستان جغرافیه او ټولنیز-کلتوري شرایط دا کار د IS-K لپاره ناشوني کوي چې وکولای شي د سوریې په څېر د ښځو، نارینه او هلکانو او نجونو په استخدام کې د IS بریا تکرار کړي، خو دا بیا هم یوه خبرداری ورکوونکې اوازه ګڼل کېدای شي. IS له خپل ورانوونکې خلافت سره د ښځینه او نارینه سرتیرو د یو ځای کولو لپاره له جنسیتي تبلیغاتي موادو څخه ګټه پورته کړه.[2] وروستي تبلیغاتي مواد ښیي چې IS-K په افغانستان کې د همدې موضوع د تعقیب په لټه کې دی.

د IS-K له خوا د ښځو د استخدام په خاطر د هغوی هدف ګرځول، د افغانستان په شرایطو کې د جنسیت او له تاوتریخوالي نه ډک چلند (VE) په اړه دودیزې فرضیې له ننګوونې سره مخامخ کوي؛ چېرې چې ښځې زیاتره یوازې د VEOs هدف او قرباني لیدل کېږي. شواهدو ښودلې ده چې ځینې ښځې له طالبانو یا IS نه ملاتړ کوي، که څه هم ښایي دا خبره د ځینو بهرنیانو لپاره له منطق څخه لرې خبره واوسي؛ په داسې حال کې چې نور زیات یې د کورنۍ د فشارونو له امله په ناغوښتونکي توګه په VEOs کې ښکېلې دي. [3] په افغانستان کې له VEOs سره د یو

1. ‘U.S. Defense Secretary Recalls “Horrific” Attack At Kabul Airport On Second Anniversary’، *RFE/RL*، 26 اګست 2023، <https://www.rferl.org/a/afghanistan-kabul-airport-anniversary-austin-islamic-state/32566071.html>، د کتلو نېټه 27 سپټمبر 2023.
2. دا چاره په منځني ختیځ کې د جنسیت او VE په اړه د خپرل شوو مقالو د یوې خزانې لامل ګرځیدلې ده. د همدې موضوع په اړه په سویل ختیځه اسیا کې هم زیات شمېر څېړنې تر سره شوي دي. ته Elizabeth Pearson او Emily Winterbotham، 'Women, Gender and Daesh Radicalisation'، *RUSI Journal* (ټوک 162، شمېره 3، 2017)، مخونه 60-72؛ Joana Cook او Gina Vale، ‘From Daesh to “Diaspora”: Tracing the Women and Minors of Islamic State’، ICSR، 2018؛ Ester Strommen، ‘Jihadi Brides or Female Foreign Fighters? Women in Da’esh – From Recruitment to Sentencing’، GPS Policy Brief 1، PRIO Centre on Gender Peace and Security، 2017، <https://www.prio.org/publications/10546>، د کتلو نېټه 27 سپټمبر 2023؛ Katherine E Brown et al.، *Conflicting Identities: The Nexus Between Masculinities, Femininities and Violent Extremism in Asia* (بانکوک: UNDP/UN Women، 2020)، <https://www.unwomen.org/en/digital-library/publications/2020/03/conflicting-identities-the-nexus-between-masculinities-femininities-and-violent-extremism-in-asia>، د کتلو نېټه 27 سپټمبر 2023؛ Jacqui True او Sri Eddyono، ‘Preventing Violent Extremism – What has Gender Got to Do with It? Gendered Perceptions and Roles in Indonesia’, *European Psychologist* (ټوک 26، شمېره 1، 2021)، مخونه 55-67. ته مراجعه وکړئ.
3. Borhan Osman، *Bourgeois Jihad: Why Young, Middle-Class Afghans Join the Islamic State* (Washington, DC: United States Institute for Peace, 2020).

ځای کېدونکو نارینه وو د فردي انګیزې په اړه پراخې میداني څېړنې تر سره شوې دي، خو دا موضوع ډېره کمه د جنسیت له اړخه څېړل شوې ده – که څه هم جنسیتي روایتونه په افغانستان کې په VEO ایډیولوژۍ کې اصلي عناصر ګڼل کېږي.[4]

تر څېړنې لاندې د همدې محرکه څواکونو د لا غوره درک لپاره، د Whitehall رپوټ (Whitehall Report) څېړنیز فعالیتونه او د پروژې موندنې په افراطي روایتونو کې د جنسیتي نابرابرۍ د ونډې د څرنګوالې څېړنه او په افراطي زورزیاتي کې ګډون را لنډوي. په افغانستان کې د همدې موضوع اړوند د شته محدودو څېړنو له امله، د همدې څېړنې موخه د یو لړ پراخو مسئلو د څېړنې تر څنګ له هغې ډلې د ټولنیزو نورمونو اغېز په VEOs کې پر ګډون، هغه بېلابېل رولونه چې نارینه او ښځې یې د افغانستان په VEOs کې تر سره کوي او د هغوی د استخدام بېلابېلې لارې چارې، د موضوع په اړه د اساسي معلوماتو وړاندې کول دي.

د VE د څېړنې لپاره له جنسیتي زره بین څخه ګټه اخیستل، د هغو پوښتنو د پوښتلو په معنی ده چې ښځې او نجونې د نارینه وو هلکانو په سترګه وینې. په څو مهمو استثناوو سره،[5] دا چاره په افغانستان کې د VE په څېړنې پورې محدوده ده. جنسیتي تجزیه او تحلیل نه یوازې ښځې او نارینه بلکې د هغوی تر منځ اړیکې او پر جنسیتي نورمونو باندې حاکم ټولنیز توقعات چې د VEO له خوا د هغوی له استخدام او ګټې اخیستنې سره مرسته کوي، تر غور او څېړنې لاندې نیسي. د هر ډول تاوتریخجنو زورزیاتیو د مخنیوي یا ورسره د مقابلې د تدوین لپاره، باید د همدې محرکونو په اړه زیات معلومات ولرو.[6]

د VE د څېړنې لپاره د جنسیتي تجزیې او تحلیل نه ګټه اخیستل کولای شي په افغانستان کې د پېچلې وضعیت د اړخونو له روښانتیا سره مرسته وکړي، ګڼې همداسې به پاتې وي.[7] Phoebe Donnelly استدلال کوي چې کله «څېړونکې، پالیسي جوړونکې او فعالان، جنسیتي محرکونو ته پام وکړي، نو د واک، هویت او اړیکو په اړه تازه لیدلوري تر لاسه کولای شي».[8] همداشان، هغه وایي چې «څېړونکې نه شي کولای د زورزیاتي نه د ډک تاوتریخوالي له جنسیتي بعد نه

4. Belquis Ahmadi او Sadaf Lakhani، 'Afghan Women and Violent Extremism: Colluding, Perpetrating, or Preventing?'، USIP، نوامبر 2016، مخونه 2-4، <https://www.usip.org/sites/default/files/SR396-Afghan-Women-and-Violent-Extremism.pdf>، د کتلو نېټه 27 سپټمبر 2023.
5. د بېلګې په توګه ووینئ، Ahmadi او Lakhani، 'Afghan Women and Violent Extremism'؛ Osman، *Bourgeois Jihad*؛ Merriam Safi، 'Afghan Women and CVE: What are their Roles, Challenges and Opportunities in CVE?'، in Naureen Chowdhury Fink، Sara Zeiger او Rafia Bhula (eds)، 'A Man's World? Exploring the Roles of Women in Countering Terrorism and Violent Extremism'، Hedayah and Global Center on Cooperative Security، 2016، <https://www.globalcenter.org/wp-content/uploads/2016/07/AMansWorld_FULL.pdf>، د کتلو نېټه 27 سپټمبر 2023؛ Katja Mielke او Nick Miszak، 'Making Sense of Daesh in Afghanistan: A Social Movement Perspective'، BICC Working Paper 6، 2017، <https://www.bicc.de/publications/publicationpage/publication/making-sense-of-daesh-in-afghanistan-a-social-movement-perspective-715/>، د کتلو نېټه 27 سپټمبر 2023.
6. Emily Winterbotham او Elizabeth Pearson، 'The Radical Milieu: A Methodological Approach to Conducting Research on Violent Extremism'، RESOLVE Network، 1 مۍ 2020، مخ. 5، <https://doi.org/10.37805/rve2020.4>، د کتلو نېټه 27 سپټمبر 2023.
7. True او Eddyono، 'Preventing Violent Extremism'، مخ 65؛ Phoebe Donnelly، 'Demystifying Gender Analysis for Research on Violent Extremism'، RESOLVE Network، 21 جنوري 2021، <https://doi.org/10.37805/rve2021.2>، د کتلو نېټه 27 سپټمبر 2023.
8. Donnelly، 'Demystifying Gender Analysis for Research on Violent Extremism'، مخ 2.

سترګي پټې کړي؛ ځکه چې VEOs د جنسیت اهمیت درک کوي او د جنسیت اړوند نظریات په خپله ګټه کاروي».[9]

په مشخصه توګه د افغانستان د قضیې په اړه، یو جنسیتي لینز کولای شي دا روښانه کړي چې ټولنیز نورمونه څرنګه د یوه نارینه شاوخوا کورني مسوولیتونه هغه دې ته ور سیخوي چې له یوه VEO سره یو ځای شي، ان که چېرې داسې کومه ځانګړې مذهبي لېوالتیا هم و نه لري؛ یا دا چې څرنګه یوه ښځه چې د طالبانو د سرټکوونکو تګلارو له مخې ټکول کېږي، ښایي د IS-K پر تبلیغاتي پیغامونو باندې باور وکړي کوم چې ورته وایي چې که له IS-K سره یو ځای شوئ نو مسلمانو ښځو ته به له ورکړل شوو «بشپړو» حقونو (له هغې ډلې زده کړې ته لاسرسی چې د طالبانو له خوا پرې بندیز لګېدلی دی) څخه برخمني شئ.

# د پروژې میتودولوژي

دغه رپوټ د څېړنې هغه فعالیتونه له ځانه سره لري چې د EU له خوا تمویل او د RUSI له خوا مدیریت شوي دي. د همدې څېړنیزې پروژې تمرکز پر دې دی چې جنستي نابرابروالی څرنګه په افغانستان کې له افراطي روایتونو او له افراط ډک زورزیاتي کې له ګډون سره مرسته کوي. په افغانستان کې په VE کې د ښځو د رول په اړه ډېره کمه څېړنه او علمي-څېړنیز اثار او دا چې څرنګه جنسیتي ټولنیز-کلتوري توقعات په VEOs کې د هغوی د ګډون او ملاتړ په غوره کولو کې مرسته کوي، شتون لري. د همدې تمایلاتو د لا غوره درک لپاره، RUSI یو لړ څېړنیز مطالعات تر لاس لاندې ونیول.

د پروژې دغه برخه درې څېړنیزې پوښتنې مطرح کوي چې د همدې رپوټ د دریو څېرکو د بحث موضوع هم ده:

1. جنستي ټولنیز-کلتوري نورمونه او توقعات څرنګه په VEOs کې د ښځو او سړو د ګډون له دلیل سره مرسته کوي؟
2. د VE د ګډون والو په توګه سړي او ښځې کوم رولونه تر سره کوي؟
3. د VEOs د استخدام او تبلیغاتي روایتونو ستراتیژي څرنګه د نارینه وو او ښځینه غړو په وړاندې توپیر لري؟

څېړنیز فعالیتونه د کیفي معلوماتو د را ټولولو پر دوو میتودونو باندې متمرکز و: ژوره نیمه جوړښت بندي شوې مصاحبه؛ او ډله ییز متمرکز بحثونه (FGDs). لیکوالو له 34 کسانو (23 نارینه او 11 ښځینه) سره مصاحبې وکړې؛ 19 کسان د افغانستان ډیاسپورا (له هېواد نه لرې افغان کډوال) او 15 کسان په افغانستان کې و. له کومه ځایه څخه چې جنسیتي تجزیه او تحلیل د ښځې او نارینه د تجربو څېړنې او همداشان د هغوی تر منځ د واک مناسباتو ته اړتیا لري، نو څېړونکي باید له دواړو سره خبرې وکړي. څلور FGD ټولټال له 55 کسانو (24 نارینه او 31 ښځینه) سره تر سره شوې؛ یوه په استانبول، یوه په لندن او دوه په انلاین بڼه تر سره شوې. د

9. *Ibid.*

FGD زیاتره ګډون والو له افغانستان نه بهر ژوند کاوه او څلور کسه یې په افغانستان کې دننه له هغې ډلې له کابل او هرات څخه له انلاین FGD سره هم یو ځای شول.

د مصاحبه شوې کس ژبنې مهارتونو ته په کتو سره، مصاحبې په دري یا انګریزۍ ژبه تر سره شوې. دري مصاحبې بیا د اصلي څېړونکي یا یوه مسلکي ژباړن له خوا په انګریزۍ وژباړل شوې. یوه FGD په انګریزۍ ژبه او پاتې په دري ژبه خو په ورته مهال ژباړې سره تر سره شوې. په دري ژبه د FGD ګانو تر سره کېدل، څېړونکې د دې جوګه وګرځول تر څو له پراخې کچې خلکو سره مشوره وکړي نه یوازې له یو محدود شمېر کسانو سره چې پر پېچلو موضوعګانو باندې په انګریزۍ ژبه خبرې کولو باندې راحت و.

په دې رپوټ کې ښکېلې دري څېړونکې ټولې ښځې دي (یوه افغانه، یوه بلغاریایي او یوه هم انګریزه). د ښځینه څېړونکو کارول همدې څېړونکو ته دا شونې کړه چې هم ښځو او هم نارینه وو سره مصاحبې وکړي.[10] په داسې حال کې چې ښایي د څېړونکو جنسیت د ځینو نارینه ګډون والو پر ځوابونو باندې اغېز کړی وي (لاندې د پلویټوب ټولنیز مرغوبتیا اړوند یادښت ته مراجعه وکړئ)، خو د همدې موندنو مثلث بندي لپاره، څېړونکو له ګڼو نارینه او ښځینه متخصصینو سره مصاحبې وکړې چې د VE په برخه کې یې پراخې او ګڼې څېړنې تر سره کړې وې.

د FGD په مصاحبه شوو کسانو او ګډون والو کې خبریالان، دیني علما، د مدرسو (مذهبي مدرسو) ښوونکي، د دولت مخکني چارواکي، د مدني ټولنې غړي، د ښځو د حقونو فعالان، محصلین، د پوهنتون ښوونکي او څېړونکي شامل وو. ګډون وال د کابل، پنجشیر، پروان، بامیان، وردک، بلخ، هرات، لوګر، غزني او زابل له ولایتونو څخه راغلي وو. په افغانستان کې مېشت مصاحبه کېدونکي کسان ټول په کابل کې وو. ګډون وال د هغوی د تخصصي ډګرونو له مخې (د بېلګې په توګه د VEOs په اړه د څېړنې د تر سره کولو، د VEO د قربانیانو څخه د ملاتړ په برخه، جنسیتي تخصص) او/یا په هغو ټولنو یا کورنیو کې د ژوند د تجربو د لرلو له مخې ټاکل شوي وو چې مخامخ له VE نه اغېزمن شوي وو. مصاحبې او FGD ګانې د 2023 کال د فبرورۍ او اپریل میاشتو تر منځ تر سره شوې.

پوښتنلیکونه چې 14 پرانیستي پوښتنې یې درلودې د څېړنې د پوښتنو له مخې ترتیب شوې او هم په مصاحبو او هم په FGD کې وکارول شول. دا پوښتنلیک تر یوه بریده پورې په افغانستان کې دننه مصاحبو لپاره یو څه بدل شو، تر څو د طالب چارواکو له خوا د مصاحبه کېدونکو کسانو لپاره د رامنځته کېدونکي خطر نه مخنیوی وشي. لیکوالو د مصاحبې او FGD د یادښتونو د محتوایي او موضوعي جوړښت تجزیه او تحلیل تر سره کړ.

د ګډون والو په ټاکنه کې، د RUSI د «ټولنیز چاپېریال» له کارکړنې نه پیروي وشوه؛ دا کارکړنه د VE د راډیکال کېدو په اړه د اصلي اطلاعاتو ته د لاسرسي ننګوونو ته په غبرګون کې فورمول بندي شوې وه او په تېره بیا د راډیکال کسانو سره د مصاحبو ستونزې ته په کتو سره.[11] د ټولنیز چاپېریال میتودولوژي د هغه برخې یا چاپېریال اهمیت چې په کې راډیکال کېدل

10. له کلتوري اړخه له یوه افغان نارینه سره د یوې ښځې مصاحبه له یوې افغانې ښځې سره د یوه نارینه تر مصاحبې پورې ډېر کم بحث پاروونکی کار ګڼل کېږي.
11. Winterbotham او Pearson، «راډیکال چاپېریال (The Radical Milieu)».

تر سره کېږي، په پام کې نیسي؛ له VE نه اغېزمني تولنې کولای شي د نارضایتی د عواملو په اړه مهم جزئیات یا د VEOs په اړه د اغېزمنو محرکو کړو وړو عوامل په پام کې نیسي. سربېره پر دې، د تولنیز چاپېریال کارکړنه د دې لپاره طراحي شوې ده تر څو تصدیق کړي چې د VE له خوا غېزمن شوې تولنې اړین پوهه لري او هغوی ته د دې وړتیا ورکړو چې د مباحثو لپاره همدا معلومات شریک کړای شي.

په یوه مناسب اکاډمیک چاپېریال کې د همدې څېړنې د راوستلو لپاره، څېړونکو په افغانستان کې د جنسیت او VE په اړه د پخواني اکاډمیک علمي-څېړنیز اثار او په همدې توګه د جنسیت او VE په اړه پخواني علمي-څېړنیز اثار په پراخ مفهوم سره وڅېړل. په داسې حال کې چې د څېړنې لپاره د کافي فضا د نشتوالي اړوند ستونزو دلته د شته پخوانیو علمي-څېړنیزو اثارو د بشپړې څېړنې اجازه نه ورکوي، خو په اړوند رپوټ کې تولې شته څېړنې تر بحث لاندې نیول شوي او ورته رجوع شوې ده. د لا زیاتو معلوماتو د وړاندې کولو په افغانستان کې د جنسیت او VE په اړه د پخوانیو علمي-څېړنیزو اثارو د نشتوالي له امله، لیکوالو د دودیزو رسنیو، تولنیزو رسنیو او خړو اثارو (هغه مطالب او څېړنې چې د سازمانونو له خوا تر سره کېږي خو په علمي او پوهنتوني ژورنالونو کې نه خپرېږي) په کارولو سره، په افغانستان کې د جنسیت او VE په اړه کتابتوني څېړنې هم تر سره کړلې. که څه هم دا موضوع له 2001 کال راهیسې د US په مشرۍ په افغانستان کې د لاسوهنې پر دورې باندې متمرکزه وه، خو په 2014 کال کې د IS-K په رامنځته کېدو باندې یې ټینګار درلود. همداشان، څېړونکو د IS-K د خپرونو په ګډون تبلیغاتي مواد او د طالبانو له خوا د هغوی د بغاوت په دوره کې لېږل شوي ګوابنلیکونه را ټول کړي وو

## تعریفونه او اصطلاحګانې

د پوهنتون په کچه او د تګلارې جوړونې په غونډو کې د افراطیت، VE او د راډیکالیزه کېدو اړوند مفاهیمو په اړه پراخ بحثونه شوي دي.[12] د همدې څېړنې په مقصد، VEOs عبارت له هغو سازمانونو څخه دي چې د ملکیانو پر وړاندې یې له زورزیاتي څخه د خپلو افراطي ایډیالوژیکو یا سیاسي موخو د تعقیب لپاره کار اخیستی وي. دغه څېړنیزه پروژه له 2001 راهیسي دورې باندې متمرکزه ده؛ له همدې کبله هغه اصلي ډلې چې په افغانستان کې د همدې تعریف تر چتر لاندې راځي هغه طالبان او IS-K دي.

دغه رپوټ هغه دوره چې طالبانو د یوې وسله والې یاغې ډلې په توګه فعالیت کاوه (2003-2021) او هم هغه دوره چې د 2021 کال د اګست له میاشتې وروسته دا ډله په زور واک ته ورسېده، تر بحث لاندې نیسي. په دغه رپوټ کې، د هغو اقداماتو په اړه د خبرو کولو پر مهال چې له دویم مورد (یعنې واک ته له رسېدو وروسته) تر سره شوي دي، له هغوی (طالبانو) څخه د «بالفعل چارواکو» په توګه یادونه شوې ده. دا یوه دودیزه اصطلاح ده او هغو وسله والو ډلو

12. د بېلګې په ډول، J M Berger، 'Researching Violent Extremism: The State of Play'، RESOLVE Network، جون 2019، <https://resolvenet.org/system/files/2019-09/RSVE_RVESeries_ResearchingViolentExtremism-TheStateofPlay_JMBerger_June2019.pdf>، چې په 28 سپټمبر 2023 ورته لاسرسی شوی؛ Alex P Schmid، 'Defining Terrorism'، د تروریزم ضد نړیوال مرکز (International Centre for Counter-Terrorism)، مارچ 2023؛ <https://www.icct.nl/sites/default/files/2023-03/Schmidt%20-%20Defining%20Terrorism_1.pdf>، چې په 28 سپټمبر 2023 ورته لاسرسی شوی، ګورئ.

ته ويل کېږي چې سره له دې چې په نړیواله کچه په رسمیت نه دي پېژندل شوي، خو یو هېواد په عمل کې اداره کوي.

په دغه رپوټ کې، راډیکال کېدل د «یوې افراطي ایډیالوژۍ پر وړاندې یوه غیرخطي، انعطاف منونکي او زیاتره فردګرایانه تدریجي ژمنې» ته ویل کېږي.[13] دغه تعریف د تاوتریخوالي او ناتاوتریخوالو افراطي ایډیالوژیو ته ویل کېږي چې دواړه په هغه چاپېریال پورې تړلې دي چې په کې په افغانستان کې د VE استخدام تر سره کېږي.[14]

ګډون والو په خپلو ټولنو کې له VE څخه د خپلو تجربو د بیانولو پر مهال، د ډلو، کسانو، خپلوانو او مذهبي مدرسو لپاره یو لړ کلیمات لکه «راډیکال»، «افراطي»، «سلفي» او «بنسټ پال» کارول، چې د هغوی په اند له اسلام څخه یې افراطي تفسیرونه تبلیغ یا افراطي کړه وړه یې تر سره کول. د دې ټولو اصطلاحاتو تعریفونه تر مناقشې لاندې دي، په تېره بیا په افغانستان کې چېرې چې د ایډیالوژۍ یا مذهبي عمل له مخې د کړو وړو «افراطی» ګڼلو په اړه بېلابېلو نظرونه شتون لري. د همدې رپوټ د مقصد لپاره، لیکوالو د مصاحبه شوو کسانو او FGD د ګډون والو له مخې د ډلو او کسانو د توصیف لپاره د اصطلاحاتو ترکیب کارولی دی. کله چې ګډونوالو د افرادو یا ډلو د 'افراطي'، 'سخت دریځي' یا 'سخت دریځي شویو' په اړه خبرې وکړې، نو له دې څخه د تل لپاره موخه دا نه وه چې هغوی په تاوتریخوالي کې نېغ په نېغه ښکېل وو، یا یې په فعال ډول له هغې څخه ملاتړ کاوه؛ د دې پر ځای ګډونوالو دا اصطلاحات د دې لپاره وکارول چې موخه یې ورڅخه دا وه چې خلکو ته د نه زغم د ایډیالوژۍ تلقین ورکړل شوی، د کومې مطلب چې دا دی چې هر چا چې د عقیدې په دې ځانګړې تشریح عمل نه کاوه، هغه 'حقیقي مسلمان' نه دی.

په دې راپور کې، له جنسیت څخه موخه 'په ټولنیز ډول د ښځو، نارینه وو، هلکانو، نجونو، او همدا راز غېر دوه ګوني جنسي پېژندګلو اړوند جوړه شوې پېژندګلو ده'. له جنسیت څخه موخه 'یوازې په ټولنه کې د نارینه او ښځې تر منځ اړیکې نه دي، بلکې په دې ټولنه کې د ښځمنتوب او نارینتوب اړوند جوړښت، ترتیب او د ځواک محرکاتو ته اشاره کوي'.[15]

13. Winterbotham او Pearson، 'The Radical Milieu'، مخونه 4–5.
14. د 'سخت دریځي' اصطلاح په افغاني لیدلوري کې په ځانګړي ډول ستونزه زېږوونکې بلل کېږي؛ په پخوانی څېړنه کې موندل شوې وه چې د طالبانو ډېری غړي د 'سخت دریځی' په پرتله په دقیق ډول د 'متحرک شویو' په توګه تشریح کېدای شي (په داسې حال کې چې هغه مهال ډېریو د طالبانو فعالیتونو ته په سختۍ سره له مذهبي نظره کتلو تلقین شوی و). په هر حال، په دې راپور کې سخت دریځي له بحث سره تړاو لري، ځکه چې د دې څېړنې توجه د VEOs د سختو نظریاتي تبلیغاتو په مټ د ملاتړو د جلب او جذب پر هڅو مرکوزه ده. Sarah Ladbury له Cooperation for Peace and Unity (CPAU) سره، 'Testing Hypotheses on Radicalisation in Afghanistan: Why do Men Join the Taliban and Hizb-i Islami? How Much do Local Communities Support Them?'، 14 اګسټ 2009، مخ.13-14 <http://www.afghandata.org:8080/xmlui/bitstream/handle/azu/17480/azu_acku_pamphlet_ds371_3_l333_2009_w.pdf?sequence=1&isAllowed=y>، په 28 سپټمبر 2023 ورته لاسرسی شوی؛ Reza Fazli، Casey Johnson او Peyton Cooke، 'Understanding and Countering Violent Extremism in Afghanistan'، USIP، 2015 سپټمبر، <https://www.usip.org/sites/default/files/SR379-Understanding-and-Countering-Violent-Extremism-in-Afghanistan.pdf>، په 11 اکتوبر 2023 ورته لاسرسی شوی.
15. Donnelly، 'Demystifying Gender Analysis for Research on Violent Extremism'، مخ. 4.

# د معلوماتو راټولولو لپاره محدوديتونه او ننګونې

په اصل کې دا پروژه د طالبانو له واک ته رسېدو مخکې طرحه شوې وه، او په ابتدايي بڼه کې به په افغانستان کې پکې ساحوي څېړنه شامله وای. د دې په تر سره کولو کې ناکامۍ دا پروژه نوره هم ننګونکې وګرځوله، په ځانګړي ډول د افغانستان په داخل کې له ښځو سره د مرکې کولو په برخه کې، خو د ګڼو ولايتونو اړوند مختلف ډول خلکو سره مشوره کول شوني و. ليکوالانو همدا راز له هغو مرکه کېدونکو سره مشورې وکړې، چا چې خپله د افغانستان په بېلا بېلو برخو کې د VE اړوند موضوعاتو په اړه ساحوي څېړنه کړې ده. په افغانستان کې د جنسيتي اصولو د نوعيت له امله، دا ډېر احتمال لري چې د VE په اړه کار کونکي افغان څېړونکي دې نارينه وي، کومو چې د ډېرو نارينه وو سره د مرکې کېدو په برخه کې مرسته وکړه.

په اوسني چاپېريال کې د افغانستان په اړه څېړنې ته بايد په ډېر احتياط سره رسېدګي وشي. بالفعل واکمن د بيان ازادۍ په اړه پراخه ناڅاپي بنديزونه لګوي، هغه ژورنالستان، فعالان، د پوهنتونونو استادان او د ولس غړي ګواښي، وهي او بنديانوي، چې د دوی پر واکمنۍ تبصره کوي او د دوی تبعيضي تګلارې تر پوښتنې لاندې نيسي. که څه هم د افغانستان په داخل کې پاتې شويو خلکو سره مشوره کول مهم و، تر څو ډاډ تر لاسه شي چې بېلا بېل نظريات اورېدل شوي، خو لومړيتوب دا و چې له دې څېړنې څخه چاته د زيان رسېدو خطر نه وي. د اغېزو د خطر د کمولو لپاره، تليفوني مرکې د خوندي کاريالونو په مټ تر سره شوې، او پوښتنې په بې پرې ډول مطرح کړای شوې. د ټولنيزې هيلې د تعصب پر عامې مسئلې سربېره، په هغه سياق او سباق چې دا څېړنه تر سره شوې ده، شوني ده چې د يو شمېر مرکه شويو پر ځوابونو، هغه سياق او سباق اغېز کړی وي، په کوم کې چې دا څېړنه تر سره شوې.[16] ټولو مرکه کېدونکو او د FGD ګډونوالو ته له برخه اخيستو مخکې د څېړنې د پروژې مجموعي معلومات وړاندې کړای شوي و او هغوی ته ويل شوي و چې خپل نظر د بې نومه په توګه کارولو لپاره خپله خوښه ورکړي

په VE کې د افغان مېرمنو د شاملېدو د تصور پر ضد، د يو شمېر ځواب ويونکو تر منځ مقاومت، د ښځمنتوب په نسبت د نارينتوب اړوند فعاليتونو کې د برخه اخيستلو په اړه د مېرمنو په اړوند د ممنوعاتو د شتون څرګندونه کوي. سره له دې چې دا اند چې مېرمنې په ميراثي ډول امن خوښې دي، دقيقې علمي څېړنې سره سمون نه لري، د افغانانو په منځ کې دا تاثر اوس هم خپور دی. د بېلګې په ډول، د FGD يو ګډونوالو ټينګار وکړ چې 'ښځې ډېرې سوله خوښې دي. په افغانستان کې به VEO کله هم ښځينه سخت دريځې جذب نه کړي'. [17] نورو ګډونوالو ټينګار وکړ چې د IS-K په خبر له VEO سره يواځې بهرنۍ تبعه مېرمنو تړاو درلود.

له دې ننګونو سره سره، مرکې او FGD د 2021 په اګست کې د طالبانو له واک تر لاسه کولو وروسته راهيسې تر اوسه اوضاع په اړه په ډېرو مهمو مفاهيمو رڼا اچولې ده.

---

16. له 'ټولنيز مطلوبيت تعصب' اصطلاح څخه موخه د ټولنيزو علومو په څېړنه کې د برخه اخيستونکو له خوا د داسې ځوابونو ورکولو ميلان دی، چې د هغوی په باور به يې مرکه کونکې تاييد کړي.
17. د FGD بې نومه ګډونوال، پر ليکه، 7 اپريل 2023.

# ا. په افغانستان کې د جنسیت اصول او تمې

په VE کې د ګډون په اړه د جنسیتي کردار د اغېز د ازموینې د پیل نقطې په توګه، دا څېرکی افغانستان کې د نارینه او ښځینه د چلند په اړه مهمو اصولو او توقعاتو بڼه وړاندې کوي، کوم چې د دې پروژې لپاره پر شوې څېړنې ولاړ دی. دا راپور ورکوي چې دا جنسیتي ټولنیزې کلتوري تمې څه ډول له دې سره مرسته کوي، چې ولې ښځې او نارینه د VEO ملاتړ کول انتخاب کولای شي، یا د کورنۍ د غړیو په مټ په بالواسطه ډول پکې شاملېدای شي.

په مرکو او FGD کې، ګډونوالو ګڼې لارې تشریح کړې، په کومو کې چې ټولنیزو اصولو د VEO پر چلندونو اغېز وکړ. که څه هم جغرافیه، ټولنیز اقتصادي حیثیت، عمر او بې شمېره نورو لاملونو له پلوه اصول تر ډېره بریده مختلف وي، خو افغان ټولنې په سختۍ سره د نارینه او ښځینه وو د مناسب چلند تمه لري. د افغانستان په ژور نارینه واکمن وضعیت کې، د نارینتوب په مهمو اصولو، په کومو چې ځواب ویونکو بحث کړی، کې زړورتیا، د کورنۍ او د کورنۍ د عزت ساتل او ګټیالی کېدل شامل دي.

د FGD یو ګډونوال د نارینتوب تمې په دې ډول لنډیز کړې: 'افغان ټولنه له نارینه وو تمه لري چې د کورنۍ او ټولنې د ارزښتونو د ساتلو لپاره پیاوړی او زوړر جنګیالی وي'.[18] په پخوانۍ څېړنه کې موندل شوې چې په افغانستان کې د نارینتوب په تعریف کې تاوتریخوالی په ټولنیز ډول مهم دی. [19] د لسیزو نا امنیو او شخړې په پایله کې د تاوتریخوالي ستاینه او د نارینه وو لپاره د جهاد د یو دستور په توګه متعارف کړای شوی دی. په ډېرو ټولنو کې، په کور او خپله ټولنه کې غالب او تهاجمي کړنو کې ښکېل نارینه د درناي وړ بلل کېږي، مېندې او ښځینه خپلوان د دا ډول نارینتوب ستاینه کوي.

له نارینه وو څخه یوه مهمه غوښتنه د کورنۍ امنیت او خوندیتوب دی. دا په نارینه وو ډېر فشار واردوي، د هېواد مخ پر بدلېدونکي سیاسي او اقتصادي حالت ته په کتني سره،[20] او مرکه کېدونکو موافقه کړې وه چې دا ډول تمو په VEOs کې د شاملېدو هڅونه کې مهمه ونډه درلوده.[21]

---

18. د FGD بې نومه ګډونوال، پر لیکه، 3 فبروري 2023.
19. بلقیس احمدي او رفیع الله ستانکزی، 'Redefining Masculinity in Afghanistan'، Peace Brief 243، USIP، فبروري 2018، <https://www.usip.org/sites/default/files/2018-02/pb243-redefining-masculinity-in-afghanistan.pdf>، په 28 سپټمبر 2023 ورته لاسرسی شوی.
20. د بلقیس احمدي، 'Afghan Youth and Extremists: Why are Extremists' Narratives So Appealing?'، Peace Brief 188، USIP، اګسټ 2015، مخ.2-3، <https://www.usip.org/sites/default/files/PB188-Afghan-Youth-and-Extremists.pdf>، په 28 سپټمبر 2023 ورته لاسرسی شوی، وګورئ.
21. د FGD بې نومه ګډونوال، پر لیکه، 3 فبروري 2023؛ د FGD بې نومه ګډونوال، استامبول، 21 فبروري 2023؛ د بې نومه ځواب ویونکي سره د لیکوال مرکه، ویډیو اړیکه، 15 فبروري 2023؛ د بې نومه ځواب ویونکي سره د لیکوال مرکه، ویډیو اړیکه، 15 فبروري 2023؛ د بې نومه ځواب ویونکي سره د لیکوال مرکه، ویډیو اړیکه، 22 فبروري 2023؛ د بې نومه ځواب ویونکي سره د لیکوال مرکه، ویډیو اړیکه، 1 مارچ 2023؛ د بې نومه ځواب ویونکي سره د لیکوال مرکه، ویډیو اړیکه، 7 مارچ 2023؛ د بې نومه

د معاشاتو او خوندیتابه یادونه عموماً په VEOs کې د شاملېدونکو نارینه وو د محرک په توګه کېږي. د 34 له منځه یو ویشت مرکه شویو په ځانګړي ډول، بې وزلي د یو مهم لامل په توګه یاده کړه چې نارینه ولې په VEOs کې شاملېږي. که څه هم وروستی څېړنه کې د ټولنیز اقتصادي حیثیت او ملکیانو پر ضد د تاوتریخوالي د ملاتړ د امکان تر منځ هېڅ اړیکه نه ده موندل شوې،[22] مخ پر خرابېدو اقتصادي وضعیت د نفوس یوه ستره برخه د بې کارۍ ښکار شوې بللي ده. په دې سیاق او سباق کې، خلک د بقا لپاره د ډېرو کمو اختیاراتو لرونکي دي او په ډېرې اسانۍ سره د VEOs له خوا له هغوی ګټه اخیستل کېدای شي.

یو مرکه شوي تشریح کړه چې څه ډول د وردګ په ولایت کې د لیسې د هغه یو پخوانی ټولګیوال، چا چې مخکې د افراطیت کومې ځانګړې ارادې نه وې ښودلې، د مخ پر زیاتېدونکي فیزیکي عدم امنیت له امله د طالبانو سره یوځای شو.[23] د متحده ایالاتو په مشرۍ له یرغل وروسته منځ ته راغلي بغاوت له امله مخ پر زیاتېدونکي تاوتریخوالی،[24] او تر څنګ یې د دوی په ولسوالۍ کې د قانون نیشتوالي، دا خلک اړ کړل چې د خپلو کورنیو د خوندیتوب د وسیلې په توګه له هغوی سره یوځای شي.

د نارینه وو د حیثیت تمه یا هیله هم د محرک په توګه تشریح شوې وه. مرکه کېدونکو دې حیثیت ته اشاره وکړه چې د VEO وسلو ته د ځوانانو رسېدل، یو موټرسایکل او دا احساس ورکول چې هغه 'یو څوک' دی.[25] یو مرکه شوي دا هم روښانه کړه چې ډېرو نارینه وو باید خپل ودونه ځنډولي وای – دا یوه بله لاره ده چې ټولنه کې خپل حیثیت لوړ کړي – چې لاملونه به یې اقتصادي وو.[26]

په داسې حال کې چې د مېرمنو په اړوند استازولي ډېره تر بحث لاندې نیول شوې ده، ګډونوالو د ځوانو نارینه وو په برخه کې هم د استازولۍ د کمښت په اړه بحث کړی دی. پر ټولنیزو تمو سربېره، افغان نارینه له کومې پوښتنې پرته د کورنۍ د مشرانو پر هیلو عمل کولو ته اړ دي. د FGD یو ګډونوال تشریح کړه چې هغه اړ کړای شوی و چې د طالبانو مدرسې ته ولاړ شي، تر څو له مرګ وروسته خپل پلار ته اجرونه راوړي؛ هغه وویل چې د هغه ډېر ټولګیوال هم د خپلو کورنیو د فشار له امله د هغوی د خوښې خلاف هلته موجود وو، چې ډېر ځله د نارینه مشرانو تر فشار لاندې وو.[27]

---

ځواب ویونکي سره د لیکوال مرکه، تلیفون، 12 مارچ 2023؛ د بې نومه ځواب ویونکي سره د لیکوال مرکه، تلیفون، 16 مارچ 2023؛ د بې نومه ځواب ویونکي سره د لیکوال مرکه، تلیفون، 18 مارچ 2023؛ د FGD بې نومه ګډونوال، پر لیکه 7 اپریل 2023.

22. Antonio Giustozzi، 'Attitudes Towards Violence in Urban Afghanistan Before the Taliban Takeover'، RUSI Emerging Insights، 11 اکتوبر 2022.

23. د بې نومه ځواب ویونکي سره د لیکوال مرکه، ویډیو اړیکه، 7 مارچ 2023.

24. په دې راپور کې 'بغاوت' د طالبانو بغاوت ته اشاره کوي چې د متحده ایالاتو په مشرۍ پر افغانستان له یرغل وروسته منځ ته راغله، کوم یرغل چې په 2001 کې د طالبانو د حکومت له نسکورولو وروسته پیل شوی و. د طالبانو په مشرۍ د بغاوت وده په 2003 کې پیل او په 2006 کې چټک شو.

25. M S Kimmel استدلال کوي چې نارینتوب یو داسې حیثیت دی چې د نورو له خوا ورکړل شوی دی. د M S Kimmel، 'Masculinity as Homophobia: Fear, Shame, and Silence in the Construction of Gender Identity' in P F Murphy (ed.)، *Feminism and Masculinities* (Oxford and New York, NY: Oxford University Press, 2004)، مخ. 186، وګورئ.

26. له بې نومه ځواب ویونکي سره د لیکوال مرکه، پر لیکه، 3 مارچ 2023.

27. د FGD بې نومه ګډونوال، استانبول، 21 فبروري 2023. نارینه او ښځینه ماشومانو ته عموماً د سرچینو په سترګه کتل کېدل، د دې پر ځای چې هغوی د خپل ژوند د لارې ټاکلو لپاره د استازولۍ لرونکي ازاد خلک وي. یو بل مرکه کېدونکي په هغو ټولنو کې ساحوي

# عزت او اطاعت

د ښځو لپاره، د ځواب ویونکو په منځ کې درک دا و چې د چلند تمې تر دودیزو دندو، د ښځو منل شوې پاکوالی او نارینه خپلوانو په تابع کېدلو تمرکز لري. د افغان مېرمنو په اړوند ټولنیز اصول او تمې د ټولنو تر منځ او په ټولنو کې مختلف دي، خو په پراخه پیمانه حالت دا دی چې د کورنۍ عزت د ښځو تر 'پاکوالي'، 'ښه چلند' او 'تشخص' پورې تړلی دی.[28] په ځانګړي ډول دا حالت د پښتنو په منځ کې دی، خو دا په نورو توکمیزو ډلو هم تر جلا جلا اندازو پورې پلې کېږي. [29] د ښځو د 'پاکوالي' په اړوند اصولو په پایله کې پر هغوی پراخه بندیزونه لګېدای شي: د دوی د ګرځېدو په ازادۍ؛ زده کړې ته لاسرسی، دنده او روغتیایي پاملرنه؛ د کالیو انتخاب؛ د کورنۍ له مستقیمو غړیو څخه د باندې خلکو سره خبرو کولو ازادي؛ او خدماتو ته لاسرسی

د ځېرنې ډېریو ګډونوالو باور درلود چې د اطاعت او تابعدارۍ د تمو مطلب دا دی چې د ښځو او نجونو اکثریت په ټولو برخو کې د خپل مېړه یا پلار پر پرېکړو عمل کولو ته اړ دي؛ که یو مېړه یا پلار له VEO سره د یوځای کېدو پرېکړه کوي، نو ځواب ویونکو وویل چې کومه ښځینه خپلوانه د دې په اړه هېڅ نه شي کولای. په دې اړه نظریات مخلوط و چې ایا ښځې کولای شي په نارینه ماشومانو اغېز ولري که نه. ځواب ویونکو وویل چې په پرتلیز ډول د ښځو یو کوچني اقلیت (په ځانګړي ډول ښاري ښځې چې ډېرې زده کړې یې کړې وي)، کېدای شي د خپلو زامنو پر پرېکړو تر یو بریده اغېز ولري، خو په ډېرو کلیوالو سیمو کې، ښځې په دې حالت کې نه دي چې خپل زامن په VEO کې له ګډون څخه منع یا هغوی نه ګډون ته وهڅوي. [30] د FGD یو ګډونوال ټینګار وکړ چې ډېرې کم سواده کلیوالي مېندې ان په دې هم نه پوهېږي چې ددوی زامن له داسې ډلو سره یوځای شوي دي.[31]

افغان ټولنه له دین (یا هغو کلتوري اصولو څخه چې د دین په توګه منل شوي دي) څخه ډېره اغېزمنه ده، خو د ځېړنې شپږو ګډونوالو په ځانګړي ډول د جنسیت اړوند ټولنیز اصول د یو پیاوړي کلتوري شخصیت په توګه تشریح کړل. [32] طالبان ادعا کوي چې خپل مشروعیت یې له خپلو دیني ماهرینو څخه تر لاسه کړی دی، خو یو شمېر ګډونوالو سخت ټولنیز اصول له پښتونولۍ څخه د سرچینه اخیستونکو په توګه تشریح کړل،[33] نا لیکل شوی خو منل شوی د

ځېړنه تشریح کړه، چېبرته چې پلرونه دا پرېکړه کوي چې د هغوی بچیان به له طالبانو سره یوځای شي، پوځ کې به شامل شي، پوهنتون ته به ځي، په کورني تجارت کې به کار کوي، او داسې نور. له بې نومه ځواب ویونکي سره د لیکوال مرکه، پر لیکه، 1 فبروري 2023.

28. د دې اصطلاحاتو تعریف د کورنۍ د مشرانو (نارینه او ښځو دواړو)، قومي اصولو او ټولنیزو اخلاقو اختیار دی.
29. د کلونو شخړو او راستنېدونکو افغان کډوالو، په ځانګړي ډول د پاکستاني محافظه کاره کلیو څخه، له خوا راوړل شویو ډېرو کلتوري او دودیزو ارزښتونو اغېزې هم په دې اصولو اغېز کړی دی.
30. احمدي او لاکاني، 'Afghan Women and Violent Extremism'، مخ. 6.
31. د FGD بې نومه ګډونوال، استانبول، 21 فبروري 2023.
32. د FGD بې نومه ځواب ویونکی، پر لیکه، 3 فبروري 2023؛ له بې نومه ځواب ویونکي سره د لیکوال مرکه، ویډیو اړیکه، 7 مارچ 2023؛ له بې نومه ځواب ویونکي سره د لیکوال مرکه، ویډیو اړیکه، 8 مارچ 2023؛ له بې نومه ځواب ویونکي سره د لیکوال مرکه، ویډیو اړیکه، 27 فبروري 2023؛ له بې نومه ځواب ویونکي سره د لیکوال مرکه، ویډیو اړیکه، 3 فبروري 2023؛ له بې نومه ځواب ویونکي سره د لیکوال مرکه، تلیفوني مرکه، 12 مارچ 2023. له ګډونوالو څخه په ځانګړي ډول د دې په اړه پوښتنه نه وه پوښتل شوې، بلکې دوی دا خپله راپورته کړې.
33. *Ibid*.

ویاړ او چلند قانون، کوم چې د پښتني ټولنې په منځ کې اغېزناک دي.[34] دا په ځانګړي ډول هغه حالت و، کله چې د طالبانو له خوا د ښځو د زده کړې او دندې تر سره کولو پر حقوقو د بندیزونو په اړه خبرې کېدې (د هغوی د بغاوت پر مهال او اوس د بالفعل واکمنو په توګه)، کوم چې د مرکزي لیکې اسلامي علماء په اسلام کې ښځو ته د ورکړل شویو حقوقو پر ضد بولي.[35] د IS-K تبلیغات د ښځو ناهیلیتوبونه د هغو بندیزونو په اړوند د استعمالولو هڅه کوي، کوم چې د طالبانو بالفعل واکمن پلي کوي، دلیل وړاندې کوي چې IS-K یوازینۍ ډله ده چې په اسلام کې ښځو ته د هغوی حقیقي حقوق ورکولای شي.

IS-K او غېر متشدد؛ خو افراطي ډلې هم د جنسیتي منلو وړ چلند په اړوند اصولو کې له بدلونونو څخه هم خبر دي. دې ډلو (په بریالیتوب سره) په هغو ټولنو کې د جلب او جذب کمپاین په نښه کړ، په کومو کې چې په پرتلیز ډول ښځو ته ډېره ازادي ورکړل شوې وه، او له همدې امله ډېر احتمال لري چې دوی ته مدرسې ته د تګ یا خپلو نږدې خپلوانو څخه دباندې خلکو سره د کتلو اجازه ډېره وي.[36]

د جنسیت اړوند د افغان ټولنیزې کلتوري تمې تر یو بریده رواني دي. کوم څه چې په ټولنیز ډول د منلو وړ و، د هغې درک د متحده ایالاتو په مشرۍ د یرغل کلونو په اوږدو کې کرار کرار پرانیستل شو (د بېلګې په ډول، لږ تر لږه په لویو ښاري سیمو کې، زده کړې ته د ښځو د لاسرسي او له کوره دباندې د کارکولو اړوند). د طالبانو له واک تر لاسه کولو وروسته دا پوهاوي یو ځل بیا بدل شول، چې شوني ده لامل یې د دې ډلې جابرانه او متشددې طریقې وي، کومې چې د ښځو پر حقوقو او ازادۍ سخت بندیزونه تحمیلوي. هغه کورنۍ چې مخکې د ښځو د حقوقو ملاتړې وې، اوس په څرګند ډول د طالبانو د بالفعل واکمنو د قوانینو په اغېزناکې طریقې سره په خپلو کورنیو کې پلي کوې، ځکه که د ښځو خپلوان د طالبانو بندیزونه ننګوي، نو حقیقي پایلې به نارینه وو ته ورسېږي.[37]

د 2022 په مۍ کې د طالبانو یو فرمان ته په اشارې سره، له کومو سره چې د دوی د ښځینه خپلوانو د کالیو د غوره کولو پر سر محاسبه کېږي، یو مرکه کېدونکي تشریح کړه چې: 'تاسو په کورنۍ کې نارینه وو ته ځواک ورکوئ. ان تر دې که یوه سرکښه ښځه د حجاب اغوستلو څخه انکار وکړي، او سزا ته چمتو شي، نو دا د نارینه وو د مسئولیت په ګرځولو سره، تاسو له هغې

34. د Lutz Rzehak، ‘Pashtunwali: Tribal Life and Behaviour Among the Pashtuns’، Afghanistan Analysts Network Special Report، 21 مارچ 2011، <https://www.afghanistan-analysts.org/en/special-reports/pashtunwali-tribal-life-and-behaviour-among-the-pashtuns/> وګورئ، په 28 سپټمبر 2023 ورته لاسرسی شوی.
35. د بېلګې په ډول لاندې مراجع وګورئ، *The National*، ‘Organisation of Islamic Cooperation Calls on Taliban to Reconsider Female Education Ban’، 29 دیسمبر 2022، <https://www.thenationalnews.com/world/asia/2022/12/29/organisation-of-islamic-co-operation-calls-on-taliban-to-reconsider-female-education-ban/>، په 28 سپټمبر 2023 ورته لاسرسی شوی؛ *VOA News*، ‘Muslim Scholars, Activists: Taliban Ban on Girls Education Not Justified’، 12 اپریل 2022، <https://www.voanews.com/a/muslim-scholars-activists-taliban-ban-on-girls-education-not-justified-/6526830.html>، په 28 سپټمبر 2023 ورته لاسرسی شوی.
36. د بې نومه ځواب ویونکي سره د لیکوال مرکه، ویډیو اړیکه، 2 فبروري 2023؛ د بې نومه ځواب ویونکي سره د لیکوال مرکه، ویډیو اړیکه، 28 فبروري 2023.
37. د بې نومه ځواب ویونکي سره د لیکوال مرکه، ویډیو اړیکه، 8 مارچ 2023.

ځخه د هغې استازولي اخلئ. مخکې تر دې چې هغه په عام ډول د قوانینو پر ضد د خپل مخالفت د ځرګندولو هڅه وکړي، هغه باید په کور کې وجنګېږي'.[38] د طالبانو لپاره، دا ډېره اغېزناکه لاره ده چې پر وګړو اغېز پیدا کړای شي او په ښځو او سړیو په غېر مستقیم ډول واک اعمال کړای شي. دا د دې لپاره هم یوه بېلګه ده چې د VEO نظریات څه ډول په خصوصي او ولسي دایره دواړو کې د ښځو پر ضد د تشدد لوړولو ورتیا لري.

38. *Ibid*.

# II. د VEO ګډون

که څه هم هغه کړنې د ډېرې څېړنې موضوع ده کومې چې په افغانستان کې نارینه په VEO کې تر سره کوي، خو د ښځو د ښکېلتیا په اړه معلومات ډېر کم دي. دا څېرکی په VEO کې د ښځو د عملي ونډې او د هغوی د ګډون د کچې په اړوند پر منځ ته راتلونکو پایلو تمرکز لري.

لومړی، ځواب ویونکو د طالبانو د بغاوت پر مهال د دودیزې مرستندوې ونډې څخه دباندې د ښځو د ډېرې محدودې ښکېلتیا خبر ورکړی دی.[39] دوی تشریح کړه چې طالبانو د ښځو د جلب او جذب کولو لپاره کوم منظم پروګرام نه درلود.[40] سربېره پر دې، مرکه کېدونکو وویل چې د طالبانو د ایډیالوژۍ مطلب دا دی چې دوی ښځو ته هېڅ ډول ولسي یا د مشرتابه دندې ورکولو په اړه غور نه کوي.[41] ان تر دې کله چې طالبانو نړیوالې ټولنې ته د دې باور ورکولو هڅه کوله چې دې ډلې د 2021 په اګست کې واک ته له رسېدو مخکې د 2010 په لسیزه کې د مذاکراتو پر مهال د ښځو په اړه خپل سخت دریځ بدل کړی و، هغه مهال یې هم په خپلو مذاکراتي ټیمونو کې د ښځو د شاملولو څخه انکار کړی و.[42]

په هر حال، رسنیو د طالبانو د بغاوت پر مهال د ښځو له خوا ډېر نبغ په نبغه فعالیت کولو لپاره ډېرو کمو پېښو خبر ورکړی و،[43] او طالبانو یاغیانو د هغوی اتحادي ډلو ښځینه ځانمرګي کارولي دي، که څه هم ډېرې کمې وې. په افغانستان کې د VE مطالعه، په افغانستان کې عموماً د ښځو له خوا یوازې دوه ځانمرګو بریدونو ته اشاره کوي – لکه چې د څېړنې ګډونوالو وکړل. له دوی څخه، د یوې ادعا طالبانو په 2010 کال کې کړې وه[44] او د بلې ادعا یې په 2012 کې[45] د حکمتیار د حزب اسلامي له خوا شوې وه، چې دواړه د بغاوت په موده کې وې. په هر حال، د رسنیو راپورنو ته له ژور نظر څخه معلومېږي چې له 2007 څخه تر اوسه د ښځو یا نجونو

39. له بې نومه ځواب ویونکي سره د لیکوال مرکه، ویډیو اړیکه، 2 فبروري 2023؛ له بې نومه ځواب ویونکي سره د لیکوال مرکه، ویډیو اړیکه، 22 فبروري 2023؛ له بې نومه ځواب ویونکي سره د لیکوال مرکه، ویډیو اړیکه، 27 فبروري 2023.
40. له بې نومه ځواب ویونکي سره د لیکوال مرکه، ویډیو اړیکه، 8 فبروري 2023.
41. *Ibid*؛ له بې نومه ځواب ویونکي سره د لیکوال مرکه، ویډیو اړیکه، 7 مارچ 2023.
42. یو مرکه کېدونکي، چې د 'سولې پروسې' پر مهال په مذاکراتو کې ښکېل و، راپور ورکړ چې قطري منځګړیو دوی ته ویلي و چې د بحثونو پر مهال د جنسیت مسئله په بشپړ ډول له منځه وړل شوې ده؛ مرکه کېدونکو ته سپارښتنه شوې وه چې ان د مېرمنو یادونه هم ونه کړي. د بې نومه ځواب ویونکي سره د لیکوال مرکه، ویډیو اړیکه، 1 مارچ 2023. په وروسته پړاو کې، طالبانو ادعا کړې وه چې دوی به ښځې خبرو ته راولي، خو دا خبرې د نا اړوندو دلایلو پر سنبټ منسوخې شوې، او دوی هیڅکله په دې عمل ونه کړ. Abdul Qedir Sediqi، 'Taliban Team at Afghan Peace Talks in Qatar to Include Women: Spokesman'، *Reuters*، 15 اپریل 2019.
43. د بېلګې په ډول وګورئ، Anand Gopal، 'The Other Afghan Women'، *New Yorker*، 6 سپټمبر 2021؛ Bashir Ahmad Ghazali او Abubakar Siddique، 'Famed Afghan Female Warlord Joins the Taliban'، *Gandhara*، <https://gandhara.rferl.org/a/famed-afghan-female-warlord-joins-the-taliban-/30897145.html>، په 28 سپټمبر 2023ورته لاسرسی شوی.
44. Matthew P Dearing، 'Female Suicide Bombers: The New Threat in Afghanistan'، *Small Wars Journal*، 24 جولای 2010، <https://smallwarsjournal.com/blog/female-suicide-bombers-the-new-threat-in-afghanistan>، په 28 سپټمبر 2023 ورته لاسرسی شوی.
45. میرویس هاروني، 'Afghan Militants Say Deadly Blast was Revenge for Film'، *Reuters*، 18 سپټمبر 2012.

له خوا لږ تر لږه 10 ځانمرګو بریدونو یا هڅه شوې یا بریالۍ شوې دي.[46] دا ډېره شونې ده چې په نورو بریدونو کې هم ښځې ښکېل وې، خو دا هیڅکله هم اعلان شوي نه دي، ځکه چې په ځانمرګو بریدونو کې د ښځو د استعمال د اجازې په اړه اختلاف موجود و. [47] که څه هم له دې امله دلته یو شمېر استثنائات شته، چېرته چې ښځو په تاو تریخوالي کې برخه اخیستې وه، خو ځواب ویونکو وویل چې دا ډېر معمولي وو.[48]

مېرمنو په ډېر عام حالت کې ملاتړي فعالیتونه تر سره کړي دي، کوم چې د دودیزې افغان مېرمنې د دندې عکاسي کوي، لکه یاغیانو ته ډوډۍ چمتو کول، کالي پرېمینځل، د ټپي جنګیالیو پالنه کول او هغوی ته استوګنځای چمتو کول. د دې کورنیو دندو د ډولونو ترڅنګ، د راپورونو پر بنسټ ښځو استخباراتي معلومات راټول کړي، د چاودېدونکو توکو په لېږد کې یې مرسته کړې او د یرغمل شویو په خوشې کولو کې یې مذاکرات کړي دي.[49]

د څېړنې د ګډونوالو د خپلو بچیانو په افراطي کولو کې د مېندو د ممکنه ونډې په اړه رایې مختلفې وې. د دې څېړنې سره سره که افغان مېرمنو (په ځانګړي ډول کلیوالو سیمو کې بې سواده مېرمنې) لور ته اشاره کړې ده، چې هغوی په کور کې ډېر کم یا هېڅ واک نه لري،[50] درې ځواب ویونکو استدلال وکړ چې په حقیقت کې ښځو د کورنۍ پر دیني/کلتوري باورونو او کړنو د پام وړ اغېز درلود.[51] د FGD د یو نارینه ګډونوال په توګه چا چې په افغانستان کې د VE په اړوند پراخه څېړنې کړي وویل: 'ډېری نارینه په دین کې ډېرې زده کړې نه لري — دا

46. د بېلګې په ډول لاندې مراجع وګورئ، Bill Roggio، 'Female Pakistani Taliban Suicide Bomber Hits Hospital'، *Long War Journal*، 21 جولای 2019، <https://www.longwarjournal.org/archives/2019/07/female-pakistani-taliban-suicide-bomber-hits-hospital.php>، په 28 سپټمبر 2023 ورته لاسرسی شوی؛ *National Post*، 'Female Bomber Detonates Explosives in Afghanistan, Killing her Three Children and an Officer'، 11 دیسمبر 2015، <https://nationalpost.com/news/world/female-bomber-detonates-explosives-in-afghanistan-killing-her-three-children-and-an-officer>، په 28 سپټمبر 2023 ورته لاسرسی شوی؛ Bill Roggio، 'Taliban: "Mujahida' Sister" Executed Kunar Suicide Attack', Threat Matrix، a *Long War Journal* blog، 4 جون 2011، <https://www.longwarjournal.org/archives/2011/06/taliban_mujahida_sister_execut.php>، په 28 سپټمبر 2023 ورته لاسرسی شوی؛ UNAMA News، 'SRSG Coomaraswamy on the Use of a Girl Suicide Bomber and the Deadly Attack on a Hospital'، 28 جون 2011، <https://unama.unmissions.org/srsg-coomaraswamy-use-girl-suicide-bomber-and-deadly-attack-hospital>، په 28 سپټمبر 2023 ورته لاسرسی شوی؛ *Huffington Post*، 'Afghanistan Girl, 10-Year-Old, Intended As Suicide Bomber, Rescued'، 23 جنوري 2014، <https://www.huffingtonpost.co.uk/2014/01/06/suicide-vest-afghanistan_n_4548571.html>، په 28 سپټمبر 2023 ورته لاسرسی شوی.
47. د بېلګې په ډول، Agnes Termeer او Isabelle Duyvesteyn، 'The Inclusion of Women in Jihad: Gendered Practices of Legitimation in Islamic State Recruitment Propaganda'، *Critical Studies on Terrorism* (Vol. 15، No. 2, 2022) ، 463–83 مخونه وګورئ.
48. له بې نومه ځواب ویونکي سره د لیکوال مرکه، ویډیو اړیکه، 22 فبروري 2023؛ له بې نومه ځواب ویونکي سره د لیکوال مرکه، ویډیو اړیکه، 8 مارچ 2023؛ د FGD بې نومه ګډونوال، پر لیکه 3 فبروري 2023. دا حالت یوازې د طالبانو په اړوند نه، بلکې په ټولیز ډول و. غېر معمولي استثناوې پکې شاملې شوي، د بېلګې په ډول، *RFE/RL*، 'Afghan Women Take Up Arms Against The Taliban'، 12 نومبر 2016، <https://www.rferl.org/a/women-militia-springs-from-northern-afghan-firefight/28111869.html>، په 28 سپټمبر 2023 ورته لاسرسی شوی.
49. له بې نومه ځواب ویونکي سره د لیکوال مرکه، ویډیو اړیکه، 2 فبروري 2023؛ د FGD ګډونوال، پر لیکه، 3 فبروري 2023؛ احمدي او لکاني، 'Afghan Women and Violent Extremism'، 7 مخ.
50. هره کورنۍ بې ساری متحرکات لري، او د هغې عام کول ستونزه زېږونکي دي. په هر حال، په افغانستان کې پر دې موضوع پخوانۍ ساحوي څېړنې د ښاري/لوستو ښځو او هغو تر منځ د پام وړ توپیرونه په ګوته کړل، کومې چې په ډېرو کلیوالو سیمو کې اوسېږي، زده کړې یې کمې دي، او د مختلفو لیدلورو څخه کمې خبرې دي. د بېلګې په توګه، Ladbury له CPAU، 'Testing Hypotheses on Radicalisation in Afghanistan', مخونه 31–32، وګورئ.
51. د FGD بې نومه ګډونوال، پر لیکه، 3 فبروري 2023؛ له بې نومه ځواب ویونکي سره د لیکوال مرکه، ویډیو اړیکه، 6 فبروري 2023؛ له بې نومه ځواب ویونکي سره د لیکوال مرکه، ویډیو اړیکه، 27 فبروري 2023.

ښځې [څوک چې له مخکې څخه افراطي شوي وې]، په ډېرې اسانۍ سره خپلو ورونو، پلرونو ته زده کړه ورکولای او پر هغوی اغېز کولای شي'.[52] یوې ښځینه مرکه کېدونکې، د چا ښځینه خپلوانه چې افراطي شوې وه (لاندې د ښځو افراطي کېدل وګورئ) او چا چې وروسته خپل زوی افراطي کړی و، استدلال وړاندې کړ چې د افراطیت د څرخ په دوام کې د ښځو ونډه مهمه وه، او خبرداری یې ورکړ چې د ښځو په منځ کې د سخت دریځې وده به په راتلونکی نسل سخت اغېز وکړي.[53]

# د 2021 له اګست راهیسې د طالبانو په بالفعل واکمنۍ کې د ښځو دندې.

طالبانو په نړیوالو سرلیکنو کې ځای پیدا کړ او د ښځو د ژوند محدودونکو خپلو فرمانونو له امله په نړیواله کچه وغندل شول.[54] خو چېرته چې د دوی لپاره مناسبه وه، دوی ښځې استعمال کړې هم دي. په داسې حال کې چې د طالبانو رهبر په عام ژوند کې ښځو ته د کټلو سخت مخالف برېښي، د طالبانو نورې برخې ډېرې نرمې ښکاري، او هغوی د خپلې ګټې لپاره ښځې د وسیلو په توګه د ګرځولو هڅه کړې ده. د راپورونو پر بنسټ، دوی نامعلوم شمېر ښځې د طالبانو په امنیتي ځواکونو کې استخدام کړې دي،[55] څوک چې د نورو تر څنګ تالاشۍ کوي،د استخباراتو له افسرانو سره هغه ملګرې وي، کله چې دوی ښځینه لاریونوالې نیسي، او د ښځو د زندانونو د عملې په توګه کار کوي.[56] کله چې د طالبانو بالفعل واکمنو، د کورنیو چارو سرپرست وزیر، سراج الدین حقاني د لومړي ځل لپاره د 2022 په مارچ کې د انځور اخیستلو اجازه ورکړه، نوموړي د پولیسو د فراغت د مراسمو مشري کوله، چې ښځینه مامورینې هم پکې وې.[57]

---

52. د FGD بې نومه ګډونوال، پر لیکه، 3 فبروري 2023.
53. له بې نومه ځواب ویونکي سره د لیکوال مرکه، ویډیو اړیکه، 6 فبروري 2023. یو دریېم (نارینه) مرکه کېدونکي موافقه وکړه: 'که مېرمنې له دې ډلو سره یوځای کېږي، دا به په راتلونکي نسل ژور اغېز ولري، ځکه چې ماشومان به د نارینه وو په پرتله ښځینه وو ته زیات غوږ ږدي'. له بې نومه ځواب ویونکي سره د لیکوال مرکه، ویډیو اړیکه، 27 فبروري 2023. د دې راپور لپاره په یوه مرکه کې، د IS-K متخصصې امیره جدون د خپلو بچیانو په سخت دریځې کېدو کې د ښځو ونډه 'یوه مهمه خو د کمې ستایل شوې ونډې' په توګه تعریف کړه (د IS-K له متخصصې امیره جدون سره د لیکوال مرکه، ویډیو اړیکه، 22 مارچ 2023).
54. د بېلګې لپاره وګورئ، Belquis Ahmadi او Scott Worden، 'The Taliban Continue to Tighten their Grip on Afghan Women and Girls'، USIP، 8 دیسمبر 2022، <https://www.usip.org/publications/2022/12/taliban-continue-tighten-their-grip-afghan-women-and-girls>، په 28 سپټمبر 2023، ورته لاسرسی شوی.
55. Alamy، 'Women are Trained to Use Machine Guns as Part of Their Training as Police Officers'، 17 نومبر 2022، <https://www.alamy.com/kabul-afghanistan-17th-nov-2022-women-are-trained-to-use-machine-guns-as-part-of-their-training-as-police-officers-when-they-took-power-in-august-2021-the-taliban-massively-restricted-womens-rights-girls-schools-from-the-seventh-grade-onward-have-been-closed-in-large-parts-of-the-country-and-women-have-largely-been-pushed-out-of-the-workforce-in-december-the-taliban-also-announced-it-would-ban-women-from-entering-universities-to-dpa-afghanistans-women-one-setback-after-another-credit-oliver-weikendpaalamy-live-news-image501913834.html>، په 28 سپټمبر 2023، ورته لاسرسی شوی.
56. Asma Saayin، 'MoI Hires Back Former Female Police Officers'، *Tolo News*، 1 نومبر 2022, <https://tolonews.com/afghanistan-180553>، په 28 سپټمبر 2023 ورته لاسرسی شوی؛ 'Policewomen Return to Work at Kandahar Prison'، *Tolo News*، 24 جولای 2022، <https://tolonews.com/afghanistan/provincial-179086>، د 2023 په سپټمبر کې ورته لاسرسی شوی؛ 'Over 100 Female Police Officers Return to Work in Badakhshan'، *Tolo News*، 24 سپټمبر 2022، <https://tolonews.com/afghanistan/provincial-179989>، په 28 سپټمبر 2023 ورته لاسرسی شوی.
57. سمیه کولاب او تمیم اخګر، 'Taliban Official Wanted by US Makes Rare Public Appearance'، *AP*، 5 مارچ 2022.

د طالبانو بالفعل واکمنو کله کله په ښکاره ډول د طالبانو په پلوۍ لاریونونو کې ښځې کارولې دي. که څه هم د طالبانو په پلوۍ لیکل شویو پیغامونو لیږدونکو یو شمېر بشپړو باحجابه ښځو انځورونه د رسنیو په لیکنو کې په پرتلیز ډول په زیاته اندازه خپاره شول، دا ډول غونډې ډېرې کمې او د ګډونوالو شمېر یې محدود و؛ داسې ښکاري چې دا ډول غونډه یوازې یوځل په کابل[58] کې شوې ده، او احتمالاً دویم ځل په کندوز کې.[59] یو مرکه کېدونکي په دې اړوند فکر وکړ چې دا ولې تکرار نه شوې، له دې امله چې د طالبانو ټول جنګیالي کېدای شي مېرمنې، خوېندې یا لوڼې لري، چې کېدای شي پر هغوی دا ډول غونډو کې د ګډون لپاره فشار وارد کړي، او دې پایلې ته رسېدلی و چې کېدای شي له دې امله وه چې سخت دریځي طالبان د ښځو په دا ډول عامو راټولېدو غوصه شوي وي (که څه هم په بشپړ ډول په پرده کې وي)، د کوم په اړه چې دوی فکر کوي چې د جنسیت د جلا کېدو د اصولو څخه سرغړونه ده.[60]

ګڼو ګډونوالو په دې اړوند بحث وکړ چې د طالبانو بالفعل واکمن څه ډول د ښځینه لاریونوالو د استخدام هڅه کوي، تر څو دوی او د دوی کورنیو په ګواښلو سره د نورو فعالینو جاسوسي وکړي.[61] د ښځو د حقوقو یوې فعالې چې د اعتراضي فعالیتونو له امله نیول شوې وه، وویل چې د طالبانو بالفعل واکمنو څه ډول هڅه کړې وه چې د هغې د بند پر مهال هغه استخدام کړي.[62] په یوه پېښه کې چې د FGD د یو ګډونوال له خوا بیان شوې ده، یوې ښځینه معتصبې چې په یو شمالي ولایت کې نیول شوې وه، د طالبانو بالفعل واکمنو ته د جاسوسۍ کول رد کړل. د سزا په توګه، د راپورونو پر بنسټ طالبانو د هغې اکا او د اکا زوی ووژل، او اوس هغه پټه ده.[63]

طالبان د ښځو یوه بله مهمه دنده، د خپلو جنګیالیو لپاره د مېرمنو په توګه بولي. د طالبانو د بغاوت او همدا راز د 2021 له اګست دوارو راهیسې، داسې پرله پسې راپورونه شته چې ښځې او نجونې په زور واده کړای شوي دي، په داسې حال کې چې د طالبانو بالفعل واکمن د دې کار تر سره کولو څخه انکار کوي.[64] داسې برېښي چې ځینې پېښې په انفرادي کچه منځ ته راغلي دي، داسې حال کې چې نور ناتایید شوي راپورونه د ډېرو منظمو هڅو لور ته اشاره کوي.[65] یو مرکه کېدونکي وویل چې هغه داسې اوازې اورېدلي دي چې ځینو ښځو ته د دې لپاره پیسې

58. *France 24*، 'Veiled Protest: Afghan Women Rally in Support of the Taliban'، 11 سپټمبر 2021، <https://www.france24.com/en/live-news/20210911-veiled-protest-afghan-women-rally-in-support-of-the-taliban>، په 28 سپټمبر 2023 ورته لاسرسی شوی.
59. ایاز ګل، '#طالبانو په کابل کې د ښوونځي د ماشومانو او په کندوز کې د طالبانو په پلوۍ د ښځو د یوه لاریون ویډیو خپره کړې ده، تر څو عادي حالت وښیي، له هغې یوه ورځ وروسته چې دوی په #افغانستان کې سرپرست حکومت اعلان کړ'، Twitter/X post، 8 سپټمبر 2021، <https://twitter.com/AyazGul64/status/1435518487078768640?s=20>، په 28 سپټمبر 2023 ورته لاسرسی شوی.
60. د بې نومه ځواب ویونکي سره د لیکوال مرکه، ویډیو اړیکه، 8 مارچ 2023.
61. له بې نومه ځواب ویونکي سره د لیکوال مرکه، ویډیو اړیکه، 1 مارچ 2023؛ له بې نومه ځواب ویونکي سره د لیکوال مرکه، ویډیو اړیکه، 6 فبروري 2023؛ له بې نومه ځواب ویونکي سره د لیکوال مرکه، تلیفوني مرکه، 13 اپریل 2023؛ د FGD بې نومه ګډونوال، پر لیکه، 7 اپریل 2023.
62. له بې نومه ځواب ویونکي سره د لیکوال مرکه، تلیفوني مرکه، 13 اپریل 2023.
63. د FGD بې نومه ګډونوال، پر لیکه، 7 اپریل 2023.
64. *Al Jazeera*، 'Taliban Bans Forced Marriage of Women in Afghanistan'، 3 دیسمبر 2021، <https://www.aljazeera.com/news/2021/12/3/taliban-bans-forced-marriage-calls-for-equal-rights-for-women>، په 28 سپټمبر 2023 ورته لاسرسی شوی.
65. Amnesty International، 'Death in Slow Motion: Women and Girls Under Taliban Rule'، 27 جولای 2022, مخ. 65، <https://www.amnesty.org/en/documents/asa11/5685/2022/en/>، په 28 سپټمبر 2023 ورته لاسرسی شوی.

ورکړل شوې وې چې نورې ښځې له طالبانو سره ودونو ته وهڅوي، په ځانګړي ډول د شمال په مخلوطو توکمیزو ټولنو کې (یعنې چېرته چې پښتانه اکثریت نه دي).[66]

# په IS-K کې د ښځو ونډه

مرکي او په دفتر کې تر سره شوې څېړنه وايي چې په افغانستان کې ښځې د IS-K په ملاتړ کې په لاندې برخو کې په ډېرو فعالو ونډو کې ښکېلې وې: تبلیغ؛ جلب او جذب (د کورنۍ د نارینه غړیو د جلب او جذب په ګډون)؛ مرستې راټولول؛ د نغدو پیسو د لېږدونکو په توګه کار کول؛ معلومات راټول؛ د وسلو لېږدول؛ جاسوسي کول او روزنه ورکول – د سپکو وسلو د استعمال او IED د جوړولو په ګډون.

د مطالعې یو ګډونوال چې په 2021 کې واک ته د طالبانو له رسېدو مخکې یې د IS-K په اړه څېړنه کړې وه، د دا ډول ښځو په اړه یو څه تفصیلات ورکړل، او د هغو دندو په اړه یې معلومات چمتو کړل چې ښځې یې په IS-K کې تر سره کوي. په یوه پېښه کې دوی وویل، د راپورونو پر بنسټ د مرکزي اسیا څخه یوې ښځې د IS-K لپاره د پیسو د مدیریت په برخه کې مهمه دنده تر سره کړې وه. د راپورونو پر بنسټ نومورې له لسګونه زره ډالرو سره یوځای نیول شوې وه. په څرګند ډول نومورې په کابل کې د **حوالې**[67] انتقالات تر لاسه کول او نغدې پیسې یې ننګرهار ته رسولې. د هغې ورور هم پکې ښکېل و، خو باور دا دی چې نومورې د دوی فعالیتونو رهنمایي کوله، نه د دې پر عکس.[68]

د څېړنې د همدې ګډونوال له خوا وړاندې شوې یوه بله بېلګه کې، یوې ښځې چې پخوا یې د ازبکستان اسلامي خوځښت سره تړاو درلود، او بیا یې خپله وفاداري IS-K ته بدله کړې وه، د تالاشۍ په یوه پوسته کې نیول شوې وه، خو پلټل شوې نه وه، ځکه چې ټولنیزو اخلاقو نارینه امنیتي سرتیري د ښځو له تالاشۍ څخه منع کړي وو. د راپورونو پر بنسټ وروسته هغې یو لاسي بم غورځولی و، او امنیتي سرتیری یې ټپي کړی و.[69] د ځواب ویونکي په وینا، دا ښځه په 2015 کال کې په زابل کې د IS-K د لسګونو نارینه جنګیالیو له وژل کېدو وروسته، له زابل څخه ننګرهار ولایت ته د IS-K د ښځو او ماشومانو د لېږدولو مسئوله وه.

یو بل مرکه شوي تشریح کړه چې څه ډول د وردګ ولایت د هغه په کلي کې د IS-K په یوې ډلې برید شوی و، او ښځې په داسې حال کې لیدل شوې وې چې د امنیتي ځواکونو پر ضد یې د سپکو وسلو په مټ جګړه کوله.[70] په یوه بله پېښه کې، چې سیمه ییزو رسنیو راپورونو هم پوښښ ورکړی و، د IS-K د بهرنیو ملاتړو یوه ډله د جوزجان په ولایت کې مېشته وه. سیمه

66. له بې نومه ځواب ویونکي سره د لیکوال مرکه، ویډیو اړیکه، 15 فبروري 2023.
67. حواله د نغدو پیسو انتقال یو غېر رسمي سیستم دی، کوم چې په افغانستان او پراخه سیمه کې په پراخه پیمانه کارول کېږي.
68. له بې نومه ځواب ویونکي سره د لیکوال مرکه، ویډیو اړیکه، 27 فبروري 2023.
69. *Ibid*. دلته د دې دوه پېښو څخه د یوې پېښې هم خپور شوی ریکارډ نه شته، کوم څه چې د طالبانو له واک ته رسېدو وروسته هم د VEO د فعالیتونو په اړه معلوماتو ته د لاسرسي برخه کې د ستونزو څرګندونه کوي.
70. د بې نومه ځواب ویونکي سره د لیکوال مرکه، تلیفون، 17 مارچ 2023.

بیزو رسنیو وویل چې په دې ډله کې ازبک، روسي، پاکستاني، فرانسوي او الجزایري وګړي شامل وو، او د دې ډلې ښځې د وسلو او IED د روزنې په کارونو کې ښکېلې وې.[71]

په 2001 کې د متحده ایالاتو د مداخلې او په 2021 کې د طالبانو واک ته رسېدو تر منځ موده کې نورو نیول شویو ښځو کې د ښځو یوه ډله شامله وه چې د هندوستان د کراله ایالت اوسېدونکې وې، کومې چې د 2016 او 2018 کلونو په موده کې افغانستان ته رارسېدلې وې تر څو له IS-K سره یوځای شي (د لیدلو لپاره دا مرکې په یوتیوب شته).[72] دا معلومه نه ده چې د خپلو میړونو سره له ملګرتیا پرته دوی کومې دندې تر سره کړې دي، خو دوی په 2019 کې د IS-K او افغان حکومت د امنیتي ځواکونو تر منځ د جګړو پر مهال له تسلیمېدو وروسته ونیول شوې. له راپورونو څرګندېږي چې دوی په 2021 کې دویم ځلې واک ته د طالبانو له رسېدو پر لور د وړاندې تګ پر مهال له زندانونو خوشې شوې، خو له دې وروسته د هغوی د ځای ځایګي په اړه هېڅ معلومات نه شته.

د دې څېړنې لپاره مرکه کېدونکو وویل چې IS-K څه ډول افغان ښځې د کابل د پوهنتون په ګډون د بریدونو د ځایونو د معلومولو لپاره وکارولې.[73] لکه چې د IS-K متخصصې امیره جدون د دې راپور لپاره په یوه مرکه کې روښانه کړه، اوس په داسې حال کې چې د ښځو نقل او حرکت په سختۍ سره کنټرول کړای شوی دی، د ښځو د جلب او جذب لپاره ستراتیژیکه ګټه اخیستنه – کوم څه چې له دې امله پخوا ګټور لیدل شوی و، چې د دې احتمال کم و چې دوی به وپلټل شي یا به امنیتي ځواکونه پر هغوی شک وکړي، او په همدې بنسټ به د وسلو لېږدونکي او معلومات راټولونکي شي – د پام وړ حد پورې کمه شوې ده. [74] اوس د دې احتمال شته چې د نارینه وو په پرتله ښځې ډېرې وننګول شي، که چېرې هغوی نقل او حرکت کوي. [75] سیمه ییزو خبریالانو د طالبانو له واک ته رسېدو وروسته د IS-K د ښځینه غړیو د ګڼو نیونو خبر ورکړی دی، خو ډېر تفصیلات په لاس کې نه شته.[76]

---

71. ‘Daesh Female Fighters Reportedly Take up Arms to Fight Afghan Forces in Jawzjan’ ،*Ariana News*، 14 فبروري 2018، <https://www.ariananews.af/daesh-female-fighters-reportedly-take-up-arms-to-fight-afghan-forces-in-jawzjan/>، په 28 سپتمبر 2023 ورته لاسرسی شوی؛ ‘French, Algerian Fighters Join Deash in Afghanistan: Report’ ،*Tolo News*، 10 دیسمبر 2017، <https://tolonews.com/afghanistan/french-algerian-fighters-join-deash-afghanistan-report>، په 28 سپتمبر 2023 ورته لاسرسی شوی. په جوزجان ولایت کې د ښځو وسلې پورته کولو بېلګې موجودې دي، څنګه چې د شوروي اتحاد پر ضد د 'جهاد' پر مهال شوي وو. دا د ځانګړو سیمه ییزو محرکاتو د اهمیت ښودنه کوي، کوم څه چې د هېواد په بېلا بېلو سیمو کې د منلو وړ بلل کېږي.
72. ‘“Decide What to do About Bringing ISIS Bride Sonia from Afghanistan Within 8 Weeks”: SC Tells Govt’ ،*OP India*، 3 جنوري 2022، <https://www.opindia.com/2022/01/isis-bride-kerala-father-plea-supreme-court-asks-centre-8-weeks-afghanistan-taliban/>، په 28 سپتمبر 2023 ورته لاسرسی شوی؛ Megha Varier، ‘Video: The Justifications of Women Who Left Kerala to Join ISIS with Their Families’ ،*News Minute*، 16 مارچ 2020، <https://www.thenewsminute.com/kerala/video-justifications-women-who-left-kerala-join-isis-their-families-120317>، په 28 سپتمبر 2023 ورته لاسرسی شوی.
73. د بې نومه ځواب ویونکي سره د لیکوال مرکه، ویډیو اړیکه، 1 فبروري 2023؛ د بې نومه ځواب ویونکي سره د لیکوال مرکه، ویډیو اړیکه، 2 فبروري 2023.
74. د IS-K له متخصصې امیره جدون سره د لیکوال مرکه، ویډیو اړیکه، 22 مارچ 2023.
75. *Ibid*.
76. د بېلګې په توګه لاندې مراجع وګورئ، ‘Taliban Arrest Alleged ISKP Members, Including Women, in Faryab’ ،*Kabul Now*، 20 مارچ 2023, <https://kabulnow.com/2023/03/taliban-arrest-alleged-iskp-members-including-women-in-faryab/>، په 27 سپتمبر 2023 ورته لاسرسی شوی؛ بلال سروري، '#افغانستان د طالبانو امنیتي ځواکونو د افغانستان د کندوز ولایت د امام صاحب په ولسوالۍ کې د ISKP پر مرکز برید تر سره کړی، د ISKP دوه بهرني جنګیالي یې وژلي، څلور یې نیولي چې درې یې ښځې دي. د ISKP هدف ګرځېدلې ډلې یو موټر بم چمتوکړی او پر ګاونډي تاجکستان یې د توغندویز برید پلان

ښځو همدا راز د جلب او جذب په دندو کې خدمات وړاندې کړي دي. په 2019 کې، د متحده ايالاتو د سولې انستيتوت(United States Institute of Peace, USIP) له اتو ښځو سره مرکې کړې دي، چې په پوهنتونونو کې جلب او جذب شوې وې، او داسې برېښي چې د IS-K د ايډيالوژئ د لاربښونو څخه وروسته، هغوی په دې ډله کې د شموليت فعاله پرېکړه وکړه؛ له دې وروسته دوی د خپلې کورنۍ نارينه غړي او همدا راز نورې ښځې جذب کړې. [77]

د دې راپور لپاره يو مرکه کېدونکي د ښځو په نښه کونکو IS مرکزي تبليغاتو او IS-K د هغو سيمه ييزو مشرانو د باورونو تر منځ د ټکر يادونه وکړه، چا چې باور درلود چې ښځې بايد په کور کې پاتې شي. [78] يو بل ګډونوال سيمه ييزو بدلونونو ته اشاره وکړه، او د جوزجان په ولايت کې يې د ښځو د دندو تر منځ د توپير يادونه وکړه، چېرته چې IS-K تر يوې توکميزې ډلې پورې محدود نه دی، بلکې ډېر مخلوط او د ګڼو مليتونو څخه جوړ دی: 'دوی هومره د افغان دود پورې محدودې نه دي، څومره چې په ننګرهار کې دي. [79] دا هم د يادولو وړ ده، سره له دې چې د IS مرکزي اړخ د ښځو جلب او جذب کولو ته پوره پاملرنه کوي، خو کورنيو ته د IS خلافت اړتيا ته په پاملرنې، د ښځو عملياتي دندې بيا هم محدودې وې. دا يوازې د عملي لاملونو پر بنسټ بدلې شوې، کله چې خلافت د وجودي بحران سره مخ و.[80]

## د جنس او جنسيت پر بنسټ تاوتريخوالی

په دې څېړنه کې د IS-K له خوا د جنګياليو د جذب کولو يا د هغوی هڅولو لپاره د جبري واده او جنسي اړيکو د استعمال راپورونه هم راټول کړای شوي دي. تر يو بريده د کلتوري ممنوعيت له امله، دا ستونزمنه وه چې د دا ډول کارونو په اړه ټاکلي تفصيلات تر لاسه کړای شي.

يو مرکه شوي، چا چې په 2021 کې واک ته د طالبانو له رسېدو مخکې د VEO په اړوند څېړنه کړې وه، د خپلې څېړنې پر مهال باوري راپورونه تر لاسه کړي وو چې IS-K په ختيځ افغانستان کې له جذب کېدونکو سره هره مياشت د 600 ډالرو او يوې مېرمنې ژمنه کوله. [81] دوه مرکه شويو، چې ليکوال ورسره په افغانستان کې خبرې کړې دي، د IS-K دې کړنو ته اشاره وکړه

درلود'، Twitter/X post، 15 جولای 2022, <https://twitter.com/bsarwary/status/1548040263322329088?s=20>، په 29 سپټمبر 2023 ورته لاسرسی شوی؛ *Afghan Analyst*، 'د طالبانو ديوی پلوې سرچينې په وينا، د کابل ښار د پنجصد فاميلي په سيمه کې د IEA د امنيتي ځواکونو ځانګړو عملياتو په پايله کې، د ISKP# ښځه (شکمن) غړي وژل شوي او د دوه ښځو په ګډون ځلور نيول شوي وو. تر اوسه د طالبانو رسمي بيان نه دی موجود'، Twitter/X post، 12 نومبر، <https://twitter.com/ AfghanAnalyst2/status/1591518433652658178?s=20>، په 29 سپټمبر 2023 ورته لاسرسی شوی.

77. عثمان، *Bourgeois Jihad*.
78. له بې نومه ځواب ويونکي سره د ليکوال مرکه، ويډيو اړيکه، 1 فبروري 2023.
79. د FGD بې نومه ګډونوال، پر ليکه، 3 فبروري 2023.
80. Jessica Davis، *The Future of the Islamic State's Women: Assessing their Potential Threat*، ICCT Policy Brief (The Hague: ICCT), 8 جون 2020، مخ. 3، <https://www.icct.nl/index.php/publication/future-islamic-states-women-assessing-their-potential-threat>، په 28 سپټمبر 2023 ورته لاسرسی شوی.
81. د بې نومه ځواب ويونکي سره د ليکوال مرکه، ويډيو اړيکه، 3 مارچ 2023. له دې مخکې څېړونکو داسې پېښې مستندې کړې دي چې ښځې په خپله خوښه د IS-K د جنګياليو لپاره د مېرمنو د ګرځېدو په موخه جذب شوي دي، يا يې دې کار ته د کورنۍ د فشار له امله غاړه ايښې ده. د عثمان، *Bourgeois Jihad* همدا راز د Mielke او Miszak، 'Making Sense of Daesh in Afghanistan' هم وګورئ. مخکينۍ څېړنې موندلې ده چې د ISK د واده طريقو په سيمه ييزو ټولنو کې د دې ډلې پر ضد غبرګون پيدا کړی و. وګورئ، Casey Garret Johnson، 'The Rise and Stall of the Islamic State in Afghanistan'، USIP Special Report 395، نومبر 2016، مخ. 12، <https://www.usip.org/sites/default/files/SR395-The-Rise-and-Stall-of-the-Islamic-State-in-Afghanistan.pdf>، په 28 سپټمبر 2023 ورته لاسرسی شوی.

چې له کورنیو څخه غواړي تر څو په خپلو کورونو بیرغونه ولګوي، کوم چې هلته د اوسېدونکو ناواده شویو د واده د عمر ښځو د شمېر ښودنه کوي. [82]

پر جبري ودونو سربېره، ګډونوالو د 'لنډمهالو ودونو' استعمال ته اشاره وکړه، چېرته به چې ښځو نارینه جنګیالیو ته د 'ارام' چمتو کولو له لارې د دې 'مبارزې ملاتړ' کولای شو. یو مرکه شوي، چې په سویل ختیځ افغانستان کې یې د VE څخه اغېزمنو شویو ټولنو سره یوځای کار کړی و، دا عمل د یو 'پرانیستي راز' په توګه تشریح کړ، کوم عمل به چې اکثراً له هغې مخکې استعمالېدو چې جنګیالي جګړې ته ولاړ شي یا ځانمرګي عملیات تر سره کړي.[83] په دې ډول د ښځو کارول یوه بله طریقه ده، په کومه کې چې کلتوري جنسیتي اصول، کوم چې ډېر ځله د ښځو پر ضد د جنسیت پر بنسټ تاوتریخوالي ته لاره پرانیزي، د VE د ایډیالوژیو په دود کولو او نارینه جنګیالیو په جذب کولو کې د مرستې لپاره کارول شوې ده.

د FGD یو ګډونوال یادونه وکړه چې IS-K د نارینتوب د تصور په کارولو سره د واده ژمنې هم کارولي وې، او د ځان لور ته د ښځو د توجه جلب کولو په هڅې کولو سره یې ویلي و چې هغوی به 'له هغو سړیو سره ودونه وکړي، چې زړور، وفادار او ریښتیني مسلمانان وي'.[84]

دا کړنې بلې څېړنې ته انعکاس ورکوي، کومه چې روښانه کوي چې VE ډله عموماً د نارینه وو د جلب او جذب کولو پر مهال له نارضایتۍ څخه ناوړه ګټه اخلي، او دا روښانه کوي چې IS څه ډول د نارینه او ښځو دواړو په جلب او جذب کې د ناهیلي شوي جنسیتي تمو څخه ناوړه ګټه اخلي.[85]

82. له بې نومه ځواب ویونکي سره د لیکوال مرکه، تلیفوني مرکه، 12 مارچ 2023؛ له بې نومه ځواب ویونکي سره د لیکوال مرکه، تلیفوني مرکه، 17 مارچ 2023. ځواب ویونکو نبغ په نېغه دا تجربه نه ده کړې، خو د دې د پېښېدو په اړه یې اوازې اورېدلي دي. دا کړنه د 2016 څخه په ساحوي څېړنه کې تر بحث لاندې شوې ده، په کومه کې چې د جبري واده او جنسي مریتوب تفصیلي پېښې بیان شوي دي. د Mielke او Miszak، 'Making Sense of Daesh in Afghanistan' وګورئ.
83. له بې نومه ځواب ویونکي سره د لیکوال مرکه، تلیفوني مرکه، 6 اپریل 2023.
84. د FGD بې نومه ګډونوال، پر لیکه، 3 فبروري 2023.
85. د N Chowdhury Fink او A Davidian، 'Complementarity and Convergence? Women, Peace and Security and Counterterrorism'، وګورئ. in Fionnuala Ní Aoláin et al. (eds)، *The Oxford Handbook of Gender and Conflict* (Oxford: Oxford University Press, 2018)، مخونه 158–59؛ Fionnuala Ní Aoláin، 'The Complexity and Challenges of Addressing Conditions Conducive to Terrorism' in Manfred Nowak and Anne Charbord (eds)، *Using Human Rights to Counter Terrorism* (Cheltenham: Edward Elgar, 2018), مخ. 190.

# III. د VEO جلب او جذب

دې ته له کتنې وروسته چې ټولنيز اصول نارينه او ښځې په VE کې د ګډون لپاره څه ډول هڅوي، او له 2001 راهيسې افغانستان کې په VEO کې چې ښځو کومې مهمې دندې تر سره کړې دي، دا څېړکی د VEO په جلب او جذب او د تبليغاتو په فعاليتونو کې د جنسيت د دندې او اغېزو په اړوند د څېړنې د پايلو په اړه معلومات ورکوي.

هغه شرايط مهم دي، په کومو کې چې اوس مهال د جلب او جذب فعاليتونه تر سره کېږي. دا د پراخه شوي ديني زده کړې د يو وروستي تاريخ ځانګړتيا ده، په کوم کې چې ليدل شوي دي چې نارينه او مېرمنې دواړه له 2001 څخه مخکې پړاو په پرتله په ډېر زيات شمېر کې مدرسو ته ځي. د دې برخې يو بل مهم اړخ په ښځو او نارينه دواړو، د تش په نوم غېر متشددو ډلو لکه حزب التحرير د افراطي ايډيالوژۍ سره د بلډېدو اغېزې دي، کومې چې په 2021 کې د طالبانو له واک ته رسېدو څخه مخکې حکومت پر مهال ډېرې فعالې وې، او يوه بنسټپاله سلفي ايډيالوژي يې خپروله (کومه چې تر يو بريده د IS-K له ايډيالوژۍ سره سمون لري).

## د ديني زده کړې ونډه

د ځواب ويونکو تر منځ پراخه اتفاق و چې د IS-K د عروج تشريح د دې مذهبي-ايډيالوژيکي برخې له پېژندلو پرته ناشونې وه، په کومو شرايطو کې چې دا ډله کار کوي – په ځانګړې ډول هغه، په کوم کې چې ډېرو افغانانو ديني زده کړې تر لاسه کړې وې، کوم چې ډېرو ګډونوالو د اسلام 'سخت دريځی'، 'بنسټپال'، 'سلفي' يا 'توندلاری' تفسير وباله.

ګډونوالو په 2001 کې د متحده اياالاتو په مشرۍ د يرغل څخه وروسته کلونو کې په افغانستان کې د ديني زده کړې څرګندې پراختيا ته اشاره وکړه. دا د پخواني حکومت له خوا نه، بلکې د يو لړ ډلو له خوا وه، کومو چې د 2001-21 په موده کې د ښوونځيو، د زده کړې شبکو او مدرسو جوړولو لپاره په پرتليز ډول د ازاديو څخه ګټه پورته کړه. يو شمېر ډلو چې ديني زده کړې يې وړاندې کولې بشپړ سوله ييز طبيعيت درلود، خو نورو د نه زغم ايډياليوژيو خپرولو هڅه وکړه، کومو چې نه يوازې دا چې د نورو نظرياتو لرونکو خلکو پر ضد تاوتريخوالی توجيه کړ، بلکې د کارولو هڅونه يې هم وکړه، او هغوی د نارينه وو د تابعو په څېر په ټولنه کې د ښځو د حيثيت په اړه کليشه يي جنسيتي دندې او توپيري باورونه خپاره کړل او د هغې هڅونه يې وکړه، هغه باورونه چې هم په کورنۍ او هم په ولسي کړيو دواړو کې د ښځو پر ضد تاوتريخوالی او ناوړه چلند جاري ساتي.[86] نورو ادعا درلوده چې غير متشدد دي، خو له

86. د بېلګې په ډول لاندې مرجع وګورئ، *UNAMA/OHCHR*، 'Harmful Traditional Practices and Implementation of the Law on Elimination of Violence Against Women in Afghanistan'، 9 دیسمبر 2010، <https://unama.unmissions.org/sites/default/files/harmful_traditional_practices_english.pdf>، په 28 سپټمبر 2023 ورته لاسرسی شوی.

دې سره سره یې د نه زغم نظریه خپره کړه، کومو چې هر هغه شخص رد کړ چې د دوی پر تفسیر یې پوښتنې راپورته کولې.

که څه هم دا د دې ډول ډلو د متضادو ایډیالوژیو په اړه د پراخه بحث ځای نه دی، د څېړنې ګډونوالو باور درلود چې که له دې څخه د کومې یوې شبکې یا مدرسې له خوا یو چاته له مخکې څخه د اسلام د نه زغم پر بنسټ تشریحاتو تلقین ورکړل شوی وای، نو دا بیا د IS-K د بنې د منلو لپاره کوم لوړ ګام نه و.[87] یو ګډونوال تشریح کړه چې 'دوی نیغ په نیغه په ترهګریزو کارونو کې ښکېل نه دي، خو دوی په ایډیالوژۍ پیاوړی اغېز لري، او خلک له رواني اړخه چمتو کوي'.[88]

## مدرسې

په داسې حال کې چې د طالبانو په جوړولو کې د پاکستاني مدرسو ونډه ډېره معلومه ده، ډېرو مرکه کېدونکو له 2001 څخه راوروسته راهیسې په افغانستان کې د مدرسو څرګندې ودې د VEO پر معاصرو چلندونو اغېز کونکي یو مهم عنصر په توګه بیان کړ-په ځانګړې ډول د ښځو پر چلندونو.[89]

د 'مدرسې' اصطلاح د مختلف ډول ایډیالوژیو د زده کړې ورکولو دیني ادارو یوې پراخې لړۍ لپاره کارول کېږي. ځینې مدرسې د یو چا په کور کې یوازې یوه خونه وي، په داسې حال کې چې نورې سترې ادارې دي چې تدریسي او لیلیې اسانتیاوې لري. یو شمېر یې ډېر کم فیس غواړي، خو نورې یې په اصل کې زده کونکو ته پیسې ورکوي. ډېری مور او پلار خپل بچیان مدرسو ته د مالي دلایلو پر بنسټ استوي، ځکه دوی ته وړیا خوراک، کالي او کله کله د اوسېدو لپاره ځای ورکول کېږي. دا په پام کې نیول مهم دي چې ټولې مدرسې د اسلام یا تاوتریخوالي د بنسټپالي تفسیرونو ملاتړ نه کوي. د FGD دوه ګډونوال، چې په مدرسه کې یې زده کړه او بیا تدریس کړی و، په ټولو هغو خلکو د 'سخت دریځو' ټاپې لګولو په اړه خبرداری ورکړ چې په مدرسه کې یې زده کړې کړې وي، استدلال یې وړاندې کړ چې دا به خپله د VE هڅونه وکړي. [90]

له دودیز اړخه، نجونې او هلکان دواړه اکثر د سیمه ییزو مسجدونو مدرسو ته، او یا هم د قرآن کریم لوستلو او تلاوت زده کولو لپاره سیمه ییز دیني عالم ته ورتلل. عموماً نجونې له 10 څخه تر 12 کلنۍ عمر کې تګ پرېږدي، په داسې حال کې چې هلکان په نوې ځوانۍ کې هم دوام ورکوي.[91] له 2001 څخه مخکې، په پرتلیز ډول د ځوانو هلکانو او نارینه وو لپاره تر زیات

87. له بې نومه ځواب ویونکي سره د لیکوال مرکه، ویډیو اړیکه، 2 فبروري 2023؛ د FGD بې نومه ګډونوال، پر لیکه، 3 فبروري 2023.
88. له بې نومه ځواب ویونکي سره د لیکوال مرکه، ویډیو اړیکه، 2 فبروري 2023.
89. له بې نومه ځواب ویونکي سره د لیکوال مرکه، ویډیو اړیکه، 2 فبروري 2023؛ له بې نومه ځواب ویونکي سره د لیکوال مرکه، ویډیو اړیکه، 3 فبروري 2023؛ له بې نومه ځواب ویونکي سره د لیکوال مرکه، ویډیو اړیکه، 8 فبروري 2023؛ له بې نومه ځواب ویونکي سره د لیکوال مرکه، ویډیو اړیکه، 22 فبروري 2023؛ له بې نومه ځواب ویونکي سره د لیکوال مرکه، ویډیو اړیکه، 1 مارچ 2023؛ له بې نومه ځواب ویونکي سره د لیکوال مرکه، ویډیو اړیکه، 3 مارچ 2023.
90. د FGD بې نومه ګډونوال، استامبول، 21 فبروري 2023. یو بل مرکه شوی دیني عالم او د مدرسې پخوانی ښوونکی و، خو د ښځو د حقوقو، بشري حقوقو او د اسلام او جمهوریت د مطابقت پیاوړی پلوی هم و، کوم څه چې د مدرسې په ټولنه کې د نظریاتو د تنوع څرګندونه کوي. د بې نومه ځواب ویونکي سره د لیکوال مرکه، ویډیو اړیکه، 1 مارچ 2023.
91. له بې نومه ځواب ویونکي سره د لیکوال مرکه، تلیفون، 15 مارچ 2023؛ له بې نومه ځواب ویونکي سره د لیکوال مرکه، تلیفون، 16 مارچ 2023؛ له بې نومه ځواب ویونکي سره د لیکوال مرکه، تلیفون، 18 مارچ 2023.

عمر د دیني زده کړې دوام عام و، او په پرتلیز ډول یوازې کم شمېر ښځو له لومړني ښوونځي له عمر څخه وروسته خپلو دیني زده کړو ته دوام ورکړی و.[92]

له 2001 څخه تر 2021 پورې، په افغانستان کې په ځانګړي ډول د نجونو او ښځو لپاره په مدرسو کې د پام وړ زیاتوالی راغی.[93] ډېرې کمې د کوم ډول نظم لاندې راځي، او هیڅاته دا معلومه نه وه چې څومره فعالیت کوي، او یا په دقیق ډول د هغوی مالي مرسته څوک کوي.[94] دیني ښوونځیو د مختلفو اېډیالوژیانو لپاره تبلیغ کاوه، چې په دوی کې د لوړې کچې مدرسې شاملې دي، لکه په شمالي کندوز ولایت کې اشرف المدارس، کومه چې د خپلو سخت دریځو تعلیماتو له امله بدنامه شوه.[95]

د څېړنې د ګډونوالو باور دا و چې د ښځو ډېرې مدرسې کومې چې د 2001 څخه وروسته موده کې راڅرګندې شوې دي، یا یې مخکې د اسلام 'بنسټپالي' تشریح تبلیغ کاوه، د کوم له امله چې د ښځینه زده کونکو په مذهبیت او عمومي سلوک کې څرګند بدلونونه راغلل. مرکه کېدونکو تشریح کړه چې هغوی د تېرې یوې لسیزې په موده کې، د ښځو لپاره د بنسټپالو مدرسو پراختیا لیدلې ده، په داسې ټولنو او سیمو کې چې په هغې کې، کابل، پروان، هرات، بلخ، بغلان، بدخشان، تخار او کندوز شامل دي – کومې چې د مخلوط یا تر ډېره بریده غیر پښتون مېشتې سیمې دي

نه یوازې دا چې ټولو ځواب ویونکو دا په خپلو ټولنو کې لیدلي دي، بلکې څلورو په بې پروایۍ سره وویل چې دوی څلور ښځینه خپلواني درلودلې، کومې چې 'سخت دریځې' شوې وې، یا په مدرسو کې د هغې تعلیم ورکول شوی و، د دې تر څنګ یو بل یې یوه خور درلوده، څوک چې د یوې نامعلومې سرچینې په واسطه سخت دریځې شوې وه. [96] له یو حالت پرته چېرته چې خپلوانو پر ملکیانو د بریدونو څرګند ملاتړ ښودلی و، دا روښانه نه شوه چې د دې مطلب په غیر متشددې طریقې سره و، یا دوی د تشدد د ملاتړ کولو لپاره سخت دریځې کړای شوي وو. کله چې یې په ښځو کې سخت دریځې تشریح کوله، ګډونوالو ډېرو ښځو ته اشاره وکړه چې هغوی د سخت اسلامي لباس په غوره کولو، او ورځنیو کارونو لکه لمونځ او نیغ په نېغه د نارینه خپلوانو پرته نورو نارینه وو سره یوځای کېدو څخه په انکار کولو په خپلو چلندونو کې

92. د دې معنا دا نه ده چې ګوندې هېڅ ښځو او نجونو دیني زده کړې نه کولې، یو شمېر ښځې د دیني علومو ښوونکې او استادانې شوې.
93. د بېلګې په توګه وګورئ، David Vestenskov، 'The Role of Madrasas: Assessing Parental Choice, Financial Pipelines and Recent Developments in Religious Education in Pakistan and Afghanistan'، Royal Danish Defence College، 2018, مخ 119.
94. د دا ډول ښوونځیو په اړه د پخواني حکومت چارواکو سره اندېښنې شریکې شوې وې، خو وروسته په څرګند ډول دا موضوع ډېره لانجمنه شوې یا یې د کومې معنا لرونکې طریقې سره حل کول ستونزمن برېښېدل. له بې نومه ځواب ویونکي سره د لیکوال مرکه، ویډیو اړیکه، 2 فبرورې 2023؛ د FGD بې نومه ګډونوال، پر لیکه، 3 فبرورې 2023؛ له بې نومه ځواب ویونکي سره د لیکوال مرکه، ویډیو اړیکه، 22 فبرورې 2023. همدا راز لاندې مرجع وګورئ، Naheed Bashardost، '49,000 Girl Students Enrolled in Kabul-Based Religious Schools'، *Pajhwok Afghan News*, 24 فبرورې 2016، <https://pajhwok.com/2016/02/24/49000-girl-students-enrolled-kabul-based-religious-schools/>، په 28 سپټمبر 2023 ورته لاسرسی شوی.
95. د FGD بې نومه ګډونوال، 3 فبرورې 2023؛ له بې نومه ځواب ویونکي سره د لیکوال مرکه، ویډیو اړیکه، 2 فبرورې 2023؛ *Al Jazeera*، 'The Girls of the Taliban'، 24 دیسمبر 2014، <https://www.aljazeera.com/program/featured-documentaries/2014/12/24/the-girls-of-the-taliban>، په 28 سپټمبر 2023 ورته لاسرسی شوی.
96. شونې ده چې صحیح شمېرې لوړې وي، ځکه شونې ده چې یو شمېر خلک د دا ډول معلوماتو د شریکولو په برخه کې له احتیاط څخه کار اخلي.

بدلون راولي (يعنې د دې يادونه شوې وه چې دوی له دې څخه انکار کوي چې په يوه خونه کې له خپل اوښي سره يوازې وي).

په داسې حال کې چې دا چلندونه په محافظه کارو سيمو او کليوالو پښتون ميشتو سيمو کې عام دي، خو دوی په پرتليز ډول پرانيستو او غېر پښتون ميشتو ټولنو کې د چلندونو د څرګندو بدلونونو استازولي کوي، کومو ته چې د ځېرني ځواب ويونکو اشاره کوله. په ټولو پېښو کې، دې ښځو په نورو ښځو او د ټولنې په نورو افرادو نيوکې کول پيل کړي و، او دوی ته يې خبرداری ورکاوه که چېرې خپلې لارې بدلې نه کړي نو په اخرت کې به د سزا وړ وګرځي.

ډېرې مدرسې، کومې چې د ځېرنې ګډونوال سخت دريځې بولي، دا مدرسې د جنسيتي دندو په اړه سخت قوانين او د نارينه او ښځينه وو تر منځ د ځواک د اړيکو په اړه د زيات پلارتوب ليدلوري تلقين کوي. د FGD يو ګډونوال د هغو ښځو سره د خبرو په اړه بحث وکړ، کومې چې سخت دريځو مدرسو ته تللې وې. 'کله کله زه [دې] ښځو ته وايم، دا ستاسو حق دی. په هغوی کې داسې ښځې هم شته چې ماته وايي – نه، زما حقوق زما تر سړي پورې محدود دي، او هغه بايد له ما څخه راضي وي'.[97]

د ځېرنې د ځواب ويونکو په وينا، هغه مدرسې چې د اسلام سخت دريځي تشريحات وړاندې کوي، په ښاري سيمو[98] او غېر پښتون مېشتو سيمو کې د ښځينه محصلينو په جذب کولو کې په ځانګړي ډول بريالۍ ښکاري، دا دواړه داسې ځايونه دي، چېرته چې ټولنې له تاريخي اړخه په پرتليز ډول ډېرې هوسا ټولنيزو اصولو ساتونکې بلل کېږي. د دې مطلب دا دی چې په پرتليز ډول د ازاد خياله کورنيو ماشومانو ته د سخت دريځې ايډيالوژۍ تعليم ورکړل شوی دی، او بيا يې د خپلې کورنۍ د ژوند پر طريقه نيوکه کړې، او يا يې په بشپړ ډول رد کړې دي. که څه هم داسې پراخه درک شته چې افغان مېرمنې د خپلو کورنيو پر ضد نه ځي، دا موندنې ښيي چې په واقعيت کې يو شمېر نجونو په خپلو کورنيو کې له نفوذ څخه برخمنې وې.

## د 'غېر متشددو' ډلو ونډه

د جمعيت اصلاح، او حزب التحرير په څېر اسلامي ډلې وايي چې دوی د خپلو پلويانو په منځ کې د مستقيم تاو تريخوالي پلوی نه کوي، خو د خلافت د تر لاسه کولو په برخه کې د تاوتريخوالي د استعمال په اړوند د دوی دريځ ډېر پټ دی.[99] ځکه چې له دې ډلو سره د ښکېلتيا په پايله کې ډېر ځله په چلند کې ډېر څرګند بدلونونه راځي، له همدې امله ډېرو ګډونوالو د دې ډلو پلويان 'سخت دريځي' وبلل. حالت دا ډول دی، په داسې حال کې چې دا ډول سخت دريځي کېدل –په

97. د FGD بې نومه ګډونوال، استانبول، 21 فبروري 2023.
98. د دې په مقابل کې، يو مرکه شويو خپل اند په دې ډول څرګند کړ چې په کليوالو سيمو کې مدرسو ته د نارينه وو د تګ امکانات ډېر زيات دي. له بې نومه ځواب ويونکي سره د ليکوال مرکه، تليفوني مرکه، 6 اپريل 2023.
99. Antonio Giustozzi، 'Between Patronage and Rebellion: Student Politics in Afghanistan'، AREU Briefing Paper، فبروري 2010.

کوم کې چې د ولسي وګړو په نښه کونکی متشدد عنصر نه وي – به په دې مطالعه کې د VE د تعریف سره سمون ونه لري.[100]

په مرکو کې یو شریک ټکی منځ ته راغی، او هغه دا چې د IS-K د جلب او جذب پر بریالیتوبونو پوهېدل، په هغو شرایطو له پوهېدو پرته ممکن نه و، په کومو کې چې ډېرو افغانانو په سخت دریځي ایډیالوژۍ کې زده کړې تر لاسه کړې وي، کومو زده کړو ته چې د جمعیت اصلاح او حزب التحریر په څېر ډلو وده ورکړې ده.[101] ځواب ویونکو استدلال وکړ چې له دا ډول ایډیالوژۍ سره بلد خلک د IS-K د جلب او جذب کونکو لپاره په پرتلیز ډول اسانه موخه وګرځېدل.[102] یو مرکه کېدونکي وویل چې دا ډلې په پوهنتونونو کې ځومره دومداره وې: 'داسې محصلین وو چې پیغام رسونکو سره یې ولیدل او نه یې وویل، خو دوی [سخت دریځو ډلو] تاسو ته بیا بیا لاسرسي ته دوام ورکړ'.[103]

دې دواړو ډلو د ښځو ډېرې فعالې څانګې درلودې، په ځانګړي ډول یې هڅه کړې وه چې د لوړو زده کړو لرونکې ښځې جذب کړي. جمعیت اصلاح په ځانګړي ډول فعاله بلل شوې وه. یو مرکه شوي وویل: 'له 2015 وروسته په کابل کې، کله چې جمعیت اصلاح یو پوهنتون، فکري خونې او ښوونځي پیل کړل، ډېرې ښځینه د دوی له خوا جذب شوې. دوی لیکل کول، اعلامیې یې خپرولې، ویډیوګانې او د ټولنیزو رسنیو پوستونه یې جوړول'.[104]

جمعیت اصلاح او حزب التحریر یوازې په کابل کې په پوهنتونونو کې نه و فعال، بلکې د شمالي افغانستان په ډېرو سیمو کې هم. د FGD یو ګډونوال د طالبانو له واک ته رسېدو مخکې د کابل په شمال کې په خپل ولایت کې د ښوونځیو د ښځینه زده کونکو جذب کولو هڅه کونکې د حزب التحریر د ښځینه ډلو په لیدلو سره تشریح کړل چې: 'د حزب التحریر PPK [پروان، پنجشیر، کاپیسا] په سیمو کې اغېز پیدا کړ، په ځانګړي ډول د ښوونځې په نجونو. دوی ډېرې فعالې او ډېرې سخت دریځې وې. ما داسې ښځې ولیدې چې بشپړ نقاب یې اغوست، او د خپلو مخونو د پټولو لپاره یې ماسکونه استعمالول. په تېر کې، ښځو یوازې ټیکري په سر کول. دوی د ټولو ودونو ته راتللې، او خلکو ته به یې ویل چې باید څه ډول چلند وکړي'.[105]

---

100. د FGD بې نومه ګډونوال، استامبول، 21 فبروري، 2023؛ له بې نومه ځواب ویونکي سره د لیکوال مرکه، ویډیو اړیکه، 1 فبروري 2023؛ له بې نومه ځواب ویونکي سره د لیکوال مرکه، 2 فبروري 2023؛ له بې نومه ځواب ویونکي سره د لیکوال مرکه، ویډیو اړیکه، 3 فبروري 2023؛ له بې نومه ځواب ویونکي سره د لیکوال مرکه، ویډیو اړیکه، 8 فبروري 2023؛ له بې نومه ځواب ویونکي سره د لیکوال مرکه، ویډیو اړیکه، 1 مارچ 2023؛ له بې نومه ځواب ویونکي سره د لیکوال مرکه، ویډیو اړیکه، 3 مارچ 2023؛ له بې نومه ځواب ویونکي سره د لیکوال مرکه، ویډیو اړیکه، 7 مارچ 2023.
101. د FGD بې نومه ګډونوال، پر لیکه، 3 فبروري 2023؛ له بې نومه ځواب ویونکي سره د لیکوال مرکه، ویډیو اړیکه، 3 فبروري 2023؛ له بې نومه ځواب ویونکي سره د لیکوال مرکه، ویډیو اړیکه، 8 فبروري 2023؛ له بې نومه ځواب ویونکي سره د لیکوال مرکه، ویډیو اړیکه، 28 فبروري 2023. کله چې طالبان واک ته ورسېدل نو په دې دواړو ډلو یې بندیز ولګاوه، او دواړو ته یې د ګواښ په سترګه کتل. د FGD یو بل ګډونوال استدلال وکړ چې غېر متشددې ډلې د یو ډول فشار اچونکو په توګه کار کوي، کومې چې پرهېزګاره خلکو ته لاره برابروي، چې په بل ډول د متشددو ډلو لور ته تللای شي.
102. یو مرکه کېدونکي تشریح کړه چې : 'زه باور نه لرم چې د دوی ایډیالوژي نرمه ده. که تاسو خلک داسې کړئ چې فکر وکړي چې یوازې دوی سم دي، نو دا بیا دوی یو لوري ته بیایي. که تاسو وایئ چې تاسو خلافت قایموئ، او هر څوک چې له تاسو سره مخالفت کوي هغه کافران دي، نو بیا حقیقت دا دی چې تاسو به دا کار په سوله ییز ډول نه کوئ'. له بې نومه ځواب ویونکي سره د لیکوال مرکه، ویډیو اړیکه، 1 فبروري 2023.
103. له بې نومه ځواب ویونکي سره د لیکوال مرکه، ویډیو اړیکه، 3 فبروري 2023.
104. د بې نومه ځواب ویونکي سره د لیکوال مرکه، ویډیو اړیکه، 7 مارچ 2023.
105. د FGD بې نومه ګډونوال، استانبول، 21 فبروري 2023.

# د طالبانو جلب او جذب او تبليغات

د بغاوت د مودې پر مهال (2001-21)، طالبانو نارينه جنګيالي په ګڼو طريقو جذب کړل، د شته مليشو سره د مذاکراتو له لارې؛ په زور جلب کول؛ او په مسجدونو، په پاکستان کې په مدرسو او ودونو کې د جلب او جذب په ګډون. په ځينو صورتونو کې، د نړيوالو ځواکونو يا د دوی د افغان متحدينو له خوا د کېدونکو تېريو اړوند د شکايتونو له امله، ټولنې خپله له طالبانو سره متحدې شوې. کله کله، دا ښکېلتيا د سيمه ييز ځواک په هلو ځلو کې د شخصي ګټې تر لاسه کولو د طريقې استازولي کوي.[106] څومره چې بغاوت زيات شو، طالبانو هڅه وکړه چې دا بهير لا پسې منظم کړي، په دوی کې د جلب او جذب ګرځنده ټيمونه شامل وو، کوم چې د هېواد د ځانګړو سيمو لپاره مختص کړای شوي وو.[107]

پورته بحث شويو پښتون ميشتو سيمو کې د ښځو د ګوښه والي په اړوند کلتوري اصولو د پياوړتيا له امله، د ښځو د دا ډول جلب او جذب کولو کومه مساوي هڅه نه وه شوې، څه ډول چې د نارينه وو سره شوي و. په هرحال، حقيقت دا دی چې په دې پړاو کې د طالبانو په ځينو تبليغاتو کې ښځې موخه ګرځول شوې وې، له دې معلومېږي چې طالبانو باور درلود چې ځينې ښځې په کورونو کې اغېز لري. په پښتون مېشتو سيمو کې د پخوانی څېړنې څخه معلومېږي چې ښځو ډېر کم اغېز درلود،[108] د دې شونتيا شته چې د طالبانو د دې تبليغاتو ډېره موخه غېر پښتون مېشتې ګرځول شوې وې.

د هېواد د واک تر لاسه کولو راهيسې، طالبانو د نارينه جنګياليو له جذب کولو څخه خپله پاملرنه د پراخه خلکو د ذهنيت بدلولو لور ته واړوله، تر څو د طالبانو د ايډيالوژۍ ملاتړ وکړي. په دې کې پراخ عامه پيغامونه شامل دي، د X (پخوانی ټويټر) او نورو سترو ټولنيزو رسنيو پليټفارمونه؛ په مسجدونو کې تبليغ کول؛ د اخلاقي پوليسو په مټ د ولسونو د ژوند څارنه کول؛ او د حزب التحرير په داخل او له هغه څخه د باندې د سلفي مبلغينو په ګډون، پر خپلو سيالانو باندې پراخ بنديزونه لګول. د دې هڅې يوه بله ستنه د تعليمي نظام 'اصلاح' ده.

افغانستان نه يوازې دا چې د پراخه عصري نصاب څخه ورهاخوا سوچه ديني تعليم (کوم چې تل د نصاب برخه وه) لور ته يو بدلونويني، بلکې داسې يو تعليم لور د بدلون شاهد دی، چې يوازې د طالبانو له خوا د اسلام ځانګړې سخت دريځې تفسير وړاندې کوي.[109] که څه هم واک ته د طالبانو له رسېدو وروسته راهيسې، ډېره بهرنۍ پاملرنه د طالبانو له خوا د عالي ليسو او پوهنتونونو د عمر نجونو پر تعليم پر بنديز تمرکز لري، بلکې هغه څه چې هلکانو ته تدريس کېږي، د هغې د سخت دريځي نوعيت په اړه هم لويه اندېښنه شته.

106. Antonio Giustozzi، *The Taliban at War: 2001–2021*, updated edition (London: Hurst, 2022)، مخونه 171–76.
107. *Ibid*.
108. احمدي او لاکاني، 'Afghan Women and Violent Extremism'، مخ. 6. همدا راز وګورئ، Ladbury with CPAU، 'Testing Hypotheses on Radicalisation in Afghanistan'، مخونه 31–32
109. *Radio Azadi*، '"War on Education": Taliban Converting Secular Schools into Religious Seminaries'، 25 جون 2022، <https://www.rferl.org/a/taliban-secular-schools-converted-madrasahs-education/31914672.html>، په 28 سپټمبر 2023 ورته لاسرسی شوی.

یو نارینه مرکه شوي چې مخکې یې د پوهنتون په کچه مدرسه کې تدریس کړی، تشریح کړه چې د 2021 له اګست مخکې، د افغانستان په داخل کې ډېرو مدرسو، ښه، عصري تعلیم وړاندې کړی و، په کومو کې چې پر دیني علومو سربېره ډېر نور مضامین هم شامل وو.[110] د پخوانیو همکارانو سره د هغه د خبرو پر بنسټ، د طالبانو له واک ته رسېدو وروسته دا غیر دیني مضامین له نصاب څخه لیرې کړای شوي دي.

یو بل مرکه شوي وویل چې هغه د ښوونځیو له یو شمېر ښځینه ښوونکو سره خبرې کړې دي، چا چې نوموړې ته ویلي دي چې طالبانو د ښوونځیو رسمي ښوونکي لېرې کړي دي او د هغوی پر ځای یې هغه خلک ګومارلي چې یوازې په دین کې یې زده کړې کړې دي.[111] دې مرکه شوي همدا راز اورېدلي و چې طالبان د مدرسې زده کړې ګړندی کوي، تر څو دیني ښوونکي ژر فارغ شي او ژر تر ژره د مرکزي لیکې په ښوونځیو کې د هغوی د رسمي استادانو په توګه ټاکل کېدل ممکن شي. د مرکزي سیستم ښوونځیو په نظام کې پر دې بدلونونو سربېره، طالبان د خپلو نورو مدرسو په جوړلو کې هم مصروف دي.[112] د 2022 په اپریل کې، د طالبانو چارواکو اعلان وکړ چې بالفعل واکمن په پام کې لري تر څو په هر ولایت کې له درې څخه نیولی تر 10 پورې ښوونځي پرانیزي. سربېره پر دې، د 2022 په جون کې، چارواکو په هر ولایت کې د لیلیې د مدرسو د جوړولو په اړه خبرې کړې وې، چې په هره یوه کې به د 1000 زده کونکو لپاره ځای وي.[113]

خو د مدرسې په جوړولو دا تمرکز دا معنا نه لري چې د طالبانو بالفعل واکمن په هېواد کې ټول دیني تعلیم کنټرولوي. د پخواني حکومت په څېر، بالفعل واکمن د مدرسې د سیستم په بشپړ ډول تنظیم کولو وړتیا نه لري. د دې پروژې لپاره د مدرسې د اوو ښوونکو له منځه چې مرکې ورسره شوي دي، او څوک چې اوس هم افغانستان کې دي، یوازې یو تن وویل چې د طالبانو چارواکو د دوی له ښوونځي څخه لیدنه کړې ده، تر څو د دوی د زده کړې څخه کتنه وکړي.[114] په دې صورت کې، د طالبانو چارواکو د نصاب په اړه پوښتنې نه وې کړې، بلکې یوازې دا یې کتل چې ایا نجونو ته د نارینه وو په شتون کې زده کړه ورکول کېږي که نه.

د 24 مرکه شویو له منځه چې په دې ځانګړې موضوع یې بحث کړی و، 23 تنو یې تایید کړه چې واک ته د طالبانو له رسېدو راهیسې دوی د هغو ښځو او نجونو په شمېر کې زیاتوالی لیدلی چې مدرسو کې داخله اخلي. په دوی کې شپږ یې د مدرسې ښوونکي وو، چا چې د داخلې د اندازې په اړه مستقیم معلومات درلودل.

110. د بې نومه ځواب ویونکي سره د لیکوال مرکه، ویډیو اړیکه، 1 مارچ 2023.
111. د بې نومه ځواب ویونکي سره د لیکوال مرکه، ویډیو اړیکه، 7 مارچ 2023.
112. Afghan Witness، 'Several New Taliban Madrasas Established and Multiple Others Reported in Nationwide Drive'، 22 جون 2022، <https://www.afghanwitness.org/reports/several-new-taliban-madrasas-established-and-multiple-others-reported-in-nationwide-drive>، په 28 سپتمبر 2023 ورته لاسرسی شوی.
113. ازادي راډیو، '"War on Education"'.
114. له بې نومه ځواب ویونکي سره د لیکوال مرکه، تلیفوني اړیکه، 12 مارچ 2023؛ له بې نومه ځواب ویونکي سره د لیکوال مرکه، تلیفون، 12 مارچ 2023؛ له بې نومه ځواب ویونکي سره د لیکوال مرکه، تلیفون، 14 مارچ 2023؛ له بې نومه ځواب ویونکي سره د لیکوال مرکه، تلیفون، 14 مارچ 2023؛ له بې نومه ځواب ویونکي سره د لیکوال مرکه، تلیفون، 15 مارچ 2023؛ له بې نومه ځواب ویونکي سره د لیکوال مرکه، تلیفون، 17 مارچ 2023؛ له بې نومه ځواب ویونکي سره د لیکوال مرکه، تلیفون، 18 مارج 2023.

د طالبانو واک ته رسېدو راهیسې، نجوني له ښوونځي، پوهنتون، پارکونو، لمبا ځایونو، تمرین ځایونو او سپورټ کلبونو څخه منع شوي دي. د هېواد په ډېرو سیمو کې چې یو شمېر هغو ځاَیونو ته د ځوانو او د پوهنتون د عمر نجونو ته د تګ اجازه شته، په حقیقت کې هغه مدرسې دي. ځواب ویونکو همدا راز وویل، ډېرې هغه نجونې چې مخکې یې مدرسې ته تګ کې کومه لیوالتیا نه درلوده، اوس هلته ځي، ځکه چې دا له کور څخه د وتلو او له کورنۍ څخه د باندې د کومې ټولنیزې اړیکې یوازینۍ لاره وه.[115]

یوه پېښه چې یو مرکه شوي ورته اشاره وکړه، د هغو تمایلاتو څرګندونه کوي چې د څېړنې ګډونوالو تشریح کړي دي:

> [زما خپلوانه] یوه باسواده ځوانه ښځه وه چې پوهنتون ته تله. خو له کله چې بندیزونه لګول شوي دي، نوموړې له خپلو کشرانو خویندو سره په مدرسه کې داخله شوې ده. دوی اوس مختلف او ډېر محافظه کار کالي اغوندي، او ان حتی په کور کې مختلف ډول عمل کوي. هغه او د هغې خوېندې ډېرې عصري او ازاد خیاله ښځې وې، او مور او پلار یې له دوی څخه ملاتړ کاوه. اوس دوی خپل مور او پلار په دې تورنوي چې دوی د اسلام او دیني لاربښوونو مخالف دي. دا اوس زموږ په ټولنه کې نوی میلان دی، او اوسمهال نورې ډېرې نجونې او ښځې په دې مدرسو کې داخلې کړای شوي دي.[116]

د FGD یو ګډونوال، څوک چې خپله یو دیني عالم او ښوونکی دی، تشریح کړه چې هغه څه ډول له 2021 څخه راوروسته د خپلو ښځینه زده کونکو تر څنګ د ښځینه خپلوانو په ذهنیت کې بدلون لیدلی دی.[117] هغه تشریح کړه چې د هغه زده کونکو داسې خبرې کولې، د کومو په اړه چې د هغه باور و چې د 'اسلام خلاف' دي، خو هغه څه چې دوی ته ښودل شوي هغه 'حقیقت' و.[118]

یو مرکه شوي د تعصب د دې څپې پر وړاندې د توازن د بشپړ کمښت لور ته په اشارې سره وویل چې په تېر کې 'مدني ټولنه کمزورې وه، خو په ولسي ژوند لږ تر لږه یو منځلاری اغېز و. دې سخت دریځي بهر را وایستل. اوس، مدني ټولنه ورکه شوه او اوس هېڅ کنټرول او توازن نه شته'.[119]

115. د FGD یو ګډونوال، پر لیکه، 3 فبروري 2023. له بې نومه ځواب ویونکي سره د لیکوال مرکه، تلیفوني مرکه، 16 مارچ 2023. همدا راز د Charlotte Greenfield او Mohammad Yunus Yawar، 'Afghan Girls Turn to Religious Schools as Prospects Narrow under Taliban Rule'، *Japan Times*، 16 فبروري 2023, <https://www.japantimes.co.jp/news/2023/02/16/world/afghan-girls-religious-schools/> په 28 سپټمبر 2023 ورته لاسرسی شوی؛ *France 24*، 'Banned from School, Afghan Girls Turn to Madrassas'، 16 مارچ 2023، <https://www.france24.com/en/live-news/20230316-banned-from-school-afghan-girls-turn-to-madrassas>، په 28 سپټمبر 2023 ورته لاسرسی شوی، هم وګورئ.
116. له بې نومه ځواب ویونکي سره د لیکوال مرکه، تلفیوني مرکه، 28 فبروري 2023.
117. د FGD بې نومه ګډونوال، پر لیکه، 7 اپریل 2023.
118. *Ibid*. د مدرسې زده کړه یوازې سني ټولنه نه په نښه کوي. د FGD یو ګډونوال چې د ښځو د سخت دریځی په اړه یې څېړنه کړې، تشریح کړه چې د مدرسو ځانګړې ډلې په ایران کې له میشتو بنسټونو څخه مالي مرسته تر لاسه کوله. د دې روایت تر مخې، دې ښوونځیو د دواړو سني او شیعه ټولنو لپاره د افغانستان په داخل کې کار کاوه، د یو منظم ښوونځي په توګه یې عمل کاوه، خو ډېر سخت دریځي مواد یې خپرول. د FGD یو بل ګډونوال همدا راز یادونه وکړه چې د طالبانو له خوا د مدرسې زده کړه نه یوازې د سنیانو بلکې د ټولو فرقو لپاره دود کولای شي. د FGD بې نومه ګډونوال، پر لیکه، 7 اپریل 2023.
119. له بې نومه ځواب ویونکي سره د لیکوال مرکه، ویډیو اړیکه، 2 فبروري 2023.

# د IS-K جلب او جذب

د IS-K لپاره د هېواد په مختلفو سیمو کې په بېلا بېلو طریقو جلب او جذب شوی و، دواړه د دې حقیقت ښودنه کوي، چې د طالبانو په څېر، IS-K یو موټی ډله نه ده، او د دې ډلې د عملیاتي چالاکۍ ښودنه کوي. IS-K سخت عملیاتي پروتوکول نه لري، بلکې هغه د مخ پر وده سیمه ییزو محرکاتو لپاره خپلې لارې چارې خپلوي.[120] په ختیځ افغانستان کې د IS-K ابتدايي واحدونه په عملي ډول د تحریک طالبان پاکستان (TTP، د پاکستاني طالبانو یوه ډله چې په افغانستان کې هم عملیات کوي، او له IS-K سره یو څه ورته والی لري) یا له طالبانو څخه د جوړو شویو ملیشو په توګه جوړ شوي وو. دا چاره د مذاکراتو له لارې تر سره شوې وه، نه د انفرادي جلب او جذب له لارې.[121] وروسته، په حضوري ډول تبلیغ د هېواد په دې برخه کې د IS-K د جلب او جذب یوه مهمه وسیله وه، او اوس هم ده.[122]

مرکه شویو او د FGD ګډونوالو تشریح کړه چې دوی د IS-K د تبلیغ په اړه په مدرسه، مسجد او د ټولنې په غونډو، لکه واده او جنازه کې اورېدلي وو. خلکو د سفر کونکو مبلغینو، د راډیويي پروګرامونو او 'شپه پاڼو' (د شپې له مخې وېشل کېدونکي تبلیغي رسالې) یادونه هم کړې ده. د دې ډلې د ډیجیټلي فعالیتونو تر څنګ د پرلیکه طریقو پرله پسې اهمیت د دې حقیقت څرګندونه کوي، چې ډېری افغانان لوستل نه شي کولای، او هغوی موبایل تلیفونونه نه لري، او که داسې وي، نو بیا تل انټرنیټ او برېښنا ته لاسرسی نه لري.[123]

IS-K پر لیکه ډېر فعالیت لري، چېرته چې د دې ډلې د جلب او جذب تبلیغات د IS-K پیغام د افغان ولس تر هغو عناصرو پورې رسولو لپاره جوړ شوی دی، چې انټرنیټ کاروي، په داسې حال کې چې له هېواده بهر د احتمالي ملاتړو او پانګه چمتو کونکو په نښه کولو لپاره هم کارول شوی دی. دا د پښتو، دري، تاجکي، ازبکي، روسي او انګلیسي په ګډون په ګڼو ژبو کې مجلې او اډیو ویډیو مواد چمتو کوي. [124] په ګڼو ویبپاڼو د خپرونو پر پورته کولو سربېره، مرکه شویو وویل چې IS-K په X (پخوانی ټویټر) هم فعال و، د Facebook ،X Spaces (خو په وروستیو کې کم شوی دی)، Instagram ،Clubhouse ،Telegram ،Viber ،YouTube ،Myspace او WhatsApp په ګډون، کوم څه چې د ټولنیزو رسنیو شرکتونو له خوا د پلټنو د کمښت یا بې

120. Amira Jadoon et al.، 'Breaking the Glass Ceiling? Female Participation in Militant Organizations in Islamic State Affiliates in Southeast Asia'، *Terrorism and Political Violence* (ټوک. 34، شمېره 8، 2022)، مخونه 1774-96.
121. Giustozzi، *The Taliban at War*، مخ 229.
122. 'تر ټولو زیات افغانان ټولنیزو رسنیو ته لاسرسی لري – خو ډېری اوس هم لاسرسی نه لري. د مبلغینو له لارې فیزیکي جلب او جذب – په حضوري ډول - ډېر مهم دی. د بېلګې په ډول په ختیځ افغانستان کې د IS له خوا په مسجدونو او دیني غونډو کې جلب او جذب او تبلیغ کېږي؛ او مبلغین له یو ولایت څخه بل ته تګ راتګ کوي'. له بې نومه ځواب ویونکي سره د لیکوال مرکه، استانبول، 27 فبروري 2023.
123. ډیجیټلي موادو ته د نارینه او ښځو د لاسرسي تر منځ توپیر شته، چېرته چې په کورنیو کې د ځوانو مېرمنو په پرتله ځوانو نارینه وو ته د موبایل تلیفون او انټرنیټ ته د لاسرسي اجازې شونتیاوې زیاتې وي.
124. Lucas Webber او Bruce Pannier، 'The Islamic Movement of Uzbekistan's Enduring Influence on IS Khurasan'، Global Network on Extremism and Technology، 3 مارچ 2023, <https://gnet-research.org/2023/03/03/the-islamic-movement-of-uzbekistans-enduring-influence-on-is-khurasan/>، په 28 سپټمبر 2023 ورته لاسرسی شوی؛ Abdul Basit، 'ISKP Flexes Its Propaganda Muscles on Social Media'، *The Diplomat*، 2 جنوري 2023، <https://thediplomat.com/2023/01/iskp-flexes-its-propaganda-muscles-on-social-media/>، په 27 سپټمبر 2023 ورته لاسرسی شوی.

اغېزې والي ښودنه کوي. یو مرکه شوي تشریح کړه چې : 'زه ځینو ګروپونو ته داخل شوم تر څو وګورم چې دوی څه وايي. دوی اوسمهال د اسلام په مخ کې پرتو ستونزو په اړه خبرې کوي. دوی غواړي چې زرین پړاو ته ستانه شي. کله چې زه پوښتنې کوم یا د دوی په ایډیالوژۍ اعتراض کوم، دوی ما له ګروپ څخه باسي. دلته هیڅکله بحث نه وي'.[125]

په کابل او نورو ښاري سیمو کې د IS-K مېشت واحدونه د پوهنتون باسواده محصلین یا مسلکي خلک په نښه کوي.[126] د مرکه شویو په منځ کې تاثر دا و چې واک ته د طالبانو له رسېدو مخکې، دا د پر لیکه پر ځای، تر ډېره بریده په حضوري ډول تر سره کېدل.[127] په هرحال، د RUSI د وروستی څېړنې څخه معلومېږي چې لږ تر لږه په وروستیو وختونو کې، د احتمالي غړیو سره ابتدايي اړیکې د بې نومه ټولنیزو رسنیو د چینلونو په استعمالولو سره کېږي، یوازې د باور د کچې تر جوړېدو وروسته د حضوري اړیکې لور ته ځي.[128] دې څېړنې دا هم وړاندیز کړی دی چې IS-K د طالبانو د روان بندیز په ځواب کې د ټولنیزو رسنیو کارونه له هېواده دباندې لېږدولې دي.[129]

د طالبانو په خلاف، د IS-K د جلب او جذب هڅې نیغ به نیغه نارینه او ښځې دواړه په نښه کوي. د USIP یوې څېړنې موندلې ده چې IS-K د کابل پوهنتون، ننګرهار پوهنتون (جلال اباد کې) او د کاپیسا ولایت د البیروني پوهنتون په ګډون له پوهنتونونو څخه په بریالیتوب سره نارینه او ښځې جذب کړې دي.[130] د RUSI د ډېرې وروستۍ څېړنې څخه معلومېږي چې د طالبانو د روانې ځپنې څخه د خوندي کېدو په موخه، د IS-K جلب او جذب کونکي د دې ځایونو تر څنګ د بدخشان په پوهنتون کې هم شتون لري، که څه هم تر یو بریده تر نظر لاندې دي.[131] ځوان مرکه شوي او د FGD ګډونوال، کومو چې په تېرو 10 کلونو کې د پوهنتونونو په شا وخوا کې وخت تېر کړی و، په تعلیمي ادارو کې د IS-K د جلب او جذب له هڅو څخه خبر وو. د راپورونو تر مخې، ګڼ نارینه ښوونکي، په ځانګړي ډول د شریعة پوهنځي، په جلب او جذب کې ښکېل وو.[132] مرکه شویو د پوهنتونونو استوګنځایونه ('لیلیې') د جلب او جذب د مهم ځاي په توګه یاد کړل؛ تر اغېز لاندې راتلونکي ځوان خلک چې له کورونو څخه لیرې او نوي اندونه ځینې چاپېر وو، د هیله منو موخو په توګه بلل کېدل.[133]

---

125. له بې نومه ځواب ویونکي سره د لیکوال مرکه، استانبول، 22 فبروري 2023.
126. Ruchi Kumar، 'Afghan Authorities Alarmed by ISIS Recruiters at Kabul University'، *The National*، 24 جولای 2019، <https://www.thenationalnews.com/world/asia/afghan-authorities-alarmed-by-isis-recruiters-at-kabul-university-1.890394>، په 28 سپتمبر 2023 ورته لاسرسی شوی. په افغانستان پوهنتونونو کې د بېلا بېلو اسلامپالو ډلو پرتلیز شهرت په اړه د بحث لپاره وګورئ، Shahir Sirat او Ramin Kamangar، 'Typology of Active Political Trends at Universities, Afghan Institute for Strategic Studies, 2023، <https://www.aissonline.org/Uploads/PublicationEnglishFiles/oxq04obu9gZr9KuMKpQMctAGDUDbBlBHYkmVJT8n.pdf>، په 28 سپتمبر 2023 ورته لاسرسی شوی.
127. د بې نومه ځواب ویونکي سره د لیکوال مرکه، ویډیو اړیکه، 1 فبروري 2023؛ د بې نومه ځواب ویونکي سره د لیکوال مرکه، ویډیو اړیکه، 3 فبروري 2023.
128. Antonio Giustozzi، 'How the Taliban are Meeting the IS Threat on Afghanistan's Campuses'، RUSI Emerging Insights، می 2023.
129. *Ibid*.، مخونه 18–19.
130. عثمان، بورژوازي جهاد، مخ. 13.
131. Giustozzi، 'How the Taliban are Meeting the IS Threat on Afghanistan's Campuses'، مخ. 8.
132. Kumar، 'Afghan Authorities Alarmed by ISIS Recruiters at Kabul University'.
133. عثمان، بورژوازي جهاد، مخ. 11.

یو مرکه شوي تشریح کړه چې څه ډول یو نارینه خپلوان ته د هغه کورنۍ اجازه نه وه ورکړې چې د پوهنتون په لیلیه کې پاتې شي، ځکه وېره یې درلوده چې د دا ډول جلب او جذب موخه به وګرځي.[134] له دې حقیقت سره سره چې هغه په کوم بل ځای کې اوسېدو، یو VEO بیا هم هڅه وکړه چې هغه جذب کړي. سره له دې چې دا شخص ورسره یوځای نه شو، یو شمېر زده کوونکو په څرګند ډول په دې وړاندیزونو کې لېوالتیا پیدا کړې وه، ځکه دوی دې ته د پوهنتون د فعالیت او دندې د امکاناتو په اړوند د کورنۍ د تمو څخه د تېښتې د لارې په سترګه کتل. دا د دې ښودنه کوي چې د ځوانو نارینه وو ټولنیز کلتوري فشار او تمې څه ډول داسې لاملونه ګرځېدای شي چې هغوی په VEO کې د ګډون په اړه فکر کولو ته هڅوي.

د تبلیغ او دیني زده کړې[135] د وندې یادونه په ځانګړي ډول د ښځو د جذب کولو لپاره مهمه بلل کېږي، د چا په اړه چې مرکه شویو وویل چې احتمالاً هغوی د نارینه وو په پرتله ډېرې نظریاتي دي.[136] باور دا و چې نارینه تر ډېره بریده د مالي لاملونو پر بنسټ له IS-K سره یوځای کېږي، په داسې حال کې چې ښځې د دې ډلې د ایډیالوژۍ له امله د دوی ملاتړ ته چمتو کولای شي. په هر حال، د یادونې وړ ده چې له پوهنتونونو څخه جذب شوي د IS-K نارینه کدرونه، چې عموماً په کلیوالو سیمو کې جذب شوي وي، د کم سواده جنګیالیو په پرتله د دې ډېره شونتیا لري چې د ایډیالوژۍ له اړخه میلان پیدا کړي، او IS-K دوی په ځانګړي ډول ارزښتمن بولي.[137]

# په توندلارۍ او جلب او جذب کې زیاتېدونکي تمایلات

د ځېرنې یو شمېر ګډونوالو په دې اړه اندېښنه څرګنده کړه چې د هغو مېرمنو ډلې به اوس څه کوي چې د توند لارو په مدرسو کې یې زده کړې کړي دي، کومې تر یو برید چمتو کړای شوې وې (که څه هم خامخا د تاوتریخوالي په ډول نه وې) او له 2021 اګست څخه مخکې فعالې وې، په داسې حال کې چې اوس د طالبانو بالفعل واکمنو د ښځو فیزیکي حرکت محدود کړی دی او د ښځو پر سازمانونو یې بندیزونه لګولي دي.[138] داسې انګېرل شوی خطر و چې شونې ده IS-K د ښځو د جلب او جذب هڅه وکړي. لاندې اقتباس د همدې اندېښنو څرګندونه کوي:

134. د بې نومه ځواب ویونکي سره د لیکوال مرکه، ویډیو اړیکه، 3 مارچ 2023.
135. نږدې ټولو ځواب ویونکو د VEO د تبلیغاتو بریالیتوب کې د زده کړې کمښت د یو مهم لامل په توګه یاد کړ، خو د زده کړې کمښت – او تر څنګ یې بې وزلي، څنګه چې مخکې یادونه وشوه – افغانستان کې د مختلفو ستونزو په لړ کې د معمول سره سم ویل شوی ځواب و. ځواب ویونکو ادعا وکړه، چې د دیني ایډیالوژۍ په کارولو سره د بې سواده افغانانو قانع کول اسانه و، ځکه ډېرو خلکو دا وړتیا نه درلوده چې د هغو روایتونو پر اړوند پوښتنه وکړي یا یې ځواب ووایي کوم چې هغوی اوري. په هر حال، دا نظر له دې حقیقت سره په ټکر کې دی چې د IS-K ډېری جذب شوي خلک لوړې زده کړې لري.
136. له بې نومه ځواب ویونکي سره د لیکوال مرکه، استانبول، 22 فبروري 2023؛ له بې نومه ځواب ویونکي سره د لیکوال مرکه، استانبول، 22 فبروري 2023؛ له بې نومه ځواب ویونکي سره د لیکوال مرکه، ویډیو اړیکه، 22 فبروري 2023؛ له بې نومه ځواب ویونکي سره د لیکوال مرکه، ویډیو اړیکه، 27 فبروري 2023.
137. Giustozzi، 'How the Taliban are Meeting the IS Threat on Afghanistan's Campuses'، مخ. 7.
138. د FGD بې نومه ګډونوال، 3 فبروري 2023؛ له بې نومه ځواب ویونکي سره د لیکوال مرکه، ویډیو اړیکه، 27 فبروري 2023؛ له بې نومه ځواب ویونکي سره د لیکوال مرکه، ویډیو اړیکه، 7 مارچ 2023؛ له بې نومه ځواب ویونکي سره د لیکوال مرکه، ویډیو اړیکه، 8 مارچ 2023.

> د طالبانو له خوا د ښځو د حقوقو د ځپلو له امله اوسمهال ښځې د جلب او جذب لپاره ډېر اسانه هدف دی. داسې ډېرې لوستې مېرمنې شته – خلک معلوماتو او ټيکنالوژۍ ته لاسرسی لري – او همدا لامل دوی د توندلارۍ لپاره ډېر برابر ګرځوي. که دا دوی ته استازولي او فعالیت، کوم ډول پېژندګلو او یو څه ورکوي، تر څو د هغې برخه شي.[139]

د دې مطالعې نور ګډونوال قانع شوي وو چې د سیمه ییز ټولنیز کلتوري لیدلوري او له ښځو سره د IS (هم په IS او په IS-K دواړو کې) د وحشي چلند د شهرت له امله به په IS-K کې د افغان ښځو شمولیت بې ارزښته شي.[140] دا دواړه متحرکات به د IS-K د جلب او جذب مسیر له دې ځایه جوړ کړي: له اسلام څخه د طالبانو د تشریح په اړوند د پوښتنه کوونکو هغو ښځو مخ پر زیاتېدونکی شمېر به د IS-K لپاره یوه احتمالي حوزه وړاندې کړي چې په مدرسو کې یې زده کړې کړې، خو د دې شونتیا شته چې د IS-K بریالیتوب به د دې ډلې له شهرت څخه وېرېدلو سیمه ییزو ټولنو له خوا له پر شاتګ څخه اغېزمن شي.

دا په پام کې نیول مهم دي چې IS-K یوازې د افغانانو پر جلب او جذب توجه نه لري، بلکې ښځې په لېرې پرتو سیمو کې هم موخه ګرځوي. د VE د تبلیغاتي موادو څېړونکو د منځنۍ اسیا ژبو ته د IS-K د پراختیا وروستی میلان لیدلی.[141] د دې مطالعې لپاره د پام وړ ټکی دا دی چې له دې څخه په یو شمېر موادو سره احتمالي جذب کېدونکي مېرمنې په نښه کړې دي. په ځانګړې ډول د تاجکي ژبې موادو ښځې هڅولي چې **هجرت**[142] وکړي او افغانستان ته ولاړې شي، او دوی ته یې په دې کار کې د مرستې وړاندیز کړی دی.[143]

دا روښانه نه ده چې دا ډله تر کومه بریده په حقیقي عملي معنا سره د مرستې کولو وړتیا لري، خو په دې ځای کې نیت روښانه دی. دا هم د یادونې وړ ده چې د 2023 د مۍ په میاشت کې، 31 تاجکې مېرمنې (او 73 ماشومان) د سوریې له هغو کمپونو، چې د IS بندیان پکې ساتل کېږي،

139. د بې نومه ځواب ویونکي سره د لیکوال مرکه، ویډیو اړیکه، 8 مارچ 2023. یو بل مرکه شوي چې په VE کې د څېړنې په اړه یې پراخه کار کړی و، وویل: 'هو، ښځې تر ډېره بریده په ملاتړ دنده کې وي. خو دا ډول به پاتې نه شي. د لا زیات توندلارې کېدو سره، څه ډول چې IS پراختیا پیدا کوي، ډېر احتمال شته چې د افغان ښځو په ګډون، ټولې ښځې، ډېرې ښکېلې شي'. له بې نومه ځواب ویونکي سره د لیکوال مرکه، ویډیو اړیکه، 27 فبروري 2023. د مدني ټولنې یو ډېر باتجربه فعال، چې له VE څخه اغېزمنو شویو ټولنو سره یې له نږدې کار کړی و، لیکوال ته د دې ملاتړ په اړه وویل: 'د مدرسې دې محافظه کارو ښځو ته د طالبانو تر واکمنۍ لاندې سیاسي میدان کې ځای نه ورکول کېږي. شونې ده چې افغانستان د توندلارۍ د یوې بلې څپې انتظار باسي – په کومه کې چې شونې ده ښځې ډېره فعاله ونډه ولري'. د FGD بې نومه ګډونوال، پر لیکه، 3 فبروري 2023.
140. یو استدلال وکړ چې د 'ISIS مرکز په حقیقت کې افغاني شوی نه دی. دوی به هڅه وکړي چې ښځو ته زیاته فعاله ونډه ورکړي، ځکه چې افغان ټولنې به پر شا شي'. د بې نومه ځواب ویونکي سره د لیکوال مرکه، ویډیو اړیکه، 7 مارچ 2023. یو بل وویل: 'دا به ستونزمنه وي چې فکر وشي، ټولې هغه ښځې چې مدرسو ته ځي، هغوی به له ISIS سره یوځای شي – ځکه د دې معنا دا ده چې دوی به یا ځانمرګې بریدګرې او یا جنسي وینځې شي. له کلتوري اړخه، د ښځو د عزت د ساتنې هیله ډېره پیاوړې ده – یو څوک چې په انفرادي ډول له ISIS سره یوځای کېږي، باید یوه یتیمه ښځه یا یو داسې څوک وي چې یوازې وي'. له بې نومه ځواب ویونکي سره د لیکوال مرکه، ویډیو اړیکه، 2 فبروري 2023.
141. Lucas Webber، 'Islamic State Khurasan's Al-Azaim Tajiki Criticizes IS Discrimination Against Tajik Women in Syrian Camps; Tajik Pro-IS Financing and Recruitment Network Revealed as Part of ISKP'، *Militant Wire*، 27 دیسمبر 2022، <https://www.militantwire.com/p/islamic-state-khurasans-al-azaim>، په 28 سپټمبر 2023 ورته لاسرسی شوی.
142. په عربي ژبه کې، د هجرت مطلب له دیني ځپنې څخه کډوال کېدل دي. دا اصطلاح د IS په تبلیغاتو کې پراخه استعمال شوې ده چې احتمالي جذبېدونکي هڅوي تر څو سوریې ته سفر وکړي.
143. Webber، 'اسلامي دولت خراسان، العزایم تاجکي د سوریې په کمپونو کې د تاجکي ښځو پر ضد د IS پر توپیري چلند نیوکه وکړه'.

تاجکستان ته واستول شول، کوم هېواد چې په شمال کې له افغانستان سره ګاونډی دی. [144] له دې مخکې د 2022 په جولای کې د IS له کمپونو څخه 42 تاجکی مېرمنې او 104 ماشومان ستانه شوي وو.[145] د تېرې لسیزې په اوږدو کې، د مرکزي اسیا زرګونه اتباعو له IS سره د یوځای کېدو په موخه سوریې ته سفر کړی دی، او دا ډله د IS-K لپاره د جلب او جذب احتمالي سرچینې استازولي کوي. د FGD یو ګډونوال له مرکزي اسیا څخه افغانستان ته د راتلونکو جذب شویو موضوع راپورته کړه، او ویې ویل 'د منځنۍ اسیا هغه خلک چې بنسټپالي دیني نظریات لري، اکثر بنسټپالو افغانانو ته د یوې بیلګې په سترګه ګوري، او له هغه څه څخه د دوی اعتماد او باور زیاتیږي، چې دوی (افغانان) هر څه کوي هغه سم دي'.[146]

# د جنسیت پر بنسټ د تبلیغاتو روایتونه

طالبانو او IS-K دواړو د جلب او جذب او پانګې تر لاسه کولو په فعالیتونو کې له تبلیغاتو پراخه کار واخیست. دا مواد ډېر جنسیتي دي، په کومو کې چې 'بېلګه ییز' نارینتوب او ښځمنتوب موضوعات ډېر روښانه دي.[147] لاندې برخه د دې ارزونه کوي چې په افغانستان کې د VEO د خپلو تبلیغاتو په روایتونو کې د ښځو او نارینه وو د جنسیتي ونډو او استازولۍ تعریف څه ډول کړی دی.

د مسئولیتونو او دندو په اړوند د طالبانو او IS-K د تبلیغاتو تر منځ ډېر څه مشترک دي، کوم چې د هغوی په باور نارینه باید د **امت** (اسلامي ټولنې) د خوندیتوب لپاره په وسله وال جهاد کې شامل شي. نارینه وو ته د دې ډلو د پیغام رسولو تر منځ بنسټیز توپیر دا دی چې څوک په **امت** کې دی او څوک 'کافر' دی. د ښځود مناسبو دندو او استازولۍ په اړوند د طالبانو او IS-K د تبلیغاتو موادو کې ستر توپیر شته. د IS-K خپرونې احتمالي ښځینه جذبېدونکې (په ځانګړي ډول بهرنیانې) په ژبه او د فعالیتونو د وړاندیزونو په مټ په نښه کوي، کوم څه به چې طالبان د افغان مېرمنو لپاره د نه منلو وړ وبولي.[148]

## د بغاوت پر مهال د طالبانو تبلیغات، 2001-21

طالبان د خپلو PR کمپاینونو پر مهال د کمو تخنیکي تبلیغاتو په کارولو کې تر ډېره زیاته بریده بریالي وو، کوم چې عموماً د شاعرۍ او مذهبي ترانو په بڼه وړاندې کېدل. سیمه ییز خلک له دې بڼو سره بلد وو، او دا ډېره پیاوړې وسیله ثابته شوه، چې له لارې یې پر افکارو اغېز کېدلای

.144 RFE/RL، 'Tajikistan Repatriates Dozens Of Women, Children From Syria'، 22 مې 2023، <https://www.rferl.org/a/tajikistan-syria-repatriated-women-children/32422603.html>، په 28 سپټمبر 2023 ورته لاسرسی شوی.
.145 RFE/RL، 'Syrian Kurds Repatriate 146 Tajik Women and Children from Camps Holding Relatives of IS Fighters'، 26 جولای 2022، <https://www.rferl.org/a/syrian-kurds-repatriate-tajik-women-children-is-fighters/31959893.html>، په 28 سپټمبر 2023 ورته لاسرسی شوی.
.146 د FGD بې نومه ګډونوال، لندن، 18 اپریل 2023.
.147 Donnelly، 'Demystifying Gender Analysis for Research on Violent Extremism'، مخ 2.
.148 Weeda Mehran et al.، 'The Depiction of Women in Jihadi Magazines: A Comparative Analysis of Islamic State, Al Qaeda, Taliban and Tahrik-e Taliban Pakistan'، *Small Wars and Insurgencies* (ټوک 33، شمېره 3، 2020)

شوای.[149] په دې موادو کې د نارینه وو له خوا د جهاد د ملاتړ پر اړتیا ټینګار کېدو، او ډېر ځله پکې د نارینتوب هغه بېلګه ییز موضوعات شامل وو، په کومو کې چې زړورتیا،[150] قرباني[151]، او خدمات شامل وو.[152] لکه چې د طالبانو یو چارواکي وویل، د دې موادو موخه د 'زړورتیا، نارینتوب، او له یرغلګرو څخه د خپل هېواد د ساتلو په اړوند درس ورکول و'.[153] طالبانو وروسته دا ساده مواد په ډېرو پرمختللیو تبلیغاتو سره بشپړ کړل، لکه د 2016 کال د اکتوبر د میاشتې یوه ویډیو چې د 'حقیقي نارینه' په عنوان وه، په کومه ویډیو کې چې جنګیالي د پوځي روزنې تر لاسه کولو په حال کې لیدل کېدل.[154]

تاریخي افغان مېرمنې هم کله کله د طالبانو په تبلیغاتو کې په فعالو دندو کې وړاندې کېږي،[155] که څه هم داسې برېښي چې له دې کار څخه موخه د عصري نارینه وو شرمنده کول (خجالت) و.[156] ډېرې ښځې د مېندو، خوېندو یا مېرمنو په توګه ښودل شوي دي، کومې چې خوندیتوب ته اړتیا لري او د هغوی د جنګېدونکو نارینه وو د ملاتړ له امله د هغوی ستاینه کېږي، ان تر دې که کله دوی د خپلو زامنو د مړینې په غم کې وي.[157]

په دې پړاو کې د طالبانو په تبلیغاتو کې په هغو ښځو هم نیوکې وشوې، چا چې د دوی د سختې ایډیالوژۍ پیروي نه ده کړې[158]، او په هغو ښځو یې بې رحمه نیوکه وکړه، کومو چې په داسې ډول سلوک کاوه، چې دوی هغه 'غېر اسلامي' باله. په دې کې نږدې ټولې مسلکي ښځې او هغه ښځې شاملې وې چې په عام ژوند کې فعالې وې. طالبان په ځانګړي ډول د هغو ښځو په وړاندې سخت دریځي وو، چې د پخواني حکومت پر مهال یې عامې دندې درلودې، او هغه ښځې چې د NGO او نړیوالو سازمانونو یا بشري حقوقو لپاره یې کار کاوه، او دوی یې له تشدد ډکو بریدونو کې هدف ګرځولې.[159]

149. Thomas Johnson، *Taliban Narratives: The Use and Power of Stories in the Afghanistan Conflict* (London: Hurst، 2018)، پاڼه xxxv.
150. Alex Strick van Linschoten او Felix Kuehn (eds)، *Poetry of the Taliban* (New York, NY: Columbia University Press، 2012)، پاڼه 156.
151. Van Linschoten او Kuehn (eds)، *Poetry of the Taliban*، پاڼه 111.
152. *Ibid*.
153. 'For Safety, Afghan Travelers Tune In To Taliban Ringtones'، *Wall Street Journal*، 28 دیسمبر 2011.
154. Bill Roggio، 'Taliban Promotes Yet Another Jihad Training Camp', *Long War Journal*، 7 اکتوبر 2016، <https://www.longwarjournal.org/archives/2016/10/as-taliban-threatens-several-provinces-it-promotes-abdullah-ibn-mubarak-jihad-training-camp.php>، په 28 سپټمبر 2023 ورته لاسرسی شوی.
155. کله کله په دا ډول کارېدونکو تاریخي افغان اتلو مېرمنو کې نازو (د 17مې پیړۍ شاعره) او ملالۍ (د چا چې په 19مه پیړۍ کې د انګریزانو پر ضد د افغانستان په جګړه کې د خپلې ونډې له امله ستاینه کېږي) شاملې دي. دا ښځې د اتلانو په توګه په پام کې نیول کېږي – خو په دې معنا نه چې د عصري افغان مېرمنو څخه د هغوی د کارونو د پیروۍ هیله کېږي، ځکه چې دا به د طالبانو د جنسیتي ایډیالوژۍ بالکل خلاف وي. Van Linschoten او Kuehn (eds)، *Poetry of the Taliban*، پاڼه 19.
156. د بېلګې په ډول، په یو شعر کې داسې دي: 'پګړۍ دې ماته راکړه لوپټه زما دې ستا شي/توره زما په لاس کې راکړه چې خبره ښه صفا شي ... بیا نو مه بولۍ ځانونه نارینه خپل، تر څو به تاسو په خوب ویده یاست؟ ته د نجونو منځ کې ناست یې/ستا په نارینتوب باندې دې بلا شي'. Van Linschoten او Kuehn (eds)، *Poetry of the Taliban*، پاڼه 143. د Mehran et al، 'The Depiction of Women in Jihadi Magazines'، هم وګورئ.
157. Thomas H Johnson او Ahmad Waheed، 'Analyzing Taliban Taranas (Chants): An Effective Afghan Propaganda Artifact' (Vol. 22, No. 1, 2011) *Small Wars & Insurgencies*، مخ. 23؛ Safi، 'Afghan Women and CVE' in Chowdhury Fink، Zeiger، Bhula (eds)، 'A Man's World?' مخ. 122.
158. د بېلګې په ډول، په یو شعر کې ښځو ته بازار ته د تګ او سینګار کولو په اړوند نصیحت شوی و، په داسې حال کې چې بل شعر کې د NGO لپاره پر کار کونکو ښځو نیوکې شوې وې. Van Linschoten او Kuehn (eds)، *Poetry of the Taliban*، پاڼه 115.
159. Alissa Rubin، 'Fear of Taliban Drives Women Out of Kunduz'، *New York Times*، 14 اکتوبر 2015.

د دې څېړنې لپاره د پخواني حکومت یو مرکه شوی چارواکی د طالبانو د یاغیانو له خوا په ګڼو مواقعو کې د جنسیتي اصولو څخه د سرغړونې له امله ګواښل شوی و. پر دوی یوازې له دې امله نیوکه نه کېده چې د پخواني حکومت سره تړاو لري، بلکې په ځانګړي ډول په هغه بڼه ژوند تېرولو له امله هم تر نیوکو لاندې وو، چې د طالبانو د 'مناسب' ژوند بڼې له لیدلوري سره په ټکر کې و.[160]

## د طالبانو د بالفعل واکمنو له خوا د جنسیت پر بنسټ تبلیغات.

د طالبانو تبلیغات اوس په داسې حال کې هم روان دي چې دا ډله د هېواد چارې پر مخ وړي. دوی د دولتي رسنیو واک په لاس کې لري، تر څو خپل پیغام خپور کړي او نړدې ټول اختلافي اوازونه یا کنترول کړي او یا یې چوپ کړي دي. په داسې حال کې چې د طالبانو چارواکي او ملاتړي د Facebook په څېر د ټولنیزو رسنیو د ځینو پلیټفارمونو څخه بند شوي دي، دوی په نورو کې زیات فعال دي، په ځانګړي ډول X ( پخواني ټویټر) کې.

د تبلیغاتو یوه ستره برخه چې نارینه په نښه کوي، دې پورې اړه لري چې دوی باید څه ډول د ښځینه خپلوانو رویه تنظیم او هغوی تادیب کړي. یو مرکه شوي تشریح کړه چې: 'د مسجد خطیبان نارینه وو ته وایي چې تاسو باید خپلو لونو ته اجازه ورنه کړئ چې په زده کړو یا لاریونونو کې برخه واخلي – که تاسو دا کار وکړئ، نو موږ به له تاسو سره خبرې وکړو. ځینې خطیبان وایي چې ښځې تر ټولو سترې ګناهګارې دي او که ښځې د خپلو مېړونو سره مقاومت کوي، دوی ته باید سزا ورکړل شي'.[161]

په 2021 کې د بالفعل واکمنو په یوه لومړۍ رسنیزه ناسته کې، د طالبانو ویاند ذبیح الله مجاهد وویل چې نوی حکومت به د ښځو د زده کړې او د کار د حقوقو احترام وکړي،[162] خو د طالبانو بالفعل واکمنو ډېر ژر د سختو اقداماتو لړۍ پیل کړه، او د ښځو د اساسي بشري حقوقو څخه یې انکار وکړ. که څه هم د امر بالمعروف او نهی عن المنکر وزارت یو ویاند وویل چې 'شریعت موږ ته اجازه نه راکوي چې ... زور یا زیاتي وکړو'،[163] له هغې وروسته د ښځو د حقوقو په اړوند پرله پسې زیاتېدونکي بندیزونه مستند شوي دي،[164] همدا راز د قوانینو څخه سرغړونکو

160. له بې نومه ځواب ویونکي سره د لیکوال مرکه، تلفیوني مرکه، 15 فبروري 2023. یو بل مرکه شوي د ګواښونکو لیکونو په ګډون د تبلیغاتو په اړه معلومات ورکړل په کومو کې چې عموماً د مدني ټولنې سره کار کونکې ښځې په نښه شوې وې. 'ډېرى رسالې ګواښونکې وې، ځینې یې په دې اړوند لارښونې وې چې څنګه ښه مسلمان ګرځېدای شئ. ګواښونکي لیکونه هغو ځانګړو ښځو ته استول شوي وو چې موږ ورسره کار کاوه، او پکې ویل شوي و چې د دوی کورنیو ته به سزا ورکړل شي'. مرکه شویو همدا راز داسې پاڼې هم لیدلي دي چې پکې خلک ګواښل شوي وو، تر څو خپلې لوڼې ښوونځي ته ونه استوي، او نه ښځو ته اجازه ورکړي، چې په عامو ځایونو کې کار وکړي. له بې نومه ځواب ویونکي سره د لیکوال مرکه، ویډیو اړیکه، 15 فبروري 2023.
161. له بې نومه ځواب ویونکي سره د لیکوال مرکه، ویډیو اړیکه، 15 فبروري 2023.
162. *Al Jazeera*، 'Transcript of Taliban's First News Conference in Kabul'، 17 اګست 2021، <https://www.aljazeera.com/news/2021/8/17/transcript-of-talibans-first-press-conference-in-kabul>، په 28 سپټمبر 2023 ورته لاسرسی شوی.
163. احمد ولید کاکړ، 'In Afghanistan, Vice and Virtue Are Front and Center'، *New Lines Magazine*، 25 اپریل 2022، <https://newlinesmag.com/reportage/in-afghanistan-vice-and-virtue-are-front-and-center/>، په 28 سپټمبر 2023 ورته لاسرسی شوی.
164. بلقیس احمدي او Scott Worden، 'The Taliban Continue to Tighten Their Grip on Afghan Women and Girls'، USIP، 8 دیسمبر 2022، <https://www.usip.org/publications/2022/12/taliban-continue-tighten-their-grip-afghan-women-and-girls>، په 28 سپټمبر 2023 ورته لاسرسی شوی.

ښځو پر ضد د تاوتریخوالي پېښې هم مستندې شوې دي.[165] په حقیقت کې، د امر بالمعروف او نهی عن المنکر وزارت، د ښځو د چارو وزارت کارونه بند او د هغې ځای یې ونیو.

د 2022 د جنورۍ په میاشت کې، طالبانو په کابل کې داسې لوحې ولګولې چې ویل یې د شریعت د قانون تر مخې، مسلمانې ښځې باید حجاب واغوندي.[166] د همدې کال په مۍ کې یو صادر شوي فرمان کې د طالبانو د خوښې وړ حجاب ډول پکې: برقع (چادري) یا نقاب ښودل شوی و. که څه هم په هغه لیکنه کې ویل شوي و چې دا لارښوونه ده نه جبراً لازمي، بیا هم په سرکونو باندې د طالبانو د سرتېرو له خوا ډېرې ښځې وهل شوې وې. د امر بالمعرف او نهی عن المنکر وزارت یو چارواکي دلیل وړاندې کړ چې د نارینه وو له خوا جنسي ځورونه د ښځو تېروتنه ده، هغه وویل چې: 'د حجاب پلې کول د ټولنې د پاکوالي یوه مهمه برخه ده. کله چې ښځې سم حجاب اغوندي، نو په دې ډول په نورو کې د ناوړه چلند مخه نیسي'.[167]

دوه مرکه شویو هغه موضوع مطرح کړه کومه چې د 'تبلیغاتي لومې' په نوم پېژندل کېږي،[168] او ویې ویل چې د طالبانو په مشرتابه کې ځینې خلک په شخصي ډول په عام ژوند کې د ښځو د ونډې پر درلودلو بنیوکه نه کوي، خو دوی د جنسیتي جلا والي له تګلارو څخه ملاتړ ته اړ دي، ځکه چې دوی په تېرو 20 کلونو کې د خپلو تبلیغاتو په موادو کې له دې څخه دفاع کړې ده. د بېلګې په ډول، د طالبانو د یو شمېر لوړ پوړو چارواکو لونې په نورو هېوادونو کې ښوونځي ته ځي. [169] دې مرکه شویو باور درلود چې دا ډول چارواکي د ګوند لیکې څخه پیروي کوي، ځکه چې دوی خپل نارینه سرتېري په دې ویلو سره جګړې ته هڅولي وو، چې دوی له بهرنیانو څخه د افغان ښځو او نجونو ساتنه کوي، او دا باوري کوي چې دوی په یوه 'حقیقي' اسلامي

165. Human Rights Watch، 'Afghanistan: Women Protesters Detail Taliban Abuse'، 20 اکتوبر 2022، <https://www.hrw.org/news/2022/10/20/afghanistan-women-protesters-detail-taliban-abuse>، په 28 سپټمبر 2023 ورته لاسرسی شوی.

166. RFE/RL، 'Taliban Religious Police Erect Banners Ordering Women To Wear Islamic Hijab'، 10 جنوري 2022، <https://www.rferl.org/a/taliban-orders-women-wear-hijab/31647808.html>، په 28 سپټمبر 2023 ورته لاسرسی شوی.

167. هغه همدا راز 'ادعا وکړه چې د طالبانو له واک ته رسېدو د کابل په ښارونو کې چې افغان ښځو کوم ډول کالي اغوستل، په دې سره نارینه جنسي ځورونې ته هڅول کېدل. "دا د ښځو د حقوقو څخه سرغړونه نه ده؛ دا ښځو ته زیاته ازادي ورکوي"، هغه وویل. کله چې ټینګار وشو، هغه جټکه وخوړه. "موږ د خدای په حکم عمل کوو. هغه مهم نه دي چې ښځې څه وایي چې دوی یې غواړي". Susannah George، 'Taliban Morality Police Tighten their Grip on Afghan Women', *Washington Post*، 26 مۍ 2022.

168. له بې نومه ځواب ویونکي سره د لیکوال مرکه، ویډیو اړیکه، 8 فبروري 2023؛ له بې نومه ځواب ویونکي سره د لیکوال مرکه، 8 مارچ 2023. لکه چې یو شنونکي په دې وروستیو کې دلیل ورکړی چې: 'په دې چاپېریال کې لا هم د اسلامي دولت سیمه ییزه څانګه موجوده ده، له بهرنیانو سره د کتنو، د عامه تګلارو پر سر د جوړجاړي او د جهادي موخې سره د خیانت کولو لپاره د تبلیغاتو پر مټ د طالبانو غړي راپاروي ... دا باید یوه شونتیا وبلل شي چې امیر یوازې د شخصي لېوالتیا له امله د سختې جنسیتي توکم پالنې نظام نه پلی کوي، بلکې د دې ثابت باور پر بنسټ، چې د طالبانو اساسي کړۍ یې په پوره غیرت سره غوښتنه کوي'. Andrew Watkins، 'What's Next for the Taliban's Leadership Amid Rising Dissent?'، USIP، 11 اپریل 2023، <https://www.usip.org/publications/2023/04/whats-next-talibans-leadership-amid-rising-dissent>، په 28 سپټمبر 2023 ورته لاسرسی شوی. د ښځو په اړوند د IS-K په تبلیغاتو کې پر طالبانو د نیوکې د طریقې په اړه د بحث لپاره د، Riccardo Valle، 'Islamic State in Khorasan Province's Campaign Against Afghan Women'، *Jamestown Terrorism Monitor* (ټوک. 19، شمېره 17، 7 سپټمبر 2021)، <https://jamestown.org/program/islamic-state-in-khorasan-provinces-campaign-against-afghan-women/>، په 28 سپټمبر 2023 ورته لاسرسی شوی، وګورئ.

169. د بې نومه ځواب ویونکي سره د لیکوال مرکه، ویډیو اړیکه، 8 مارچ 2023. همدا راز د سباوون صمیم، 'Who Gets to Go to School? (3): Are Taleban Attitudes Starting to Change from Within?'، Afghanistan Analysts Network، 7 فبروري 2022، وګورئ. <https://www.afghanistan-analysts.org/en/reports/rights-freedom/who-gets-to-go-to-school-3-are-taleban-attitudes-starting-to-change-from-within/>، په 28 سپټمبر 2023 ورته لاسرسی شوی.

ټولنه کې و اوسېږي. د یو مرکه شوي په ټکو، 'که تاسو [طالبان] اوس ښځو ته د ټولو هغه څه اجازه ورکوئ، د کومو لپاره چې تاسو په جمهوریت [پخواني حکومت] نیوکه کړې وه، نو ستاسو سرتیري به خفه شي او حیران به شي چې دوی د څه لپاره جنګېدل'.[170] کله چې د واک تر لاسه کولو وروسته د طالبانو جنګیالي کابل ته راورسېدل، د ټیټې کچې ډېرى سرتیري د خلکو د ژوند په طریقه او هغه طریقه سخت حیران شوي وو چې ښځې لا هم په سرکونو او دفترونو کې لېدل کېدې، سره له دې چې اوس واک د طالبانو په لاس کې و. یو مرکه شوي وویل چې د NGO لپاره پر کار کولو او ښوونځیو ته پر تګ د طالبانو له خوا پر ښځو بندیز، د طالبانو د سرتېرو په منځ کې دې داخلي غبرګون ته د ځواب، او د داخلي همغږۍ د لومړیتوب په اړوند، یوه ستراتیژیکه پرېکړه ده.[171]

## پر لیکه ځایونو کې د ښځو پر ضد د ښځو کارول

په 2021 کې د طالبانو له واک ته رسېدو راهیسې، په ټولنیزو رسنیو کې، په ځانګړې ډول X (پخواني ټویټر) کې د طالبانو د ملاتړو موادو یوه چاودنه رامنځ ته شوې. د طالب پلوه موادو دا خپریدل له هغه څه سره مل وي، کوم چې داسې برېښي چې د هغو کارونکو د په نښه کولو لپاره ښه منظم شوي وي، څوک چې پر طالبانو نیوکې پوسټ کوي، په ځانګړې ډول ښځې. د FGD یوه ګډونوال چې له افغانستان څخه بهر ژوند کوي څرګنده کړه: 'ما په ټولنیزو رسنیو کې خپل نظرونه [د طالبانو د مخالفینو سره] شریکول – ما ته ګواښ وشو – "که ته دې کارونو ته دوام ورکړې؛ نو ته به ونه شې کولای بېرته راستون شې، او که راشې نو اعدام به شې"'. [172]

د مرکه کوونکو او د FGD د ګډون کوونکو تر منځ یوه پراخه انګیرنه موجوده وه چې د طالبانو په پلوۍ د ټولنیزو رسنیو ډېرى هغه حسابونه جعلي دي، چې د ښځو په نوم جوړ شوي دي. په هرصورت، ځینې یې ریښتیني دي، په لوېدیځ کې د مشهورو فعالو میرمنو د یوې ډلې په ګډون، چې ځانونه نسبتا آزاد ښیي (په دې معنی چې د دوی د کالیو طریقه او په عام ډول ښکارېدلو ته به د طالبانو په واکمنۍ کې هیڅکله اجازه ور نه کړل شي)، بیا هم د طالبانو په ملاتړ کې پوسټونه کوي. 'تاسو په ټولنیزو رسنیو کې ګورئ چې ښځې په لوېدیځ کې هوسا ژوند کوي؛ خو د طالبانو ملاتړ کوي – دلته له ازادۍ خوند اخلي، ساحل ته ځي. هغوی وایی طالبان ښه کارونه کوي'.[173]

د ښځو د حقوقو فعالان په ټولنیزو رسنیو کې د طالبانو د چارواکو او طالب پلوه ښځو دواړو لپاره یو ځانګړى هدف ګرځېدلی دی. د طالبانو بالفعل واکمن د ښځو لاریون کوونکي د ښځو حقوقو ته د درناوي په غوښتنه تورنوي، او دوی د دې لامل دي چې افغانستان تر بندیزونو لاندې دی، او خلک کافي خواړه نه لري. طالبان هم بیا د افغان ښځو د حقوقو فعالان تورنوي چې په بهر کې د دوی د پناه غوښتنې د ادعاوو د زیاتولو لپاره لاریونونه کوي او د بهرنیانو له خوا ورته لاربښوونه کیږي.[174] دا ډول تورونه د بدنامولو او د ښځینه فعالانو او پر ښځو د طالبانو د سختو بندیزونو د مخالفینو پر وړاندې د افغان ولس د نظر بدلولو لپاره کارول کیږي.

170. له بې نومه ځواب ویونکي سره د لیکوال مرکه، ویډیو اړیکه، 8 فبروري 2023.
171. *Ibid*.
172. د FGD بې نومه ګډونوال، استانبول، 21 فبروري 2023.
173. د بې نومه ځواب ویونکي سره د لیکوال مرکه، ویډیو اړیکه، 8 مارچ 2023.
174. یو مرکه کونکي دا هم وویل چې 'په پاکستان کې د جلاوطنۍ په حال کې ښځینه فعالانې موږ ته وایي چې ځینې ښځې یې بېرته ستنیدو ته هڅوي او وایي چې موږ باید طالبان ومنو؛ موږ باید د هغه څه اطاعت وکړو چې دوی یې وایي'. له بې نومه ځواب ویونکي سره د

## د IS-K تبليغات

### د IS-K نارينه په نښه کونکي تبليغات

د دې ډلو د ايډيالوژيکو توپيرونو سره سره، هغه طريقه چې د IS-K له خوا د نارينه وو د دندو په اړه تر بحث لاندې نيول کېږي، د طالبانو له تبليغاتو سره ډېرې ورته والي لري. د IS مرکزي تبليغات هغه بېلګه بيز نارينه هڅوي چې په مستقيم ډول له تاوتريخوالي په ډک جهاد کې ښکيل وي.[175] هغه نارينه چې د دې قضيې لپاره مبارزه کوي د 'ريښتينو نارينه وو' په توګه بلل کېږي او په لوېديځو هيوادونو کې د 'ښځونکو' نارينه وو سره توپير ورکول کېږي.[176] د IS مرکزي تبليغات کله ناکله د ښځو په اړه وړانديزونه لري چې په لومړۍ کرښه کې جنګيږي، سره له دې، احتمال لري، چې په ډېرو مواردو کې دا د طالبانو په څېر د نارينه وو د شرمنده کولو لپاره وي، نه ددې لپاره چې ښځې د وسلې پورته کولو ته رابولي.[177]

په معياري موضوعاتو کې يې د اسلامي ټولنې او په ځانګړې توګه د ښځو د خونديتوب او عزت د ساتنې لپاره د نارينه مسؤليتونه شامل دي، که څه هم يوې اسلامي ټولنې ته اشاره کوي چې د طالبانو په پرتله ډېر نړيوال تشخص لري. د IS-K هغه تبليغات چې موخه يې د نارينه وو جلب او جذب وي، همدا راز د په دې ژوند کې د مېړمنو او په اخرت کې د **حورو** (ښکلې پېغلې) په بڼه د انعاماتو ژمنې کوي، چې د IS-K په وينا دا حورې به د هغو نارينه ووپه خدمت کې وي چې د دې ډلې لپاره ځانمرګي بريدونه تر سره کوي. د څېړنې برخه اخيستونکو دا د احتمالي جلب او جذب لپاره خورا پياوړې هڅونه ګڼلې.[178]

### د IS-K په تبليغاتو کې ښځې

د IS-K په تبليغاتو کې ښځې د پام وړ ونډه لري، ډېرې وختونه د IS-K د دښمنانو د قربانيانو او د ژغورنې په اړتيا کې د بنديانو په توګه.[179] په دې تبليغاتو کې عموماً د IS د ښځو او ماشومانو يادونه کېږي، چې په سوريه کې نيول شوي، او د IS-K د کورنيو چې په افغانستان کې بنديانې شوي دي. په پرله پسې ډول د IS-K د ښځو د بنديتوب له امله د هغوی عزت ته د زيان رسېدو د نظر د جلب او جذب او مالي مرستې د تر لاسه کولو لپاره د راټولېدو د يوې نقطې په توګه کارول کېږي.[180] د IS-K پر ضد د پخواني حکومت د امنيتي عملياتو په ترڅ کې د IS-K د ښځو

لیکوال مرکه، ويډيو اړيکه، 15 فبروري 2023.

175. Elizabeth Pearson، ‘The Case of Roshonara Choudhry: Implications for Theory on Online Radicalization, ISIS Women, and the Gendered Jihad’، *Policy and Internet* (ټوک.8. شمېره، 1، 2015)، مخ.17.

176. *Ibid*.

177. Nelly Lahoud، *Empowerment or Subjugation: An Analysis of ISIL’s Gendered Messaging* (New York, NY: UN Women), 2018، مخ. 19.

178. له بې نومه ځواب ويونکي سره د ليکوال مرکه، ويډيو اړيکه، 1 فبروري 2023؛ له بې نومه ځواب ويونکي سره د ليکوال مرکه، ويډيو اړيکه، 6 فبروري 2023؛ له بې نومه ځواب ويونکي سره د ليکوال مرکه، تليفون، 15 فبروري 2023؛ د FGD بې نومه ګډون کونکی، پر ليکه، 3 فبروري 2023؛ د FGD بې نومه ګډون کوونکی، استانبول، 21 فبروري، 2023؛ له بې نومه ځواب ويونکي سره د ليکوال مرکه، ويډيو اړيکه، 6 اپريل 2023.

179. Valle، ‘Islamic State in Khorasan Province’s Campaign Against Afghan Women’.

180. د بېلګې په توګه وګورئ، Vera Mironova، ‘Crowdfunding the Women of the Islamic State’؛ Franz J Marty، 'له ځانه اعلان شوي #اسلامي دولت خراسان ولايت (#DaeshKhorasan #ISKP) له 21م نومبر 2020 راهيسې په #کابل (#Kabul)

وژنه - د بیلګې په توګه، په 2015 کې په زابل کې - بله عامه موضوع ده چې د IS-K له خوا د جلب او جذب لپاره کارول کیږي.[181]

که څه هم د IS-K ځینې تبلیغات وړاندیز کوي چې دا ډله د طالبانو په پرتله ښځو ته ډېره استازولي ورکوي، IS-K هغه ښځې شیطاناني بولي چې د پخواني حکومت تر واک لاندې یې په عامه ژوند کې یوه دنده تر سره کړې وي، او د ښځو د حقونو لپاره د دې ډلې د انګېرل شوي ملاتړ سخت محدودیتونه په ګوته کوي. د IS-K تبلیغات په ځانګړې توګه ښځینه خبریالانې په نښه کړې، چې د دوی د وژنې غوښتنه هم پکې شامله ده.[182]

په افغانستان کې د ښځو پر چلند، او خپله په طالبانو چې افغان میرمنو ته اجازه ورکوي تر څو په 'ارتداد' کې وغورځېږي، پر نیوکې سربیره، IS-K بیا د نورو هیوادونو د جنسیت پر تګلارو هم تبصرې کوي. د مثال په توګه، د 2022 په دوبي کې، د IS-K **خراسان غږ (د خراسان غږ، د پښتو ژبې خپرونه)** په وروستیو اصلاحاتو د پام وړ تفصیلي نیوکې وکړې، کومو اصلاحاتو چې په سعودي عربستان کې د جنسیتي جلا والي مقررات اسانه کړي وو.[183] د 2021 په اګست کې، IS-K د مسلمانو میرمنو[184] د نیولو له امله پر چین نیوکه وکړه، او طالبان یې له دې امله د چین سره د اړیکو ساتلو له امله تر اعتراض لاندې ونیول، چې چین د لږکیو مسلمانو یوغوریانو سره ظلم کوي.[185]

د ښځینه وو د جلب او جذب لپاره تبلیغات

د ښځو د مناسو دندو په اړه د IS-K خبرپاڼې وخت په وخت بدلون پیدا کوي، او همدا راز د خپرونو ژبې او بڼې یې توپیر لري. په کومه لهجه چې ښځې مخاطبې کیږي، په هغې کې ځواکمنتیا څخه نیولې تر محدودیتونو او سپک ګڼلو پورې پکې شامل دي. تر یو بریده دا توپیر د خوځښت

کې د توغندویي برید په اړه بله خبرپاڼه خپره کړه. د نورو تر څنګ، دې ډلې د کابل په شنه سیمه د نورو بریدونو ګواښ کړی دی، که د دوی بندیانې 'ځوېندې' خوشې نه شي، ټویټر/X پوسټ، 29 نومبر 2020، <https://twitter.com/franzjmarty/status/1333154533736853509>، په 28 سپټمبر 2023 ورته لاسرسی شوی؛ *Afghan Analyst*، '#ISKP's Al-Azaim media announced to release a new #propaganda #video titled: "Don't cry sister!" "دا د زړه دردونکې او غیرت لړزونکې ویډیو نوم دی چې د اسلامي امت (ISKP) د بندیانو خویندو د غچ اخیستنې لپاره د ګواښ په توګه چمتو شوې"، په دې اعلان کې ویل شوي دي، د ټویټر/X پوسټ، 16 نومبر 2022، <https://twitter.com/AfghanAnalyst2/status/1592913257311911936>، په 28 سپټمبر 2023 ورته لاسرسی شوی.

181. Webber او Pannier، 'The Islamic Movement of Uzbekistan's Enduring Influence on IS Khurasan'.
182. د 2020 د دیسمبر او 2021 د مارچ تر منځ موده کې د څلورو ښځینه ژورنالستانو تر وژلو وروسته، د IS-K یوې خپرونې استدلال وکړ، هغه ښځې چې د دیموکراسۍ ملاتړ کوي مرتدې دي او له همدې امله نه یوازې مشروع، بلکې لازمي هدفونه دي. په دې کې ژورنالیستان تر پوځیانو بدتر او ښځینه خبریالانې تر نارینه خبریالانو بدترې وبللې، ځکه چې دوی نورې ښځې هڅولې چې په سیاست، قانون او تعلیم کې کار وکړي. Valle، 'Islamic State in Khorasan Province's Campaign Against Afghan Women'.
183. *MEMRI*، 'Article In Issue Nine Of ISIS-K Magazine "Voice Of Khurasan" Criticizes Saudi Crown Prince'، 12 جولای 2022، <https://www.memri.org/jttm/article-issue-nine-isis-k-magazine-voice-khurasan-criticizes-saudi-crown-prince-muhammad-bin>، په 28 سپټمبر 2023 ورته لاسرسی شوی.
184. Lucas Webber، 'A History of the Islamic State's Media Warfare Against China'، *Militant Wire*، 27 سپټمبر 2021، <https://www.militantwire.com/p/a-history-of-the-islamic-states-media>، په 28 سپټمبر 2023 ورته لاسرسی شوی.
185. *Ibid*.

په داخل کې د تنوع او وېش ښودنه کوي، کوم څه چې د ښځو د چلند د جلا جلا توقعاتو سره له مختلفو ټولنیزو کلتوري شرایطو څخه جوړ دی.[186]

د جنسیت د دندو په اړه د روایتونو د ثبات دا کمښت هم د IS د ایډیالوژۍ په داخل کې د کړکیچ ښودنه کوي. د منځني د منځني ختیځ په اړه وروستي علمي ادبیاتو د ښځو د استازولۍ او دندو په اړه تضادونه په ژوره توګه څېړلي دي، کوم چې د IS په مرکزي تبلیغاتو کې په ښکاره ډول لیدل کیږي. د ښځو د استازولۍ لهجه او تشریحات په ځانګړې توګه د ټاکل شوي ټاکنیزې حوزې پورې اړه لري. د بېلګې په توګه، څېړونکو وموندله چې انګلیسي او فرانسوي مجلې هغه غږ ته داسې پاملرنه کوي، لکه دا چې د میرمنو لیدلوري په اړوند حساس وي، په داسې حال کې چې په همدې مهال خپرېدونکې عربي ژبې مجلې داسې نه وې.[187]

د IS د جنسیت پیغامونو څخه د UN Women تحلیل موندلې چې دا ډله 'ښځې هڅوي تر څو دله دې ډلې سره یوځای کېدو له لارې خپله استازولي وښیي، او بیا یې ومني تر څو د دې ډلې نړیوال لید ته وده ورکړي. د [IS] ISIL په رسمي خپرونو کې د ښځو د غږ استازولي څرګندوي، په داسې حال کې چې حقیقي پیغام ورکول یې هغو تګلارو ته وده ورکوي، کومې چې ښځې تابع ګرځوي، د جنسیتي جلا کولو او جنسي وینځېتوب په ګډون'.[188] نورو بیا هغې طریقې ته اشاره کړې، په کومه کې چې IS ځان د ښځو د ازادونکو په توګه وړاندې کوي، ادعا کوي چې د IS له خواه اداره کېدونکې سیمې ته په سفر کولو سره، ښځې کولای شي 'ځان پاک کړي او خپل حقوق بیرته ترلاسه کړي'.[189] په داسې کولو سره، IS ادعا کوي چې دوی ښځو ته استازولي ورکوي او 'ښځې د مخکښو اتلانو په توګه انځوروي'، څوک چې 'راتلونکو نسلونو ته [ارزښتونه] لیږدوي'.[190] په هر حال، د وړاندیز شوې استازولۍ په اړه دا تبلیغات روښانه و — په یو سرلیک کې راغلي: 'د [خپلو] مېړنو څخه د ښځو اطاعت د دوی دیني دنده ده'.[191]

د مرکزي IS یا TTP برعکس، IS-K په ځانګړې توګه د ښځو لپاره مجله نه لري. په هر حال، دا ډله په خپلو خپرونو کې بیا بیا ښځې مخاطبوي، او په ختیځ ننګرهار ولایت کې یې د ښځو لپاره ځانګړي رادیویي پروګرامونه جوړ کړي وو، کله چې IS-K هلته سیمه په واک کې درلوده، چې په دې کې د هغو حقوقو په اړه هم بحثونه شوي وو چې ښځو ته د شریعت په رڼا کې ورکړل شوي دي.[192] یوه څېړنه چې د خلافت غږ راډیو سټیشن څخه یې مینځپانګه لیکل شوې او تحلیل شوې، وموندله چې په اسلام کې د ښځو د حقونو په اړه بحث د اداري پوښتنو ته په حیرانتیا سره څرګند و. د بېلګې په ډول، د 2016 د مۍ میاشتې له یوې خپرونې څخه په ژباړل شوي متن کې په دې سیمه ییزو کړونو اعتراض شوی و چې ښځې یې د پرېکړې کولو له پروسې څخه خارجې کړې وې، او دوی ته یې په دې برخه کې هېڅ اختیار نه و ورکړی چې دوی له چا سره واده

186. Jadoon et al.، 'Breaking the Glass Ceiling?'، مخ. 15.
187. Lahoud، *Empowerment or Subjugation*، مخ. 9؛ همدا راز د Dallin Van Leeuven، Dyan Mazurana او Rachel Gordon، 'Analyzing Foreign Females and Males in the Islamic State in the Levant (ISIL) Through a Gender Perspective'، in Andrea de Guttry، Francesca Capone او Christopher Paulussen (eds)، *Foreign Fighters under International Law and Beyond* (The Hague: TMC ASSER Press, 2016)، مخ. 97-120، هم وګورئ.
188. Lahoud، *Empowerment or Subjugation*، مخ. 3. په اصل ټینګار.
189. Termeer او Duyvesteyn، 'The Inclusion of Women in Jihad'، مخ. 476.
190. *Ibid*.
191. Lahoud، *Empowerment or Subjugation*، مخ. 10.
192. Mielke او Miszak، 'Making Sense of Daesh in Afghanistan'، مخ. 49.

کوي او په دې ډول له دوی سره داسې چلند شوی لکه وینځې.[193] دې مطالعه کې راپور ورکړل شوی و چې د IS-K په مرکز کې د تبليغاتو خپروني ښځو سره 'د هغو حقوقو ژمنه کوي چې دوی ته د قرأن له خوا ورکړل شوي دي – هغه حقوق چې دوی ورڅخه د سیمه ییزو دودونو او رواجونو ("کلتور") او لوېدیځو اغېزو له امله بې برخې شوي دي'.[194]

په دې وروستیو کې، د IS-K په ډیجیټل خپرونو کې د ښځو په اړه غږ توپیر لري. له یوې خوا، دا ډول خپرونو ښځو ته وعده ورکړې چې IS-K به ورڅخه د طالبانو په پرتله خورا ښه ساتنه وکړي،[195] بلکې دوی د 'بې هوده کارونو، د میړونو نافرمانۍ، غیبت او نورو لویو ګناهونو' له امله تأدیبوي، او پر هغوی غږ کوي چې د IS-K لپاره د پیسو د راټولولو لپاره خپلې ګاڼې وپلوري.[196]

د جنسیت له عینکو څخه د جلب او جذب فعالیتونو او تبليغاتي موادو ته کتنه کول په افغانستان کې د VEO په روایتونو کې د جنسیت مرکزي ونډه په ګوته کوي. د ښځو لپاره د VEO له خوا هڅول شوې او پلې شوې سختې دندې د دا ډول ډلو لپاره د جلب او جذب یوه ګټوره وسیله ګرځي. طالبان او IS-K دواړه هڅه کوي چې د خپلو ګټو لپاره له جنسیتي متحرکاتو د وسیلې په توګه کار واخلي، او د 2021 کال د اګست راهیسې یې په افغانستان کې د بدلیدونکي چاپیریال سره د جنسیت په اړه خپل پیغامونه برابر کړي دي.[197]

193. *Ibid*.
194. *Ibid*.
195. خراسان غږ (پښتو ژبه مجله)، 15مه ګڼه، دیسمبر 2022.
196. خراسان غږ (په انګلیسي ژبه مجله)، 1 ګڼه، فبروري 2022.
197. Donnelly، 'Demystifying Gender Analysis for Research on Violent Extremism'.

# پایله

د دې څیړنې موندنې د نورو څیړونکو استدلال تاییدوي چې VEO د خپلو موخو د پرمخ وړلو لپاره د جنسیتي متحرکاتو او ناهیلۍ په کارولو کې خورا مهارت لري، او دا چې نړیوال تګلاره جوړونکي دا چاره د دوی د خطر په برخه کې له پامه غورځوي. [198] د ښځو له استازولۍ څخه له انکار څخه، په افغانستان کې نور VEO ناوړه ګټه پورته کوي، کوم حالت چې د طالبانو له واک ته رسېدو راهیسې د ښځو د حقوقو او ازادیو د زیاتیدونکي فشار له امله سخت شوی دی. دا ادعاوې چې افغان مېرمنې تر ګواښ لاندې دي او خوندیتوب ته اړتیا لري د VEO له خوا د احتمالي جلب او جذب او سیمه ییز ملاتړ ترلاسه کولو لپاره کارول کیږي، په داسې حال کې چې VEO له همدې مېرمنو څخه د خپلو ګټو لپاره کار اخلي. د VEO په روایتونو او د جلب او جذب په ستراتیژیو کې د جنسیت مرکزي ونډه په ټولو برخو کې خورا پام ته اړتیا لري. خو دا په افغانستان کې ځانګړې اهمیت لري؛ چېرته چې ښځې ډېرې وختونه د تګلارې له بحثونو او پرېکړو څخه ایستل شوې دي – هم د بالفعل واکمنو له خوا او هم د نړیوالې ټولنې له خوا.

د دې پروژې لپاره ترسره شوي مرکې او FGD مهم درک وړاندې کوي. له دې څیړنې تر لاسه شوې مهمې موندنې عبارت دي له:

- د کورنۍ د مالي ملاتړ او ساتنې اړوند توقعات له VEOs سره د نارینه وو د یو ځای کېدو او د دې کار د تر سره کولو لپاره د خپلوانو پر ښځو باندې د دې کار اغېز تر ټولو مهم دلیل ګڼل کیږي. د ځواب ورکوونکو له انده دا موضوع د زیاترو نارینه لپاره تر مذهبي ملاحظاتو غوره ده. برعکس، داسې تصور کېده چې ښځې له VEO څخه د ملاتړ یا ورسره یو ځای کېدو په خاطر زیاتره د مذهبي ایډیالوژۍ تر اغېز لاندې وي. د دې حد په اړه اندونه مخلوط و، تر کومه حده چې ښځو کولای شول د VEO د جلب او جذب او ګډون په برخه کې په خپلو بچیانو څومره اغېز درلودلای شي؛ ځوابونو د سیمو، توکمیزو ډلو او ټولنیز اقتصادي وضعیت تر منځ احتمالي توپیرونو ته اشاره وکړه، خو په پرتلیز ډول د مرکې کوچنۍ برخې هغه پایلې محدودې کړې، چې د دې پوښتنې په اړه تر لاسه کېدای شي.
- که څه هم د ډېری ځواب ویونکو په منځ کې لومړۍ انګیرنه دا وه چې میرمنو د VEO په تیرو دودیزو داخلي ملاتړ دندو کې نږدې هېڅ ونډه نه ده درلودلې، یوې ژورې څېړنې موندلې ده چې داسې ګڼ حالتونه موجود و چېرته چې دوی نور ډول مسئولیتونه په غاړه اخیستي دي. په داسې حال کې چې په تاوتریخوالی کې د میرمنو مستقیمه ښکیلتیا کمه ده، هم ځواب ویونکي او هم شته څېړنه د داسې حالتونو یادونه کوي چېرته چې ښځې د مرستو راټولولو، د بریدونو ځایونو په لټون، د کوچنیو وسلو کارولو، جلب او جذب او دیني تبلیغ په برخو کې ښکېلې وې. د دې پروژې محدوده ساحه په دې معنی ده چې موږ د دې مثالونو په اړه د قضیې پراخه تفصیلات نه لرو او نورو څېړنو ته اړتیا ده (لاندې سپارښتنې وګورئ)
- د څیړنې برخه والو د 2010 مې لسیزې له نیمایي راهیسې د ښځو لپاره د مدرسې د غېر منظمو زده کړو کې د پام وړ ودې، او د 2021 د اګست له میشتې څخه پکې د پام وړ چټکتیا

198. د بېلګې په توګه وګورئ، *Ibid*.

راپور ورکړی دی. په داسې حال کې چې ټولې مدرسې د تاوتریخوالی ایډیالوژیو تبلیغ نه کوي، ځواب ویونکو ومنله هغه خلک چې له مخکې څخه په سخت دریځې ایډیالوژۍ کې مهارت لري، د IS-K د جلب او جذب لپاره یو اسانه هدف ګرځي. سربېره پردې، واک ته د طالباو له رسېدو راهیسې د مدني ټولنې د غړو ورکېدل یا چوپ کېدل، دا معنا لري چې په اوسني چاپېریال کې د VE ایډیالوژیو په وړاندې هېڅ متقابل اندول نه شته.

- د مخ پر زیاتېدونکې لیک لوست، تکنالوژۍ ته لاسرسی او په کور کې د زنداني کېدو او د طالبانو له خپلو زیاترو اساسي حقونو څخه محرمیت، ښایي ځینې ځواني ښځې د IS-K پر خوا ور ټېله کړي. د څېړنې ګډونوالو ځانګړې اندېښنې ښودلې چې شونې ده غیر متشددو؛ خو بنسټپالو ډلو کې فعالې میرمنې (کومې چې د تېر حکومت په وخت کې د پام وړ ځای درلود تر څو خپله استازولي وکاروي او تبلیغ وکړي) له نورو VEO سره د یوځای کیدو له لارې، پر دې ډلو د طالبانو محدودیتونو ته ځواب ووایي. د VEO په فعالیتونو کې د یو شمېر افغان مېرمنو په پراخه کچه د ګډون شونتیا د IS د نورو څانګو سره د وروستۍ تجربې په نظر کې نولو سره ممکن بریښي، کومو چې د سخت دریځو شویو ښځو لپاره دا شونتیا ښودلې چې پر لیکه تر احتمالي نویو غړیو پورې لاسرسی پیدا کړي.
- طالبان او IS-K دواړه په پرلیکه ځایونو کې خورا فعال دي او دواړه په ځانګړي ډول داسې پیغامونه خپروي چې موخه یې ښځې وي. IS-K په ځانګړې توګه له پرلیکه تبلیغاتو څخه کار اخلي؛ ترڅو ښځو ته بلنه ورکړي چې له دې ډلې سره یوځای شي او ملاتړ یې وکړي. په ورته وخت کې داسې ښکاري چې طالبان په پرلیکه ځایونو کې د ښځو او نارینه وو څخه د ښځو د حقوقو د مدافعینو په توګه کار اخلي. دا هڅې د اسلام ضد او افغانیت ضد ټاپو وهلو له لارې د مخالفو ښځو د مشروعیت ځپلو لپاره کارول کېږي.

# سپارښتنې

په افغانستان کې اوسني وضعیت ته د رسېدګۍ په اړوند د ټګلارو جوړول خورا ننګونکي دي. سره له دې، د ټګلارو جوړونکو او بسپنه ورکونکو ته لاندې سپارښتنې عملي اقدامات وړاندې کوي، کوم به چې د VEO د تبلیغاتو او جلب او جذب د خپرېدو په مخنیوی کې مرسته وکړي.

- د ښځو د بنسټپالې کېدو او جلب او جذب په برخه کې د ودې د تمایلاتو له نږدې څخه څارنه او مستند کول. د بنسټپالو شویو ښځو د پېښو د تاریخونو او هغې لاو په اړه لا زیاتې څېړنې ته اړتیا ده، کومې لارې چې دوی په VE کې د ښکېل کېدو لپاره نیولې وې. د VE ټول څېړونکي وهڅوئ - نه یوازې هغه چې په جنسیت تمرکز لري – تر څو د ښځو او انجونو په اړه پوښتنې وکړي، او له VE سره د ښکیلتیا لپاره د دوی د دندو او د دوی په محرکاتو کې راپورته کیدونکي نموني مستندې او تحلیل کړي. د VEO له خوا د اجباري ودونو او له ښځو څخه د جنسي ګټې اخیستنې د نورو کړنو په اړه نورې ځانګړي څېړنې ته هم اړتیا ده.
- د تاوتریخوالی په اړوند د ښځو د درک شویو رویو په اړه د VEO د تعمیماتو سره د مقابلې لپاره د ټګلارو بنسټ جوړولو څخه ډډه کول. پورتنۍ موندنې د VEO سره د ښځو د چلند په اړه یو لنډ انځور ته اشاره کوي؛ د افغان میرمنو د نظرونو، او دې اړه چې څنګه توپیر

لري (د بیلګې په توګه، د سیمې، مدني حالت، ټولنیز اقتصادي وضعیت او تعلیمي کچې پر بنسټ) لا زیاتو څېړنو ته اړتیا ده.

- د سیمه ییزو حکومتونو ملاتړ کول، ترڅو په اغیزمنه توګه اتباع سره یوځای کړي — د میرمنو او نجونو په ګډون — څوک چې په بل ځای کې له VEO سره ښکیل وي، او د دوی د جنسیت پر بنسټ ځانګړې اړتیاوې په نظر کې ونیسي، تر څو لا هم د IS-K د احتمالي جلب او جذب لپاره د ګټورې برخې ګرځېدو څخه د دې خلکو مخنیوی وکړي.
- په دري، پښتو، ازبکي او نورو سیمه ییزو ژبو د پرلیکه تبلیغاتو څارنه باید د جنسیت یوه روښانه برخه ولري، چېرته چې د ښځو او نجونو په نښه کولو پیغامونه په ځانګړې توګه تعقیب او ارزول کیږي.
- د طالبانو (او تر کمې اندازې د IS-K) دا وړتیا چې د ټولنیزو رسنیو په لویو پلیټفارمونو خپل تبلیغات خپاره کړي، دوی ته ځواکمن لاسرسی ورکوي او باید نظارت یې وشي. باید په تخنیکي شرکتونو نور فشار واچول شي، تر څو د دوی د بشري حقوقو له مکلفیتونو سره موافقت ته وهڅول شي او ډاډ ترلاسه شي، چې زیان رسونکي توکي — د هغو په ګډون چې موخه یې د VEO جلب او جذب یا د هغو مېرمنو ګواښل وي چې د VEO د جنسیت پر بنسټ روایتونه ننګوي - په چټکۍ سره کشف او لرې کیږي. د موادو لیرې کول باید د یوې رڼې پروسې له لارې ترسره شي چې دا یقیني کړي چې دا ډول اقدامات په غیرقانوني توګه د بیان ازادي نه محدودوي. د ملي تګلاو جوړونکو لپاره، د دوی د واک په حوزه کې د پرلیکه افغان ښځینه فعالینو په وړاندې د ناوړه چلند راپورونو د ساتنې، څېړنې او ځواب ویلو لپاره اقدامات وکړئ.
- د VEO جنسیت روایتونه باید په سمدستي توګه په هغو پلیټفارمونو په لاسرسي وړ ژبه وننګول شي او مقابله یې وشي، کوم پلیټفارمونه چې د افغانانو له خوا په پراخه کچه کارول کیږي.
- د VEO او د دوی له تبلیغاتو سره د مبارزې لپاره د ښځینه فعالانو هڅولو او ملاتړ ته دوام ورکړئ، دوی ته د پلیټفارمونو د چمتو کولو په ګډون، تر څو له تګلارو جوړونکو سره نېغ په نېغه په اړیکه کې وي او خپلو فعالیتونو ته په خوندي ډول دوام ورکړي. په سملاسي ډول هغو ښځو ته دبېړنیو بشري ویزو په چمتو کولو سره مرسته وکړئ، چې له احتمالي ګواښونو سره مخ دي. د ښځو په وړاندې د طالبانو د بالفعل واکمنو د سختو قوانینو د پایلو په اړه په پرلیکه بحثونو کې د ګډون لپاره د باور وړ نارینه افغان غږونه په نښه او ښکیل کړئ، په داسې حال کې چې په عام ژوند کې د ښځو پر ګډون د طالبانو د محدودیتونو له پیاوړتیا څخه ډډه کوي.
- د طالبانو په بالفعل واکمنو فشار وارد کړئ، تر څو د ښځو د حقوقو په اړه ټول محدودیتونه لیرې کړي، د دې لپاره چې خپل نړیوال مکلفیتونه او د ښځو حقونه دواړه وساتي. د جنسیت پر بنسټ د هغو سختو اصولو له دود کولو او پیاوړي کولو، چې د ښځو بشري حقوق کمزوري کوي، او ښځې د ناوړه ګټې اخیستنې پر وړاندې زیات زیان رسېدونکې ګرځوي، پر وړاندې باید د هغو اقداماتو د یوې برخې په توګه چلند وشي، تر څو د VEO له خوا له تاوتریخوالي ډکې سخت دریځی او تبلیغاتو او جلب او جذب سره مبارزه وشي.
- د جنسیت پر بنسټ د توپیري چلند او جنسي او جنسیت پر بنسټ تاوتریخوالي په مقابل کې د خوندیتوب لپاره له اقداماتو څخه ملاتړ ته دوام ورکړئ. دا ډول اقدامات باید د تګلارو او پروګرامونو لازمي برخې وي، چې موخه یې د VEO له جلب او جذب او تبلیغاتو سره مبارزه وي.

# د لیکوالانو په اړه

**Lucy van der Kroft** یوه خپلواکه څېړونکې ده چې په منځني ختیځ او افغانستان تمرکز لري. نوموړې په UK کې مېشت د خطر مخکښنې مشورتي اداري لپاره د منځني ختیځ د لوړ پوړې شنونکې، په کابل کې د تګلارې د څېړنې سازمان لپاره د پروګرام د افسرې، او په Amnesty International کې د افغانستان د څېړونکې په توګه کار کړی. نوموړې له St Andrews له پوهنتون څخه د منځني ختیځ او مرکزي اسیا د امنیتي مطالعاتو کې د ماسترئ سند، او له Durham پوهنتون څخه په عربۍ او د منځني ختیځ او اسلامي مطالعاتو کې د لسانس سند لري.

**Sonya Merkova** د سولې او پخلاینې د برخې په ګډون، په افغانستان کې پر ښځو او بشري حقوقو له تاوتریخوالي څخه د ډکې سخت دریځۍ د اغېزو په اړوند د بشري حقوقو د څېړنې د تر سره کولو پراخه تجربه لري. نوموړې په افغانستان کې د Amnesty International او UNAMA په څېر سازمانونو سره د VE د بشري حقوقو د اغیزو په اړه ډېری څېړنیزې پروژې ډیزاین او رهبري کړي دي او یو شمیر څېړنیزې مقالې یې چمتو کړې. Sonya له UN Inter-Regional Crime and Justice Research Institute (د ملګرو ملتونو د جنایي او عدالت څېړنې د بین منطقه یي انستیتیوت) څخه په نړیوالو جرمونو او عدالت کې LLM لري او له City University, London څخه په نړیوال سیاست او د بشري حقوقو قانون کې ماسټري لري.

**حوریه مصدق** یوه تجربه لرونکې څېړونکې، د بشري حقوقو کارپوهه او د ښځو د تحلیلي شبکې رئیسه ده چې دا پروژه یې ترسره کړې ده. نوموړې، د European Institute of Peace او Amnesty International په ګډون، د مختلفو نړیوالو سازمانونو لپاره د لوړ معیار څېړنې او تحقیقاتو د چمتو کولو کې له 20 کلونو څخه زیاته تجربه لري. د هغې د تمرکز ساحې بشري حقوق، جنسیت، سوله او پخلاینه، او له تاوتریخوالي ډکه سخت دریځي ده. حوریه له کابل پوهنتون څخه د ژورنالیزم په برخه کې لیسانس او له New York پوهنتون څخه د انتقالي عدالت په برخه کې ډیپلومه لري.